# د افغانستان اساسی حقوق

# حقوق اساسی افغانستان

## دقضائی روزنی کورس

## کورس آموزش قضائی

Ketabton.com

خپرندویه اداره:
دافغانستان د عدلی او قضائی چارو پروژه
کابل، افغانستان

منتشر شده توسط:
پروژه امور عدلی وقضائی افغانستان
کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان اساسی حقوق

## دقضائی روزنی کورس

**تیار شوی:**

**د قضائی روزنی خانگه**

**دافغانستان د عدلی او قضائی چارو پروژه**


**کره کتنه:**

دکتور عبدالملک کاموی

د قضائیه قوی د اداری عمومی آمر

دکتور نجیب جانباز

دقضائی زدکرو مشاور

د افغانستان د عدلی او قضائی چارو پروژه

محمد هارون معتصم

دکابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو دپوهنځی استاد

**دیزاین:**

سید فرهاد هاشمی

د نشراتو تخنیکي مسوول

د افغانستان دعدلی او قضائی چارو پروژه


د افغانستان ستری محکمی نوموری کورس د قضائی روزنو لپاره منظور کری او له همدی کبله هغو

# حقوق اساسی افغانستان

## کورس آموزش قضائی

**تهیه شده توسط:**

**بخش آموزش قضائی**

**پروژه امور عدلی و قضائی افغانستان**


**بازنگری:**

دکتور عبدالملک کاموی

آمر عمومی اداری قوهٔ قضائیه

دکتور نجیب جانباز

مشاور آموزش قضائی

پروژه امورعدلی وقضائی افغانستان

محمد هارون معتصم

استاد پوهنحی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل

**دیزاین:**

سید فرهاد هاشمی

مسوول تخنیکی نشرات

پروژه امور عدلی و قضائی افغانستان


ستره محکمه افغانستان استفاده از این کورس را در برنامه های آموزش قضائی مورد تاید قرار داده و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادارو تـه چـــی پـه قضـائی روزنـــو بـــوخـــت دی ، اجـــازه ورکـــول کـــیزی تـرخـــو دا خپـره شـوی نســـخه تکثـــیر کـری او پـــه خپلـــو قضـــائی روزنـــــو کـــــی ورخـــخه کـار واخلـی. نومـوری کورس ته په
www.supremecourt.gov.af
او www.afghanistantranslation.com
انترنتی پته هم لاس رسی کولای شی.

دخپریدو نیته: جولای ۲۰۰۸
دافغانستان دعدلي او قضائي چارو پروژه
کابل، افغانستان

بدین وسیله به سـازمان هـائی کـه آمـوزش قضـائی را حمایت میکنند اجازه داده شده هست کـه ایـن نسـخه منتشر شده را مجدداً برای برنامه هـای آموزشـی خـود منتشر سـازند. ایـن کـورس همچنـان در آدرس هـای انترنتی
www.supremecourt.gov.af
و www.afghanistantranslation.com
قابل دسترسی میباشد.

تاریخ نشر: جولای ۲۰۰۸
پروژه امور عدلی وقضائی افغانستان
کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اساسي حقوقو لوستونه
## د قــضائـــي زده کـــړې کورس

دغه لوستونه ((اساسي حقوق)) د قضاتو او قضـايي کانديدانو د متداومو زده کړو لپاره په پام کې نيول شـويدي. او پـه هغـه کـې دافغانسـتان د اسـلامي جمهوري دولت د يوه خپلواک ارګان پـه توګـه د قضائيه ځــواک پـــه فـرد پـورې تړلـې دنـدو تـه پاملرنه شوېده.

د  دغه لوستونو محتواي او ښوونيزي موخې پداسې شـکل جـوړ شـوي دي چې د لکچـر پـه ځـاي د مباحثوي ښـوونې او پـوهنې پـه طريقـه د معلومـاتو انتقال پياوړي شي. د درسونو د مطالعې د مکلفيـت په څنګ کې ښوونيزې موخې هم شاملې دي.

همدارنګه پوښـتنې او فرضـي قضـيې چې پـه دغـه لوستونو کې ځاي پـه ځـاي شـوي، ددې لپـاره دي چـې د هغـه د محتويـاتو لېـږد د صـنفي مباحثـاتو ظرفيت لوړ کړي. پدې پروګرام کـې درسـي مـواد پداسې شـکل ځـاي پـه ځـاي شـوي چې پـه دغـه ځانګړي ښوونيز پروګرام کې د دغه مضمون لپـاره وخت ته پام د ٦ څخـه تـر ١٢ سـاعته دوره کـې د کورس د موادو وړاندې کولو ته زمينه برابره شـي. د زياتو ساعاتو د شته والي پـه صـورت کـې ښـايي دغه مضمون د مباحثوي تمرينـاتو او بهرنيـو مـوادو په وسيله بشپړ شي.

يو ١٢ ساعته مضمون ښايي پـه لانـدې ډول ترتيـب او تنظيم شي:

(١ او ٢ درسي ساعتونه): د هغه اصـولو او مفـاهيمو معرفـي کـول چـې د حقوقـو او د اساسـي حقوقـو بنست ږدي.

## دروس حقوق اساسی
## کـــورس آمـــوزش قضـــائـــی

ايـــن دروس حقـــوق اساسـی بـرای تعليمـات مـداوم قضـات و کـانـــديدان قضـايی در نظـر گرفته شده و در آن به مســـئوليت هـای منحصـر بـــه فـــرد قـوه قضـائيه بـه حيـث ارگـان مسـتقل دولـت جمـــهوری اسـلامی افغانسـتان، توجـه صورت گرفته است.

محتوای اين دروس و اهداف آموزشی آن بشکلی فراهم گرديده، تا انتقال معلومات به شيوه تدريس و آموزش مباحثوی رابعوض لکچر محض تقويت نمايد. درجنـب مکلفيـت مطالعـه دروس، اهـداف آموزشی نيز شامل ميباشند.

همچـــنان سوالات و قضيه هـای فرضـی کـه در ايـن دروس گنجانيـده شـده، بـرای آن ميباشـد تـا انتـــقال محتـــويات آن ظرفيت مباحثـات صـنفی را ارتقاء بخـــشد. مـواد درسـی دريـن برنامـه بـه شـکلی جابجـا گـــرديده تـا ارائـه کـورس را در يک دوره زمانی ٦ تـا ١٢ ســـاعت، بـا توجـه بـه وقـت موجـود بـرای ايـن مضـمون درايـن برنامـه آمـوزش اختصاصـی، مسـاعد سـازد. در صـورت مـــوجـــوديت ساعـات اضـــافی، امکـان دارد تـا ايـن مضـمون بـــا تمـــرينات مبـاحثوی و مـواد بيرونی تکميل گردد.

يک مضمون ١٢ ساعته امکان دارد ذيلاً ترتيـب و تنظيم شود:

( ساعت درسی ١ و ٢ ): معرفـی اصـول و مفـاهيم کلی که اساسات حقوق و حقـوق اساسـی را بنـاء می نهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳-٦ درسي ساعتونه): د قوا د تفکيک په بنسټ د سياسي سيستم توضيح کول چې د افغانستان د ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون په وسيله په رسميت پېژندل شويدي.

( ساعات درسی ۳ – ٦ ): توضیح سیستم سیاسی برمبنای تفکیک قوا که توسط قانون اساسی سال ۲۰۰٤ افغانستان برسمیت شناخته شده است.

(۷-۸ درسي ساعتونه): د ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون سره سم د هېواد د اتباعو د اساسي حقوقو او وجايبو بياکتنه، تحليل او په اړه يې مبسوطه مباحثه.

( ساعات درسی ۷ – ۸): مرور، تحلیل، و مباحثه مبسوطه حقوق اساسی و وجایب اتباع طبق قانون اساسی سال ۲۰۰٤.

(۹-۱۰ درسي ساعتونه) په افغانستان کې د پلي کېدو وړ نړيوالو تعهداتو او کنوانسيونونو ارزونه چې د اساسي حقوقو په هکله معلومات ورکوي يا هغوي ته پراختيا ورکوي.

( ساعات درسی ۹ – ۱۰): ارزیابی تعهدات و کنوانسیون های بین المللی قابل تطبیق در افغانستان که از حقوق اساسی معلومات میدهد یا به آنها توسعه میبخشد

(۱۱-۱۲) درسي ساعتونه): د اتباعو د اساسي حقوقو د ملاتړ او تطبيق په برخه کې د قضائيه ځواک په فرد پورې تړلي رول ارزونه او په اړه يې مباحثه.

( ساعات درسی ۱۱ – ۱۲): ارزیابی و مباحثه در مورد نقش منحصر به فرد قوه قضائیه درحمایت و تطبیق حقوق اساسی اتباع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست مطالب

**صفحه**

**I. مقدمه (ساعت های درسی ۱ و ۲)** ........ ۵
(الف). قرارداد اجتماعی ........ ۵
(ب). اساس و هدف قانون ........ ۷
(ج). قانون اساسی ........ ۸
(د). دیگر منابع قانون ........ ۱۱
معاهدات، میثاق ها، و کنوانسیونها بین المللی ........ ۱۱
مقرراتیکه از سوی قوه مجریه تصویب گردیده ........ ۱۲
فرامین تقنینی مقام ریاست جمهوری ........ ۱۳
فیصله ها و مقررات محاکم ........ ۱۴
عرف و عادات محلی ........ ۱۷
**II. قانون اساسی سال ۱۳۸۲** ........ **۱۸**
(الف).نظام سیاسی ........ ۱۸
(ب). دولت ........ ۲۰
(ج). قوه مجریه ........ ۲۲
هدف قوه مجریه ........ ۲۲
تشکیل قوه مجریه ........ ۲۲
رئیس جمهور و معاونین رئیس جمهور ........ ۲۳
وزراء ........ ۳۰
لوی خارنوال ........ ۳۲
واحد های اداری محلی ........ ۳۳
حالات اضطرار ........ ۳۵
(هـ). قوه مقننه دولت ........ ۳۶
مقدمه ........ ۳۶
شورای ملی ........ ۳۷
لویه جرگه و تعدیلات در قانون اساسی ........ ۴۶
(هـ). قوه قضائیه دولت ........ ۴۸
قوه قضایی مستقل ........ ۴۸
ترکیب ستره محکمه ........ ۵۱
محاکم تحتانی و قضات ........ ۵۲
احکامیکه بطور عام با قوه قضائیه مرتبط هستند ........ ۵۳
(و). تفکیک قوا – کنترول و توازن ........ ۵۶
**III. حقوق و وجایب اساسی (ساعات درسی ۷ و ۸** ........ **۵۹**
(الف). مقدمه ........ ۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ب). حقوق و وجایب اساسی........................................................................ ۶۰
**IV. قانون بین المللی حقوق بشر (ساعات درسی ۹ و ۱۰)........................................................... ۸۱**
(الف). مکلفیت های دولت بر اساس حقوق بین الملل ......................................................... ۸۱
(ب). معاهدات، میثاق ها، و کنوانسیونهای بین المللی مرتبط با حقوق بشر.............................. ۸۲
مقدمه................................................................................................ ۸۲
منشور ملل متحد........................................................................................ ۸۳
اعلامیه جهانی حقوق بشر ............................................................................... ۸۳
کنوانسیون منع شکنجه ، ظلم، سایر تنبیهات و برخوردها یا مجازات غیر انسانی ............................... ۸۵
کنوانسیون حقوق طفل................................................................................... ۸۷
کنوانسیون بین المللی محو تمام اشکال تبعیض علیه زنان.................................................. ۸۸
کنوانسیون بین المللی محو تمام اشکال تبعیض نژادی....................................................... ۸۹
میثاق بین المللی حقوق اقتصادی اجتماعی و فرهنگی........................................................ ۹۱
میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی.................................................................... ۹۱
**V. اجرای حقوق اساسی (ساعات درسی ۱۱ و ۱۲)........................................................... ۹۵**
(الف). مقدمه ......................................................................................... ۹۵
(ب). استقلال قضایی.................................................................................... ۹۶
(ج). مرور قضایی....................................................................................... ۹۶
سناریو های فرضی..................................................................................... ۹۷

## ضمایم:

منشور سازمان ملل متحد................................................................................ ۱۰۴
اعلامیه جهانی حقوق بشر ............................................................................... ۱۲۹
میثاق علیه شکنجه، مجازات ظلمانه، رفتار غیر انسانی یا اهانت آمیز........................................ ۱۳۹
میثاق حقوق طفل ...................................................................................... ۱۶۳
میثاق رفع کلیه تبعیضات علیه زنان........................................................................ ۱۹۹
میثاق بین المللی رفع هر نوع تبعیض نژادی ............................................................... ۲۲۰
میثاق بین المللی حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی....................................................... ۲۴۳
میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی ................................................................... ۲۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ســــــريـــزه

**ښوونيزې موخې- ۱ او ۲ درسي ساعتونه**

- د دولت بنسټ تشريح کړئ.
- د دولت موخه تشريح کړئ.
- د قانون موخه او حاکميت بيان کړئ.
- د يوه اساسي قانون مقصدونه او موخې بيان کړئ.
- مدون قانون تعريف کړئ.
- د قانون نورې سرچينې تشريح کړئ.

**(الف): ټولنيز تړون**

کوم علت دی چې خلک هېوادونه جوړوي او دولت جوړوي؟

- د ګاونډيو او متجاوزينو څخه خونديتوب (اردو)
- د ټولنې د ننه امنيت او ثبات (پوليس)
- د ضروري خدمتونو چمتو والی (حکومت)
- د اساسي حقوقو او خپلواکيو ساتنه

**د ضروري خدمتونو ځينې بېلګې کومې دي؟**

- روغتيا ساتنه او پاملرنه
- ښوونه
- بېخبناء
- د جزايي عدالت سيستم

## مقـــدمـــه

**اهداف آموزشی – ساعات درسی ۱ و ۲**

- اساس دولت را توضیح کنید
- هدف دولت را تشریح کنید
- هدف و حاکمیت قانون را بیان دارید
- مقاصد او اهداف یک قانون اساسی را از برخوانید
- قانون مدون را تعریف کنید
- منابع دیگر قانون را تشریح کنید

**(الف): قرارداد اجتماعی**

چه علت وجود دارد که مردم کشورها را تأسیس میکنند ودولت را تشکیل مینمایند؟

- محافظت و امان از همسایگان و متجاوزین (اردو)
- امنیت و ثبات در داخل جامعه (پولیس)
- فراهم کردن خدمات ضروری (حکومت)
- حفاظت از حقوق اساسی و آزادی ها

**بعضی مثال های خدمات ضروری کدام ها اند؟**

- حفظ ومراقبت صحی
- تعلیم
- زیربناء
- سیستم عدالت جزائی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د مدني قضاياوو د حل طريقه
- په نړيواله ټولنه کې ګډون

- شیوه حل و فصل قضایای مدنی
- اشتراک در جامعه بین المللی

هغه تړون او يا موافقه چې د يوه هېواد اتباع يې له دولت سره کوي کوم دي؟

قرارداد و یا موافقت که اتباع یک کشور با دولت خویش عقد مینمایند کدام است؟

د ټولنې غړو د دولت لخوا د ملاتړ، خونديتوب او د خدماتو د وړاندې کولو د زياتوالي لپاره تر متفاوتو حدودو پورې د خپلې شخصي خپلواکۍ او صلاحيتونو څخه صرفنظر کوی او هغه دولت ته سپاري چې دغه موافقه د ټولنيز تړون په نامه ياديږي. همدارنګه دوي پدې معاوضه کې د هغه حقوقو او اساسي خپلواکيو څخه چې د دولت لخوا يې ملاتړ کيږي، برخمن کيږي.

افراد جامعه در ازای حمایت، مصئونیت و ارائه خدمات ازطرف دولت تا حدود متفاوت از خود مختاری و صلاحیت های شخصی و فردی خویش صرفنظر نموده و آنرا به دولت واگذار میگردند که این موافقت بنام قرارداد اجتماعی یاد میشود. همچنان ایشان درین معاوضه از حقوق و آزادی های اساسی ای که توسط دولت حمایت میگردند، نیز برخوردار میگردند.

د اساسي حقوقو او خپلواکيو ځينې بېلګې کومې دي؟

بعضی نمونه های حقوق اساسی و آزادی ها کدام ها اند؟

- د وينا او ټولنو ته دغوره کېدلو خپلواکي
- د غونډو او اعتراض خپلواکي
- د سفر خپلواکي
- د غلامۍ او پر ماشومانو د اجباري کار منعه
- مساوي حقوق او مکلفيتونه د قانون په اساس
- د برائت الذمه له حالت څخه مستفيد کېدل کله چې څوک د يوه جرم په تور، تورن کيږي.
- د نيول کېدو يا پر يو جرم د تورن کېدو په وخت کې د مدافع وکيل د نيولو حق

- آزادی بیان و انتساب به انجمن ها
- آزادی گردهمایی و اعتراض
- آزادی سفر
- منع بردگی و کار اجباری طفل
- حقوق مساوی و مکلفیت ها براساس قانون
- مستفید بودن از حالت برائت الذمه هنگامیکه یک شخص به یک جرم متهم میگردد
- حق گرفتن وکیل مدافع هنگام دستگیری یا متهم شدن به یک جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اقرار تـه د اړ ایسـتلو لپـاره د شـکنجې څخـه معافیت
- د هغه زیان د غوښتنې حق چې د دولت لخوا اړول شوی وي
- د پور له کبله د حبس څخه معافیت

مشترک قاسم کوم دي؟

**قانون**

**(ب) د قانون بنسټ او موخه:**

ټولې منظمې ټولنې قواعدو او قوانینو ته اړتیـا لـري چـې د هغـه ټـولنې او د هغـه د غـړو د سـلوک پـه هکله لارښوونه وکړي.

ډېره اړتیا نـده چـې دغـه قـوانین او قواعـد ثبـت او مکتوب شي، بلکه مهمه داده چې د ټولنې هر غړی هغه باندې پوه وي او ویې مني.

د هغه څخه پرته پایله به د خلکو ګډوډي او خپـل سري وي.

لـــدې کبــله د قــانــون بنـــسټ او اســاس هغــه څــرګــنده اړتیــا ده چـــې ټـولنــه داســې تنظیم کـــړي چــــې سولـــه، عـــدالــت او عـــامــه نظم وساتي.

د یــوې ټــولنې ټــول قــوانین، پالیســی او نظرونــه منعکسوي.

- ټولنیز نورمونه
- عادتونه
- دودونه (عنعنات)

- معافیـت از شنکـجه جهـت مجبـور سـاختن به اقرار
- حق ادعای خسارات از دولـت در رابطـه بـه ضرری که از سوی دولت بوجود آمده باشد
- معافیت از حبس بسبب قرض

قاسم مشترک کدام است؟

**قانون.**

**(ب). اساس و هدف قانون**

تمام جوامع مـنظم، بـه قواعـد و قـوانین ضـرورت دارند تا رفتا و روند آن جامعـه و هـر عضـو آنـرا رهنمایی نماید.

ضـرورت نبـوده تـا ایـن قواعـد و قـوانین ثبـت و مکتوب شوند، بلکه مهم است تا هر عضـو جامعـه آنها را درک کرده وبپذیرد.

در غیر آن نتیجه، هرج و مرج و خود سری مـردم خواهد بود.

از اینـــرو، اســـاس و شـــالوده قـــانون عبـــارت از ضرورت مبرمی بـوده تـا جامعـه را طـوری تنظیم نماید که صلح، عدالت و نظم عامه را حفاظـت و نگهداری نماید.

تمام قوانین، پالیسـی هـا و نظریـات موجـود یـک جامعه را منعکس میسازد.

- نورم های اجتماعی
- عادات
- رسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مذهبي او اخلاقي ښوونې
- ښوونيز او پوهنيز معرفت

له قوانينو سره د نورمونو، عادتونو، دودونو او اخلاقي اصولو تر منځ توپير څه دی؟

نورمونه، عادتونه، دودونه او اخلاقي اصول د اشخاصو د شخصي سلوک د لارښوونې لپاره دي پداسې حال کې چې د قوانينو موخه الزامي ده، تر څو د ټولنې د يوه مشخص غړي د تاييد او رد په پام کې نه نيولو سره د هغوي پيروي وشي.

د قوانينو دتنفيذ پرلپسې دنده د دولت په غاړه ده او معمولاً د نه اطاعت په وخت کې د مجازاتو د تحميل په تهديد سره تامينيږي.

د تعذيراتو بېلګې کومې دي؟

- جزايي مجازات
- د مدني زيانونو جبران
- د يو کار د کولو لپاره د امتيازاتو بيرته اخيستنه مثلاً دجوازنامې بيرته اخيستنه

و مو ليدل چې د ټولنې خلک د ټولنيز تړون د مقابل لوري په توګه د حراست، امنيت، خدماتو، او د اساسي حقوقو او خپلواکيو د ضمانت په وړاندې د خپلو خپلواکيو څخه صرفنظر کوي. همدارنګه وموليدل چې پر ټولنيز تړون د قوانينو د خپرېدو او انفاذ له لارې د صحت مهر اېښودل کيږي.

**(ج) اساسي قانون**

اساسي قوانين څرنګه رامنځته کيږي؟

- تعاليم مذهبی و اخلاقی
- معرفت آموزشی وعلمی

یک تفاوت اساسی میان نورم ها، عادات، رسوم و اصول اخلاقی با قوانین چه است؟

نورم ها، عادات، رسوم و اصول اخلاقی منحیث یک رهنمود برای سلوک شخصی اشخاص میباشند در حالیکه، هدف قوانین الزامی بوده، تا بدون در نظر داشت تایید یا عدم تایید یک عضو مشخص جامعه، از آنها بطور پیوسته پیروی بعمل آید.

امر نافذ نمودن پیوسته قوانین به ذمه دولت میباشد و معمولاً توسط تهدید به تحمیل موءیدات (مجازات) در صورت عدم اطاعت، تأمین میگردد.

بعض از مثالهای تعذیرات کدام ها اند؟

- مجازات جزایی
- جبران خسارات مدنی
- استرداد امتیازات مثلاً جوازنامه برای اجرای یک چیزی یا چیز دیگری

مشاهده نمودیم که مردم جامعه به حیث طرف قرارداد اجتماعی، در بدل حراست، امنیت، انجام خدمات و ضمانت حقوق اساسی و آزادی ها، از آزادی خود صرف نظر مینمایند. همچنان مشاهده نمودیم که به قرارداد اجتماعی، از طریق انتشار و انفاذ قوانین، مهرصحه گذاشته میشود.

**(ج) قانون اساسی**

قوانین اساسی چه گونه بوجود میایند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کـوم ځـایه بایـد ددغـه پوښتنې ځـواب پیـل شي؟

از کجا باید آغاز کرد تا برای این سوال جواب دهیم؟

**راځئ لومړیو ته وروګرځو.**

**بیاید به ابتدا برگردیم.**

هـر کلـه چـې د ټـولنې غـړي پرېکـړه کـوي چې د دولت په ګټـه د خپلـې خپلـواکۍ څخـه تېـر شـي، تـر ټولو لمړنی ګـام چې پورتـه کـوي، کوم یو دي؟

هرگاه اعضاء جامعه تصمیم میگیرند تا از خود مختاری خویش به نفع دولت صرف نظر نمایند، اولین گامی که آنها آنرا برمیدارند، کدام خواهد بود؟

- یوه پادشاه ته بیعت کول
- د یوه رئیس ټاکل
- د یوه ولسمشر ټاکل
- د لازمه پرېکړو د کولو لپاره د یوې شـورا یـا جرګې جوړول
- د یـوې اعـلامیـې یـا اساسـي قـانون چمتو کول

- بیعت به یک پادشاه
- برگزیدن یک رئیس
- انتخاب یک رئیس جمهور
- تشکیل یک شوری یا جرگه جهت اتخاذ تصمیم لازمه
- آماده نمودن یک اعلامیه یا یک قانون اساسی

په اوسنۍ زمانه کې په لویو ټولنو یا هېوادونـو کـې هغه کار چې تر ټولو لومړی کېږي، د یـوه مـدون اساسي قانون چمتو کول او تصویب دی.

در عصر معاصر، در جوامع بزرگ یا کشورها، اولین چیزی که شکل میگیرد عبارت از آماده سازی و تصویب یک قانون اساسی مدون میباشد.

د اساسي قانون اصلي موخه د ټولنې یا دولـت او د هماغـه هېـواد د اتبـاعو تـر مـنځ د اړیکـو تعیـین او پیاوړي کول دي.

هدف اصلی قانون اساسی تعیین و برقرار نمودن روابط میان جامعه یا دولت و اتباع همان کشور میباشد.

د اساسي قانون ځینې نورې موخې کومې دي؟

بعضی از دیگر اهداف قانون اساسی چه است؟

- د دولت د اساسي شکل جوړول
- د دولت د ارګانونو د دندو او د اتباعو سره د دوي د اړیکو ټینګول او همدارنګـه د دوي د ذات البیني اړیکو مشخص کول

- تأسیس شکل اساسی دولت
- مشخص کردن وظایف ارگانهای دولت و روابط آنها با اتباع و روابط ذات البینی خودشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د مشخصو نړیوالو معاهداتو او میثاقونو منلو او هغوي ته د ځاي ورکولو لپاره اشاره کول
- د هېـــواد د اتبـــاعو د اساســـي حقوقـــو او مکلفیتونو تعیین
- د دولت د بقا د ساتنې لپاره د یوه میکانیزم جوړول
- د یوه هېواد د اتباعو لخوا د اساسي قانون د تصویب لپاره د یوې کړنلارې جوړول
- په اساسي قانون کې د تعدیلاتو د منلو لپاره د یوې کړنلارې جوړول

قوانین څه ډول رامنځته کېږي؟ د دغه پوښتنې ځواب څه دی؟

قوانین د مقننه ځواک لخوا جوړېږي او د هغه څخه وروسته د ولسمشر لخوا د اساسي قانون د احکامو سره سم توشیح کېږي. دغه ډول قوانین موضوعه قوانین یا مدون قوانین نومېږي.

که مدون قوانین د اساسي قانون د احکامو سره سم جوړ نشي، آیا دغه ډول قوانین د هېواد د اتباعو لخوا لازم الاجراء دي، که نه؟

ولې منفي ځواب؟ دغه ډول قوانین ځکه الزامي کېداي نشي چې هغه ځواک چې د اساس قانون د احکامو پر بنسټ د قانون د جوړولو صلاحیت لري، مشخصه ده او د هغه صلاحیت د خلکو لخوا دولت ته ورکړل شویدي، د هغه پر بنسټ هغه مدون قوانین چې د اساسي قانون د احکامو سره سم نه وي یا دا چې د اساسي قانون د احکامو منافي وي، بې اعتباره دي او الزامي ندي.

آیا امکان لري چې نورې الزامي حقوقي اعلامیې

- اشاره به پذیرفتن و جادادن معاهدات و میثاق های مشخص بین المللی
- تعیین کردن حقوق اساسی و مکلفیت های اتباع کشور
- تأسیس یک میکانیزم برای محافظت بقای دولت
- تأسیس یک طرزالعمل برای تصویب قانون اساسی از سوی اتباع کشور
- تأسیس یک طرز العمل برای پذیرفتن تعدیلات در قانون اساسی

قوانین چطور بوجود میایند؟ جواب بدین سوال چه میباشد؟

قوانین توسط قوه مقننه دولت ساخته میشوند و به تعقیب آن از سوی رئیس جمهور مطابق به احکام قانون اساسی توشیح میگردند. این نوع قوانین، **قوانین موضوعه** یا **قوانین مدون** نامیده میشوند.

اگر قوانین مدون مطابق به احکام قانون اساسی ساخته نه شوند، آیا چنین قوانین از سوی اتباع کشور لازم الاجرا میباشند؟ نخیر.

چرا جواب منفی؟ این چنین قوانین بخاطری نمیتوانند الزام آور باشند که قوهٔ که برمبنا احکام قانون اساسی صلاحیت ساختن قانون را دارا میباشد، مشخص گردیده و صلاحیت آن توسط مردم به دولت تفویض گردیده است بنا برآن آنعده قوانین مدونیکه مطابق به احکام قانون اساسی نبوده یا اینکه منافی احکام قانون اساسی هستند، بی اعتبار بوده و الزام آور نمیباشند.

آیا امکان دارد که اعلامیه های حقوقی الزام آور

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجودې وي چې د مدونو قوانينو ځواک او اغېزه ولري؟

ديگرنيز موجود باشند که نيرو و تأثير قوانين مدون را داشته باشند؟

د هغوي ځينې بېلګې کومې دي؟

بعضی از مثال های آنها کدام اند ؟

- نړيوال معاهدات، ميثاقونه او کنوانسيونونه
- هغه مقررات چې د اجرائيه ځواك لخوا تصويب شويدي
- د ولسمشرۍ د مقام تقنيني فرمانونه
- د محاكمو مقررات او پرېکړې
- محلي عرف او عادات

- معاهدات، ميثاق ها و کنوانسيون های بين المللی
- مقررات که از سوی قوه اجرائيه تصويب شده اند
- فرامين تقنينی مقام رياست جمهوری
- مقررات و فيصله های محاکم
- عرف و عادات محلی

**(د). د قانون نورې سرچينې:**

اجازه راکړئ لاندې عمومي کټګورۍ وګورو (( د قانون نورې سرچينې))

**(د). ديگر منابع قانون**

اجازه دهيد تا در ذيل به کتگوری های عمومی نگاه کنيم ″ ديگر منابع قانون.″

**معاهدات، ميثاقونه او نړيوال کنوانسيونونه:**

نړيوال معاهدات، ميثاقونه او ځانګړي نړيوال کنوانسيونونه د يوه ځانګړي هېواد لپاره او بالوسيله د هغه هېواد پر اتباعو مرعي الاجراء کېږي،

**معاهدات، ميثاق ها و کنوانسيون های بين المللی:**

معاهدات، ميثاق ها و کنوانسيون های بين المللی قواعدی را به ميان مياورند تا روابط ميان کشور ها و اتباع کشور های مختلف را تنظيم نمايند.

ددي دپاره چې يو بين المللی معاهده، ميثاق او کنوانسيون په يو مملکت باندی او په دی وسيله د هغه مملکت پر اتباعو باندی د تطبيق ور وګرزی لازمه ده چې د هغه هېواد لخوا د اساسي قانون د احکامو سره سم د منلو وړ وګرځي. د تاييد دغه طرزالعمل ته د تصويب پروسه وايي.

برای اينکه يک معاهده، ميثاق و کنوانسيون خاص بين المللی بالای يک کشور و بالوسيله بالای اتباع آن کشور مرعی الاجرا قرار گيرد، ضرور است تا از سوی همان کشور مطابق به احکام قانون اساسی اش مورد قبول واقع گردد. اين طرزالعمل تأييد را پروسه تصويب مينامند.

د معاهداتو، ميثاقونو او کنوانسيونونو تصديق او تصويب يو اختياري عمل دي، او هېڅ هېواد په يوه نړيوال سازمان مثلاً ملګرو ملتونو کې د غړيتوب څخه پرته چې په هغه کې غړيتوب د هغه د

تصديق وتصويب معاهدات، ميثاق ها و کنوانسيون ها يک عمل اختياری بوده، و هيچ کشوری را نميتوان به استثنا عضويت در يک سازمان بين المللی مثلاً ملل متحد که عضويت در آن مشروط

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړو معاهداتو، میثاقونو او کنوانسیونو پر منلو مشروط دی، نشي مجبور کېداي چې یوه معاهده، میثاق یا کنوانسیون تصویب کړي.

لدې سره سم چې یوه معاهده، میثاق یا کنوانسیون په قانوني توګه د یوه هېواد لخوا تصویب شي، پر دولت او د هغه پر اتباعو د هماغه هېواد د مدونو قوانینو په شان الزامي کېږي.

په راتلونکو لوستونو کې په افغانستان کې قابل الاجراء ځانګړي میثاقونه او کنوانسیونونه تر ارزونې لاندې نیسو.

**هغه مقررات چې د اجرائیه څواک لخوا تصویب شویدي:**

د یوه دولت د اجرائیه څواک هغه کومه لویه او ارزښتناکه دنده ده چې قانون نافذ او تطبیقوي؟

اجرائیه څواک په کومه طریقه دغه دنده سرته رسوي؟ د وزیرانو او وزارتونو په وسیله

د وزارتونو بېلګې کومې دي؟

- د پوهنې وزارت
- د عامې روغتیا وزارت
- د عدلیې وزارت
- د کورنیو چارو وزارت
- د ملي دفاع وزارت
- د لوړو زده کړو وزارت
- د بهرنیو چارو وزارت
- د مالیې وزارت

به پذیرفتن معاهدات، میثاق ها و کنوانسیون های خاص میباشد، مجبور نمود تا یک معاهده، میثاق یا کنوانسیون را تصویب نماید.

بمجردیکه یک معاهده، میثاق یا کنوانسیون بطور قانونی از طرف یک کشور تصویب گردد، بالای دولت و اتباع آن دولت، بمثابه قوانین مدون نافذه همان کشور الزام آور میگردد.

در دروس بعدی، میثاق ها و کنوانسیونهای خاص بین المللی قابل الاجرا در افغانستان را ارزیابی خواهیم کرد.

**مقرراتیکه از سوی قوه اجرایه اتخاذ گردیده اند:**

آن کدام یک از وظایف عمده و مهم قوه اجرائیه یک دولت است که قانون را نافذ و تطبیق میکند؟

به چه شیوه قوه اجرائیه این وظیفه را انجام میدهد؟ بواسطه وزرا و وزارتخانه ها.

مثال های وزارتخانه ها کدام اند؟

- وزارت معارف
- وزارت صحت عامه
- وزارت عدلیه
- وزارت داخله
- وزارت دفاع
- وزارت تحصیلات عالی
- وزارت امور خارجه
- وزارت مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ښځو د چارو وزارت
- د سوداګرۍ وزارت
- د ټولګټو (فواید عامه) وزارت

هغه پروګرامونه چې د یوه ځانګړي وزارت په صلاحیت کې راځي، ښايي پراخ او پېچلي وي.

زیاتره وخت قوانین داسې پروګرامونه جوړوي چې د پروګرام ټول جزئیات تر پوښښ لاندې نه نیسي، او ټولو هغه پوښتنو ته چې د پروګرام له پلي کېدو سره اړیکه نیسي، ځواب نه ورکوي.

په همدې علت هغه قوانین چې د یوه وزارت د پروګرام رامنځته کوونکي دي، ښايي هغه وزارت ته چې د پروګرام د پلي کولو دنده لري، صلاحیت هم ورکړي چې داسې مقررات رامنځته کړي چې د هغه پروګرام د تطبیق کنټرول وکړي.

په هغه صورت کې چې قانون اجازه ورکړي، او پدې شرط چې مقرره د اساسي قانون او د هغه د احکامو سره سمه جوړه شوې وي، دغه مقرره پر وزارت او اتباعو د هغه مدونو قوانینو په شان او اندازه چې د تقنیني رکن لخوا منل شویدي، لازم الاجراء دي.

**د ولسمشرۍ د مقام تقنیني فرمانونه:**

ځینې وختونه په انتقالي دوره کې یا په بېړنیو حالاتو کې ، ولسمشر د هېواد اساسي قانون سره سم صلاحیت لري چې تقنیني فرمانونه صادر کړي، دغه تقنیني فرمانونه د مدونو قوانینو په شان او اندازه د اجبار قوه لري. مګر د خپل نوعیت په نسبت په یوه زماني دوره پورې محدود وي او د مقننه ځواک بیا تصویب ته محول دي.

- وزارت امور زنان
- وزارت تجارت
- وزارت فواید عامه

برنامه هایکه تحت حوزه صلاحیت یک وزارت ویژه قرار میگیرد ممکن گسترده و پیچید باشد.

غالب اوقات، قوانین برنامه هایرا ایجاد مینمایند که همه جزئیات پروگرام را مورد پوشش قرار نمیدهدو پاسخگوی تمام سوالاتی که به تطبیق پروگرام ربط میگیرند، نمیباشند.

به همین علت، قوانینکه ایجاد کننده برنامه یک وزارت میباشد ممکن است صلاحیت را نیز برای وزارتیکه تطبیق پروگرام را بعهده دارد، محول نماید تا مقرراتی را اتخاذ نمایند که از تطبیق آن پروگرام کنترول بعمل آورد.

در صورتیکه قانون اجازه دهد، و به شرط آنکه مقرره به اساس و در مطابقت با احکام قانون و قانون اساسی اتخاذ گردد، این مقرره بالای وزارت و اتباع به مثابه و اندازه قوانین مدونی که از سوی شاخه تقنینی پذیرفته شد است، لازم الاجرا خواهد بود.

**فرامین تقنینی مقام ریاست جمهوری**

بعضی اوقات، هنگام دوره انتقالی یا حالات اضطرار، رئیس جمهورطبق قانون اساسی کشورصلاحیت دارد تا فرامین تقنینی را صادر کند، این فرامین تقنینی به مثابه و اندازه قوانین مدون قوه اجبار دارند. اما نسبت نوعیت خویش محدود بزمان بوده و محول به تصویب مجدد قوه مقننه میباشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د محاکمو پرېکړې او مقررات:**

راځئ يو اساسي قانون چې د هغه په ترڅ کې د دولت د دريو جلا برخو ( اجرائيه څواک، مقننه څواک او قضائيه څواک) څخه په مساوي توګه جوړ شوی يو سياسي سازمان رامنځته شوی وي، فرض کړو.

پداسې يوه سيستم کې قضائيه څواک د هغه د تحتاني محاکمو په ګډون په دوديز ډول د يوې سترې محکمې تر اداري کنټرول لاندې دي.

پداسې يوه سيستم کې آيا ستره محکمه ددې صلاحيت لري چې د هغه هېواد د قضائي فعاليتونو د پر مخ بېولو لپاره مقررات جوړ کړی؟

د دغه ډول قضائي فعاليتونو بېلګې کومې دي؟

- د محاکمو د محررينو او اداري آمرينو ګمارل
- ځانګړو محاکمو او قضاتو ته د قضاياوو احاله
- د دوسيو د درج او د راپور ورکولو سيستم
- د محکمې د تعميراتو او تجهيزاتو ساتنه
- د قضايي سلوک د معيارونو ايجاد او تنفيذ
- د سترو قضائی تعليماتو د برنامو انتقال

ستره محکمه د مقرراتو د منلو په اړه خپل صلاحيت له کوم ځايه اخلي؟

- ذاتي قدرت
- اساسي قانون
- موضوعه قانون

**فیصله ها و مقررات محاکم:**

بيائيد يک قانون اساسی را که در لابلای آن يک دستگاه سياسی متشکل از سه شاخه جداگانه دولت (قوه مجريه، قوه مقننه، و قوه قضائيه )، اما مساوی ترکيب گرديده، فرض کنيم.

در يک چنين سيستم، قوه قضائيه بشمول محاکم تحتانی آن، بطورسنتی تحت کنترول اداری يک ستره محکمه قرار دارند.

در این چنین دستگاه، آيا ستره محکمه صلاحيت دارد تا مقرراتی بمنظورپيشبرد فعاليت های قضايی آن کشور اتخاذ نمايد ؟

مثال های چنین فعاليت های قضايی کدام ها اند؟

- استخدام محررين وآمران اداری محاکم
- احاله قضايا به محاکم و قضات خاص
- اداره درج دوسيه و سيستم راپور دهی
- حفظ و مراقبت تعميرات و تجهيزات محکمه
- ايجاد و تنفيذ معيارهای سلوک قضايی
- انتقال برنامه های تعليماتی قضايی مستمر

ستره محکمه صلاحيت خويش را در قبال پذيرفتن مقررات از کدام جا اخذ ميکند؟

- قدرت ذاتی
- قانون اساسی
- قانون موضوعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دغه ډول مقررات په لاندې شعباتو او افرادو لازم الاجراء دي؟

- قضات؟
- د دولت پر نورو شعباتو؟
- د هېواد پر اتباعو؟

د قضائي اداري برسېره د سترې محکمې لومړني فعاليتونه څه دي؟

ځواب: د هغه قضاياوو په اړه غور او وروستی پرېکړه چې د لاندېنيو محاکمو لخوا هغې ته راجع کيږي.

آيا دغه ډول پرېکړې د ځانګړو قضاياوو په اړه د دعوي پر لورو لازم الاجراء دي؟

آيا ځينې وخت امکان لري چې يو وزارت يا د حکومت يوه برخه د دعوي طرف واقع شي؟

**فرضي سناريو:**
راځی فرض کړو چې يوه قضيه د غور لپاره د يوې ابتدائيه محکمې قضائي هيئت ته وړاندې کيږي چې په محلي ورځپاڼه کې خپره شوې او په ټولنه کې يې زياته نوم بدي ترلاسه کړېده. ښاريان او رسنۍ د محاکمې د پايلو اورېدو ته ډېر لېوال دي. راځئ يو ګام مخکې لاړ شوي تصور وکړو چې د محکمې د قضائي هيئت رئيس پرېکړه کوي چې محاکمه په علني توګه سرته ونه رسوي، ځکه چې هغه فکر کوي چې د محکمې خونه د ټولو ذيعلاقه خلکو د منلو ظرفيت نلري.

د يوې سيمه ايزې خبرپاڼې خاوند د قضائي هيئت د رئيس د پرېکړې سره ننګونه کوي، او قضيه سترې محکمې ته راجع کيږي ترڅو ستره محکمه

آیا چنین مقررات بر شعبات و افراد ذیل لازم الاجرا خواهد بود؟

- بالای قضات؟
- بالای شعبات دیگر دولت؟
- بالای اتباع کشور؟

برعلاوه اداره قضایی، فعالیت های اولیه ستره محکمه چه میباشد؟

جواب: رسیدگی و تصمیم گیری نهایی در مورد قضایای که از طرف محاکم تحتانی به آن راجع میگردد.

آیا چنین فیصله ها در ارتباط قضایایی مخصوص بالای اطراف دعوی لازم الاجرا میباشند؟

آیا بعضی اوقات امکان میرود که یک وزارت یا بخشی از حکومت طرف دعوی واقع گردد؟

**سناریوی فرضی:**
بیاید فرض کنیم که یک قضیه برای رسیدگی به پیشگاه هیئت قضایی محکمهٔ ابتدائیه میاید که در اخبار محلی نشر گردیده و بدنامی زیادی را در جامعه بخود کسب نموده است. شهروندان و رسانه ها در رابطه به نتایج محاکمه بسیار دلچسپی دارند. بیاید یک قدم دیگر جلوتر رفته تصور کنیم که رئیس هیئت قضایی محکمه فیصله میکند که محاکمه را بصورت علنی انجام ندهد، بخاطریکه او فکر میکند که اطاق محکمه گنجایش پذیرفتن همه مردم ذیعلاقه را ندارد.

صاحب یک اخبار محلی فیصله رئیس هیئت قضایی را به چالش میگیرد، و قضیه به ستره محکمه احاله میگردد، تا ستره محکمه احکام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې مدون قوانین تفسیر کړي.

د افغانستان په محاکمو کې محاکمه په علني توګه دایرېږي او هر شخص حق لري چې د قانون د احکامو په رعایت سره په هغه کې حضور ولري. محکمه کولای شي په هغه حالاتو کې چې په قانون کې تصریح شوي، یا د محاکمې د سري والي اړتیا تشخیص شي، جلسه سري دایرېږي مګر د حکم اعلان باید په هر حال علني وي.

آیا د دغه مادې حکم وضاحت لري؟

د دغه مادې د حکم په اړه څه څیز مبهم دي؟

د ((یا د محاکمې د سري والي اړتیا تشخیص شي)) اصطلاح څه معني لري؟

د قانون خط مشي علني محاکمې ته تمایل لري او سري محاکمه یو استثنایي حالت دی، مګر په عین وخت کې قانون د بېړني حالت څخه پرته نور معیارونه ندي بیان کړي چې د سري محاکمې تطبیق توجیه کړي.

راځئ فرض کړو چې ستره محکمه فیصله کوي چې د قضاتو د هیئت د رئیس لخوا وړاندې شوی دلیل د رسنیو او عامه خلکو پر وړاندې د محاکمې د تړلو لپاره کافي ندی او نشي کولای د محاکمې سري والی توجیه کړي او د دغه قانون دپلي کولو لپاره په پرېکړه کې ځینې لارښوونې بیانوي.

آیا امکان لري چې ددغه قانون تفسیر د سترې محکمې لخوا لکه څرنګه چې د هغوي په پرېکړه کې اعلان شو، راتلونکې قضایاوې تر پوښښ لاندې ونیسي؟

که داسې وي، آیا دغه تفسیر په راتلونکو قضایاوو کې پر ټیټو محاکمو لازم الاجراء دی؟

قانون مدون ذیل را تفسیر کند:

در محاکم افغانستان، محاکمه به صورت علنی دایر میگردد و هر شخص حق دارد با رعایت احکام قانون در آن حضور یابد. محکمه میتواند در حالاتیکه در قانون تصریح گردیده، یا سری بودن محاکمه ضروری تشخیص گردد، جلسات سری دایر کند و لی اعلام حکم باید به هر حال علنی باشد.

آیا حکم این ماده وضاحت دارد؟

چه چیزی راجع به این حکم ماده مبهم میباشد؟

اصطلاح " یا سری بودن محاکمه ضروری تشخیص گردد"، چه معنی دارد؟

خط مشی قانون تمایل به محاکمه علنی دارد و محاکمه سری حالت استثنایی میباشد، اما در عین حال قانون بجز از حالت اضطرار، معیار های دیگری را بیان نداشته است تا تطبیق محاکمه سری را توجیه نماید.

بیاید فرض کنیم که ستره محکمه فیصله میکند که دلیل ارائه شده از سوی رئیس هیئت قضات، برای بستن محاکمه بروی رسانه ها و مردم عام کافی نبوده و نمیتواند سری بودن محاکمه را توجیه نماید و بعضی رهنمایی ها را برای تطبیق این قانون در فیصله خویش بیان میدارد.

آیا امکان دارد تفسیراین قانون از سوی ستره محکمه طوریکه در فیصله اش اعلان گردید، قضایای آینده را تحت پوشش خود قرار دهد؟

اگر چنین باشد، آیا این تفسیر در قضایای آینده بالای محاکم تحتانی لازم الاجرا خواهد بود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تاسو داسې فکر کوئ، آیا پدې معني ندي چې ستره محکمه په حقیقت کې د مدون قانون د تبدیلولو صلاحیت لري؟

اگر شما چنین فکر میکنید، آیا این بدین معنی نبوده که ستره محکمه در حقیقت صلاحیت تغیردهی قانون مدون را دارد؟

که داسې وي، او اجرائیه یا مقننه ځواک د دغه ځانګړې قضیې په اړه د سترې محکمې له تفسیر سره موافق نه وي، دوي کوم امکانات په واک کې لري؟

اگر چنین باشد، و اگر قوه اجرائیه و یا مقننه با تفسیر ستره محکمه راجع به قضیه خاصی موافق نباشد، آنها کدام امکانات را دارا میباشند؟

- د سترې محکمې پر پرېکړه سترګې پټول
- پدې پرېکړه د بیاغور کولو لپاره د سترې محکمې څخه غوښتنه
- ستره محکمه په رسنیو کې چلینج ته رابلل
- د سترې محکمې د هغه شمېر قاضیانو د عزل غوښتنه چې د قضیې په اړه یې پرېکړه کړېده
- د سترې محکمې د تفسیر د صلاحیت د سلب لپاره د هېواد د قوانینو د تعدیل په برخه کې د هڅو شریکول

- نادیده گرفتن فیصله ستره محکمه
- درخواست از ستره محکمه جهت تجدید نظر بر این فیصله
- ستره محکمه را د رسانه ها به چالش طلبیدن
- تقاضای عزل آنعده قضاتی ستره محکمه که درمورد قضیه فیصله کرده اند
- بذل مساعی برای تعدیل قوانین کشور، غرض سلب صلاحیت تفسیر ستره محکمه

دغه پوښتنې چلنج راوړونکې او مهمې دي، مثلاً کله چې مونږ د افغانستان د ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون احکام پلټو، په مهربانی سره د هغه په اړه فکر وکړئ، ځکه چې مونږ هغوي ته وروسته پدې مضمون کې راګرځو.

این سوال ها چالش برانگیز و مهمی اند، مثلاً هنگامیکه ما احکام قانون اساسی سال ۲۰۰٤ افغانستان را بررسی میکنیم، لطفاً در ارتباط آنها فکر کنید بخاطریکه ما به آنها بعداً در این مضمون بر میگردیم.

**<u>محلي عرف او عادتونه:</u>**

کوم وخت کولاي شو د یوې قضیې د حل او فصل لپاره محلي عرف ته مراجعه وکړو؟

**<u>عرف و عادات محلی:</u>**

چی وقت میتوانیم جهت حل وفصل یک قضیه به عرف محلی مراجعه نمائیم؟

محلي عرف او عادات په کوم ځاي کې پیدا کولای شو؟

عرف وعادات محلی را در کجا میتوان پیدا نمود؟

دا د فقهې او اساسي حقوقو په اړه یوه لنډه

این یک مقدمه کوتاه در ارتباط موضوع فقه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



سريزه وه.

اوس د افغانستان د ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون د مطالعې په لور ځو ( د راتلونکي ټولګي د لوستلو دنده – اساسي قانون، سريزه، ۱-۲۱، ٦۰-۸۰، ۱۳٤، ۱۳٦-۱٤۸ او ۱٥۱-۱٥۷ مادې)

**II.د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون**

**ښوونيزې موخې- ۳-٦ ساعتونه**

- په افغانستان کې د سياسي نظام تشريح
- د دولت د دندو بيان
- د هېواد د اجرائيه ځواك د موخې او دندو توضيح
- د هېواد د مقننه ځواك د موخې او دندو توضيح
- د هېواد د قضائيه ځواك تشريح
- د يوه خپلواكه قضائيه ځواك د ځانګړتياوو ذکر
- د کنټرول او توازن **(Cheks and Balances)** د سيستم د اهميت اثبات

**(الف) سياسي نظام:**
د يوه اسلامي جمهوري دولت په توګه د افغانستان سياسي نظام څه ډول توضيح کوئ؟

لکه څرنګه چې د افغانستان د ۲۰۰٤ کال په اساسي قانون کې راغلي دي، څه ډول پوهېداي شو چې افغانستان يو اسلامي جمهوري دولت دي؟

خپلواك او جمهوري حکومت څه معني لري؟

حقوق اساسی بود.

اکنون ما بسوی مطالعه قانون اساسی سال ۲۰۰٤ میرویم[ وظیفه خوانش صنف بعدی – قانون اساسی، مقدمه، ماده های ۱ – ۲۱، ٦۰ – ۸۰، ۱۳٤، ۱۳٦- ۱٤۸، و ۱٥۱ – ۱٥۷ ]

**II. قانون اساسی سال ۱۳۸۲**

**اهداف آموزشی – ساعت های ۳ – ٦**

- تشریح نظام سیاسی در افغانستان
- بر شماری وجایب دولت
- توضیح هدف و وجایب قوهٔ مجریه کشور
- توضیح هدف و وجایب قوهٔ مقننه کشور
- تشریح قوهٔ قضائیه کشور
- ذکر ویژگیهای یک قوهٔ قضائیه مستقل
- اثبات اهمیت سیستم کنترول و توازن **(Checks and Balances)**

**(الف). نظام سیاسی**
نظام سیاسی افغانستان منحیث یک جمهوری اسلامی را چگونه توضیح می دهید؟

طوری که در قانون اساسی ۲۰۰٤ آمده است، چگونه می توان دانست که افغانستان یک جمهوری اسلامی است؟

طرز حکومت آزاد و جمهوری به چه معنی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: حکومت د خلکو د ټاکل شویو استازو لخوا اداره کېږي او د خلکو په وړاندې ځواب ورکوونکي وي.

د حکومت نور شکلونه کوم دي؟

- مطلقه سلطنت
- مشروطه سلطنت
- فردي استبدادي (دیکتاتوري)
- پوځي دیکتاتوري
- کمونیستي جمهوري
- سوسیالیستي جمهوري

په افغانستان کې سیاسي نظام د کومو ځانګړتیاوو لرونکی دی؟

- د ولسمشر او د خلکو د استازو علني ټاکنې
- د دولت درې خپلواک مګر مساوي ځواکونه (اجرائیه، مقننه او قضائیه)
- کنټرول او توازن (Checks and Balances)
- د افرادو د معینو حقوقو او شخصي خپلواکیو تضمین
- د دولت لخوا د مشخصو خدماتو د وړاندې کولو تضمین
- په اساسي قانون کې د تعدیل مشخصه پروسه

پرېږدئ په ځیر سره د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون تر

جواب: حکومت از طریق نمایندگان انتخابی مردم اداره گریده و در برابر مردم پاسخگو می باشد.

برخی از اشکال دیگر حکومت کدام ها میباشند؟

- سلطنت مطلقه
- سلطنت مشروطه
- استبداد فردی (دیکتاتوری)
- دیکتاتوری نظامی
- جمهوری کمونیستی
- جمهوری سوسیالیستی

نظام سیاسی در افغانستان دارای چه ویژگیهایی می باشد؟

- انتخابات آزاد و علنی رئیس جمهور و نمایندگان مردم
- سه قوهٔ مستقل ولی مساوی تشکیل دهنده دولت ( مجریه، مقننه، و قضائیه)
- کنترول و توازن (Checks and Balances)
- تضمین حقوق معین افراد و آزادی شخصی
- تضمین ارائه خدمات مشخص توسط دولت
- پروسه مشخص ایجاد تعدیل در قانون اساسی

بگذارید با دقت بیشتر قانون اساسی ۱۳۸۲ را

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث لانـدې ونیسـو، البتـه د درې ګونـو څواکونـو څخه په پیل سره.

مورد بحث قرار دهـیم، البـته بـا شـــروع از قـوا سه ګانه دولت.

**(ب) دولت:**

د دولت د پراخه مفهوم (State) او د هغه د محدود (Government) تر منځ توپیر په څه کې دئ؟

**(ب) . دولت**

فـرق بـین مفهـوم وسـیع دولـت (State) و مفهـوم محدود آن (Government) درچیست؟

- پـــه دولـــت کـــې درې ګونـه څواکونـه شامل دي
- دولـت د حقوقـو او مکلفیتونـو لرونکـی دی. (۱–۲۱ مادې)
- لـــنډه داچـــــې دولـــت د افــغانســـتان هېواد دی.

- دولـــت دربـــر ګیـــرنـــده مجمـوع قـوای سه ګانه است.
- دولـت دارای حقـوق و وجایـب مـی باشـد. (ماده های ۱– ۲۱)
- خـلاصـــه اینکـه دولـت عبـارت اسـت از کشور افغانستان.

راځـــــئ د دولـــــت ځینـــــې حقـــــوق او وجـایـــب وڅېړو.

بیاییـد برخـی از ایـن حقـوق و وجایـب دولـت را بررسی نمائیم.

(۱ ماده) افغانستان، خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

(مـاده ۱) افغانسـتان، دولـت جمهـوری اسـلامی، مستقل، واحد و غیر قابل تجزیه می باشد.

(۲ مـاده) د افغانسـتان د اسـلامي جمهـوري دولـت دین د اسلام سپیڅلی دین دی.

دیـن دولـت جمهـوری اسـلامی افغانسـتان، دیـن مقدس اسلام است.

د نورو دینونو پیروان د خپـل دیـن پـه پیـروۍ او د دیني مراسمو په اجراء کې د قـانون د حکمونـو پـه حدودو کې آزاد دي.

(ماده ۲) پیروان سـایر ادیـان در پیـروی از دیـن و اجرای مراسم دینی شان در حـدود احکـام قـانون آزاد می باشند.

(۳ ماده) په افغانستان کې هېڅ قـانون نشـي کـولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکـامو مخالف وي.

(ماده ۳) در افــغانســـتان هیچ قـانون نمی توانـد مخـالـــف معـــتقدات و احکـام دیـن مقـدس اسلام باشد.

(٤ ماده) په افغانستان کې ملـي حاکمیـت پـه ملـت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یـې پخپلـه یـا د خپلو استازو له لارې عملي کړي. د افغانستان ملـت لـه ټولـو هغـه افـرادو څخـه عبـارت دی چـی د

(ماده ٤) حاکمیت ملی در افغانستان به ملت تعلـق دارد که به طـور مستقیم و یـا توسـط نماینـدگان خـود آن را اعمـال مـی کنـد. ملـــت افغانسـتان عبـارت اسـت از تمـــام افـــرادی کـــه تابعیـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان تابعيت ولري.

(۵ مـاده) د دغـه اساسـي قـانون او نـورو قوانينـو د احکـامو تطبيـق، د خپلـواکۍ، ملـي واکمنـۍ او ځمکنـۍ بشـپړتيا دفـاع او د امنيـت او د هېـواد د دفاعي وړتـــيا تأميـــن د دولـت د اساسـي دنـدو څخه دي.

(۶ ماده) دولت د انساني کرامت د ساتلو، بشري حقوقـو د ملاتـړ، د ډيموکراسـۍ د تحقّـق، ملـي يووالي د تامين، د ټولو قومونو او قبايلو تـر مـنځ د برابرۍ او د هېواد پـه ټولـو سيمو کـې د متـوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت پر بنسټ د يـوې هوسـا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

(۷ ماده) دولـت د ملگـرو ملتونـو د منشـور، د بـين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانسـتان لـه هغوي سره تړاو لري او د بشري حقوقـو د نړيـوالې اعلاميې رعايت کوي. دولت د هـر راز تروريسـتي اعمــالو، د مخـدره توکـو د کرلـو او قاچـاق او د مسکراتو د توليد او استعمال مخنيوی کوي.

(۸ ماده) دولت د هېواد بهرنی سياست د خپلواکۍ، ملي ګټو او ځمکنۍ بشپړتيا په ساتلو، نه مـداخلې، ښه ګاونډيتوب، دوه اړخيزه درناوي او د حقوقـو د برابرۍ پر بنسټ تنظيموي.

دولت بايـد د خصوصـي پـانگې اچـونې، اقتصـادي ودې، د کرنـې د پراختيـا، د اسـتوګنځي د چمتـو کولـو او مسـتحقينو تـه د ځمکـې د توزيـع ملاتـړ وکړي او د ځنګلونو او د ژوند چاپېريال پـه سـاتنه کې لازم تدابير ونيسي. (۱۰-۱۵ مادې)

(۱۷ ماده) دولت په ټولو کچـو د پـوهنې د ودې او د ديني زده کړو د پراختيا، د جوماتونو، مدرسـو او ديني مرکزونـو د وضـعې د ښـه والـي او تنظـيم

افغانستان را دارا باشند.

(ماده ۵) تطبـــيق احـــکام ايـن قـانون اساسـی و ســـاير قـوانين، دفـــاع از اســـتقلال، حاکميـت ملـی و تمـــاميـــت ارضـی و تأمـــين امنيـت و قابليت دفاعی کـشور از وظـايـف اساسـی دولـت می باشد.

(مـاده ۶) دولـت بـه ايجـاد يـک جامعـه مرفـه و مترقـی بـر اساس عدالت اجتماعی، حفظ کرامت انسانی، حمايت حقـوق بشـر، تحقـق دموکراسـی، تامين وحـــدت ملی، برابـری بـين همـه اقـوام و قبايـل و انکشـاف متـوازن در همـه منـاطق کشـور مکلف می باشد.

(ماده ۷) دولت منشور ملل متحـد، معاهـدات بـين الدول، ميثاق های بين المللی که افغانسـتان بـه آن ملحق شده است و اعـلاميۀ جهانی حقوق بشـر را رعايــت مــی کنــد. دولــت از هــر نــوع اعمــال تروريستی، زرع و قاچاق مـواد مخـدر و توليـد و استعمال مسکرات جلوگيری می کند.

(ماده ۸) دولت سياست خارجی کشور را بر مبنای حفظ استقلال، منافع ملی و تماميت ارضی و عـدم مداخله، حسن همجواری، احترام متقابل و تساوی حقوق تنظيم می نمايد.

دولت بايـد از سـرمايه گـذاری خصوصـی، رشـد اقتصادی، توسعه زراعـت، و تهيـه مسـکن، توزيـع زمين به مستحقين حمايت نموده و در مورد حفظ و بهبود جنگلات و محيط زيسـت تـدابير لازم را اتخاذ نمايد. (ماده های ۱۰ الی ۱۵)

(مـاده ۱۷) دولـت بـرای ارتقـای معـارف در همـه سطوح، انکشاف تعليمـات دينـی، تنظـيم و بهبـود وضع مساجد، مدارس و مراکـز دينـی تـدابير لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره تدبيرونه نيسي.

اتخاذ می نماید.

پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي. د هېواد د تقويم مبداء د پيغمبر اکرم(ص) پر هجرت ولاړ دي. د افغانستان بيرغ او ملي سرود تنظيمېږي. د هېواد پايتخت د کابل ښار دی (۱٦، ۱۸-۲۱ مادې).

پشتو و دری زبانهای رسمی دولت می باشند. مبدأ تقویم کشور بر هجرت پیغمبر اکرم (ص) استوار است. بیرق و سرود ملی افغانستان تنظیم می گردد. کابل پایتخت افغانستان می باشد. (ماده های ۱٦، ۱۸ – ۲۱).

**(ج) د دولت اجرائيه ځواک:**

**(ج) قوۀ مجریۀ دولت**

**د اجرائيه ځواک موخه:**

د دولت د اجرائيه قوی هدف څه دی؟

- د هغه خدماتو وړاندې کول چې د افغانستان په اساسي قانون کې تصريح شويدي.
- د اساسي قانون لخوا د ورکړل شويو فردي حقوقو او شخصي خپلواکيو ملاتړ او تضمين
- د هېواد د قوانينو تطبيق
- د دولت د نورو ځواکونو سره د دغه ځواک د اړيکو په تړاو د اساسي قانون د احکامو تطبيق

**هدف قوۀ مجریه:**

هدف قوۀ مجریه دولت چیست؟

- ارائه خدماتی که در قانون اساسی افغانستان تصریح گردیده است
- حمایت و تضمین حقوق فردی و آزادی های شخصی اعطا شده در قانون اساسی
- اجرا و تطبیق قوانین کشور
- تطبیق احکام قانون اساسی در ارتباط با روابط این قوه با دیگر قوه های دولت

**د اجرائيه ځواک تشکيل:**

د اجرائيه ځواک جوړښت د اساسي قانون په رڼا کې څرنګه دي؟

- ولسمشر (٦۰-۷۰ مادې)
- د ولسمشر لمړی مرستيال (٦۰ ماده)
- د ولسمشر دوهم مرستيال (٦۰ ماده)
- وزيران (۷۱-۸۰ مادې)
- سيمه ايزې اداري (۱۳٦-

**تشکیل قوۀ مجریه:**

تشکیل قوۀ مجریه در پرتو قانون اساسی چگونه می باشد؟

- رئیس جمهور (ماده های ٦۰ – ۷۰)
- معاون اول رئیس جمهور (ماده ٦۰)
- معاون دوم رئیس جمهور (ماده ٦۰)
- وزراء (ماده های ۷۱ – ۸۰)
- واحد های اداری محلی (ماده های

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۲ مادې)

**ولسمشر او مرستيالان:**

ټــــاکنــــې، شــــــرايط، کــاري دوره، اســتعفي او عزل

- ولســــــمشر د افــغانســــــتان د اســــلامي جمهوري دولت مشري په غاړه لري، خپل صلاحيتونه پــه اجـــــرائيه، مقننـه او قضـائيه برخو کې د اساسي قانون د احکامو سره سم عملي کوي.

- ولســــمشر دوه، لـومړی او دوهـم مرسـتيالان لــــــري.

- د ولسمشـری کانديـد د خپلـو دو مرسـتيالانو نومونه د خپل کانديد کېدو سره سم ملت تـه اعلانوي.

- (٦٠ مــاده) د ولسمشــر لــومړی مرســتيال د ولسمشر د غياب، استعفي يا وفات پـه حالـت کې د دغه اساسي قـانون د منـدرجو احکـامو سره سم عمل کوي.

- ولسمشر د رايو ورکوونکو د آزادو، عمومي ، پټو او مستقيمو رايو له لارې په سلو کې تـر پنځوســو د زياتـــو رايـو پـه ترلاسـه کولـو ټاکل کيږي.

- د ولسمشـر وظيفـه د ټـاکنو وروسـته د پـنځم کــال د غبرګـولي پـه لـومړی نيټـه پـاي تـه رسيږي.

- (٦١ مـاده) د ولســــمشر کــــار تـر پـاي تـه رسېدو د مخه د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره ټاکنې، له دېرشــو تر شپېتو ورځـو پـه موده

۱۳٦ – ۱۴۲)

**رئیس جمهور و معاونین:**

انتخابــات، شــرايط، دوره تصــدی، اســتعفاء، و برکناری

- رئـيس جمهـور در راس دولـت جمهـوری اسلامی افغانستان قرار داشته، صلاحيت های خـود را در عرصـه هـای اجرائيـه، تقنينيـه و قضائيه، مطابق به احکام ايـن قـانون اساسـی، اعمـال می کند.

- رئيـس جمهـور دارای دو معاون اول و دوم، می باشد.

- کـانـديـد رياســت جمهــوری نـام هــر دو معاون را همزمان با کـانـديـد شدن خـود بـه ملت اعلام ميدارد.

- (مــاده ٦٠) معــاون اول رئـيس جمهــور در حالـت غيـاب، اسـتعفأ و يـا وفـات رئـيس جمهـور، مطابــق بــه احکـام منــدرج ايــن قانون اساسی، عمل می کند.

- رئـيس جمهـور بـا کسـب اکثريـت بـيش از پنجاه فی صد آرای رای دهندگان از طريـق رأی گيری آزاد، عمومی، سـری و مسـتقيم انتخاب می گردد.

- وظيفــه رئيــــس جمهـور در اول جـوزای ســــال پنجم بعـــد از انتــــخابات پـايان می يابد.

- (ماده ٦١) انتخابات بـه منظـور تعيـين رئـيس جمهـور جديـد در خـلال مـدت سـی الـی شصــت روز قبــل از پايــان کـــار رئـــيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کېږي.

- که چېرې په لومړي پړاو کې له کاندیدانو څخه یو هم ونه کړای شي چې په سلو کې تر پنځوسو زیاتې رایې تر لاسه کړي ، ټاکنې د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو د نتایجو د نېټې تر اعلان وروسته د دوو اوونیو په اوږدو کې ترسره کېږي. دا ځل یوازې هغه دوه تنه کاندیدان په ټاکنو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې یې تر ټولو زیاتې رایې تر لاسه کړې وي.
- د ټاکنو په دویم پړاو کې هغه څوک چې د رایو اکثریت تر لاسه کړي، ولسمشر ګڼل کېږي.
- که چېرې د ولسمشرۍ یو کاندید د رای ګیرۍ د لومړي یا دویم پړاو په بهیر او یا تر ټاکنو وروسته او یا د انتخاباتو د نتایجو له اعلان پخوا مړ شي، نوې ټاکنې د قانون له حکمونو سره سم کېږي.
- څوک چې ولسمشرۍ ته کاندید کېږي باید لاندې شرایط ولري:

۱) د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زیږېدلی وي او د بل هېواد تابعیت ونلري؛

۲) د کاندیدېدو په ورځ یې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي؛

۳) د محکمې لخوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي؛ (۶۲ ماده)

جمهور برگزار میگردد.

- هرگاه در دور اول هیچ یک از کاندیدان نتواند اکثریت بیش از پنجاه فی صد آرا را به دست آورد، انتخابات برای دور دوم در ظرف دو هفته از تاریخ اعلام نتایج انتخابات برگزار می گردد و در این دور تنها دو نفر از کاندیدانی که بیشترین آرا را در دور اول به دست آورده اند، شرکت می نمایند.
- در دور دوم انتخابات، کاندیدی که اکثریت آرا را کسب کند، رئیس جمهور شناخته می شود.
- هرگاه یکی از کاندیدان ریاست جمهوری در جریان دور اول یا دوم رای گیری و یا بعد از انتخابات و قبل از اعلام نتایج انتخابات وفات نماید، انتخابات مجدد مطابق به احکام قانون برگزار میگردد.
- شخصی که به ریاست جمهوری کاندید می شود، واجد شرایط ذیل می باشد:

۱) تبعهٔ افغانستان، مسلمان و متولد از والدین افغان بوده و تابعیت کشور دیگری را نداشته باشد؛

۲) در روز کاندید شدن سن وی از چهل سال کمتر نباشد؛

۳) از طرف محکمه به ارتکاب جرایم ضد بشری، جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد. (ماده ۶۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ شخص نشي کولاي له دوو دورو زيات د ولسمشر په توگه وټاکل شي. پدې ماده کې راغلی حکم د ولسمشر د مرستيالانو په برخه کې هم تطبيقيږي. (٦٢ ماده)

هيچ شخص نمی تواند بيش از دو دوره به حيث رئيس جمهور انتخاب گردد. حکم مندرج اين ماده در مورد معاونين رئيس جمهور نيز تطبيق می گردد. (ماده ٦٢)

آيا هغه څوک چې د ولسمشر د مرستيال په توگه دنده سرته رسوي کولای شي دوه دورې نورې د ولسمشرۍ دنده سرته ورسوي؟

آيا کسی که منحيث معاون رئيس جمهور ايفای وظيفه نموده باشد می تواند دو دوره ديگر متصدی پست رياست جمهوری باشد؟

بلې- د ولسمشر مرستيالان کولاي شي د دغه اساسي قانون د احکامو سره سم ځان ولسمشرۍ ته کانديد کړي. (٦٧ ماده)

بلی - معاونين رئيس جمهور می توانند مطابق به احکام اين قانون اساسی خود را به رياست جمهوری کانديد نمايند. (ماده ٦٧)

د ولسمشر د استعفی، عزل يا وفات يا هم په صعب العلاج ناروغی د اخته کېدوپه صورت کې چې د دندې د اجراء مانع شي، د ولسمشر لومړی مرستيال د ولسمشر صلاحيتونه او دندې په غاړه اخلي.

در صورت استعفا، عزل يا وفات رئيس جمهور و يا مريضی صعب العلاج که مانع اجراء وظيفه شود، معاون اول رئيس جمهور صلاحيتها و وظايف رئيس جمهور را به عهده می گيرد.

ولسمشر خپله استعفاء شخصاً ملي شوری ته اعلانوي.

رئيس جمهور استعفای خود را شخصاً به شورای ملی اعلام می نمايد.

د صعب العلاج ناروغی تثبيت د هغه طبي هيئت لخوا کېږي چې ستره محکمه يې ټاکي.

تثبيت مريضی صعب العلاج توسط هيئت طبی با صلاحيت که از طرف ستره محکمه تعيين ميگردد صورت ميگيرد.

(٦٧ ماده) په داسې حالاتو کې د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره په درېو مياشتو کې دننه د اساسي قانون د يوشپېتمې مادې سره سم ټاکنې کېږي.

(ماده ٦٧) در اين حالات در خلال مدت سه ماه انتخابات به منظور تعيين رئيس جمهور جديد طبق مادۀ شصت و يکم اين قانون اساسی برگزار ميگردد.

د ولسمشر لومړی مرستيال د لنډمهاله ولسمشر په توگه د دندې د ترسره کولو په موده کې لاندينی چارې نشي ترسره کولاي:

(ماده ٦٧) معاون اول رئيس جمهور در زمان تصدی به حيث رئيس جمهور موقت امور ذيل را انجام داده نمی تواند:

۱. د اساسي قانون تعديل؛ ۲. د وزيرانو عزل؛ ۳. ټول پوښتنه

۱. تعديل قانون اساسی؛ ۲- عزل وزرا؛ ۳- مراجعه به آرای عامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦٨ ماده) كه چېرې د ولسمشر يو مرستيال استعفي وكړي يا مړ شي د هغه پر ځاي بل شخص د ولسمشر لخوا او د ولسي جرګې په تاييد ټاكل كيږي.

د ولسمشر او د لومړي مرستيال د يوځايي مړينې په صورت كې په ترتيب سره دويم مرستيال، د مشرانو جرګې رئيس، د ولسي جرګې رئيس، او د بهرنيو چارو وزير يو په بل پسې ددې اساسي قانون د (اووه شپېتمې) مادې له حكم سره سم د ولسمشر دندې په غاړه اخلي.

(٦٩ ماده) پر ولسمشر د بشري ضد جرمونو، ملي خيانت يا جنايت د ارتكاب تور لګول د ولسي جرګې د ټولو غړيو د دريمې برخې له خوا غوښتل كېداي شي. كه چېرې دا غوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو لخوا تاييد شي، ولسي جرګه د يوې مياشتې د ننه لويه جرګه دايروي. كه لويه جرګه منسوب شوى شخص د اتهام د ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو په اكثريت تصويب كړي، ولسمشر له وظيفې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محكمې ته سپارل كيږي. ځانګړې محكمه د ولسي جرګې له دريو غړيو، د سترې محكمې له دريو غړيو چې لويه جرګه يې ټاكي، او د مشرانو جرګې له رئيس څخه جوړيږي. دعوي د هغه شخص لخوا چې د لويې جرګې لخوا ټاكل كيږي، اقامه كيږي.

همدارنګه د اساسي قانون ٦٩ ماده تصريح كوي چې : ((پدې حالت كې ددې اساسي قانون اووه شپېتمه ماده كې راغلي حكمونه تطبيقيږي)) د دغه جملې منظور څه دی؟ آيا منظور يې دادی چې ولسمشر مخكې لدې چې د هغه پر وړاندې محكمه حكم صادر كړي، استيضاح كيږي؟

(٧٠ ماده) ولسمشر د خدمت د دورې تر ختمېدو

(ماده ٦٨) هرگاه يكى از معاونين رئيس جمهور استعفاء و يا وفات نمايد عوض وى شخص ديگرى توسط رئيس جمهور به تأييد ولسى جرگه تعيين ميگردد.

(٦٨) در صورت وفات همزمان رئيس جمهور و معاون اول وى، بالترتيب معاون دوم، رئيس مشرانو جرگه، رئيس ولسى جرگه و وزير خارجه يكى بعد ديگرى مطابق به حكم مندرج مادۀ شصت و هفتم اين قانون اساسى وظايف رئيس جمهور را به عده ميگيرد.

(ماده ٦٩) اتهام عليه رئيس جمهور به ارتكاب جرايم ضد بشرى، خيانت ملى يا جنايت، از طرف يك ثلث كل اعضاى ولسى جرگه تقاضا شده مى تواند. در صورتيكه اين تقاضا از طرف دو ثلث كل آراى ولسى جرگه تائيد گردد، ولسى جرگه در خلال مدت يك ماه لويه جرگه را داير مى نمايد. هرگاه لويه جرگه اتهام منسوب را به اكثريت دو ثلث آراى كل اعضا تصويب نمايد، رئيس جمهور از وظيفه منفصل و موضوع به محكمۀ خاص محول ميگردد. محكمۀ خاص متشكل است از رئيس مشرانو جرگه، سه نفر از اعضاى ولسى جرگه و سه نفر از اعضاى ستره محكمه به تعيين لويه جرگه، اقامۀ دعوى توسط شخصى كه از طرف لويه جرگه تعيين مى گردد صورت ميگيرد.

ماده ٦٩ قانون اساس همچنين تصريح مى دارد: "در اين حالت احكام مندرج مادۀ شصت و هفتم اين قانون اساسى تطبيق مى گردد" منظور از اين جمله چيست؟ آيا منظور اين است كه رئيس جمهور قبل از اينكه محكمه عليه وى حكمى را صادر نمايد، مورد استيضاح قرار مى گيرد؟.

(ماده ٧٠) رئيس جمهور بعد از ختم دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د عزل له حالته پرته د خپل ژوند په پاتې موده کې د جمهوري رياست د دورې د مالي حقوقو څخه د قانون له حکمونو سره سم ګټه اخلي.

خدمت، به استثنای حالت عزل، برای بقیه مدت حیات از حقوق مالی دوره ریاست جمهوری مطابق به احکام قانون مستفید می شود.

**صلاحيتونه او وجايب:**

د ولسمشر صلاحيتونه او وجيبې د اساسي قانون په ٦٤ او ترېوه حده په ٦٣ ماده کې د ولسمشرۍ د لوړې په متن کې توضيح شوي دي.

**صلاحیت ها و وجایب:**

صلاحیت ها و وجایب رئیس جمهور در ماده ٦٤ قانون اساسی و تا حدی نیز در متن سوگند نامه ریاست جمهوری مندرج ماده ٦٣ توضیح گردیده است.

د ٤٦ مادې سره سم د ولسمشر صلاحيتونه او وجيبې کوم دي؟

طبق ماده ٦٤، صلاحیت ها و وجایب رئیس جمهور کدام ها اند؟

- د اساسي قانون د اجراء (ترسره کېدنې) څارل؛ ( د ٦٤ مادې ١ فقره)
- د افغانستان د وسله والو ځواکونو ستر مشرتوب؛ د ملي شوري په تاييد د جګړې او متارکې اعلانول؛ د ځمکنۍ بشپړتيا او د خپلواکۍ د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازمې پرېکړې کول؛ د ملي شوري په تاييد د هېواد څخه بهر د وسله والو ځواکونو د ټولګيو لېږل. (۲-٦ فقرې)

- مراقبت از تطبیق قانون اساسی؛ (فقره ١ماده ٦٤).
- قیادت اعلای قوای مسلح کشور؛ اعلان حرب و متارکه به تایید شورای ملی؛ اتخاذ تصمیم لازم در حالت دفاع از تمامیت ارضی و حفظ استقلال؛ فرستادن قطعات قوای مسلح به خارج از افغانستان به تأیید شورای ملی. (فقره های ۲-٦)

د دې اساسي قانون د نهمې مادې د مندرج حالت څخه پرته د لويې جرګې راغوښتل؛ (۷ فقره)

دایر نمودن لویه جرگه به استثنای حالت مندرج مادهٔ شصت و نهم این قانون اساسی؛ (فقره ۷).

د ملي شوري او لويې جرګې د غونډو پرانيستل؛ (۹ فقره)

افتتاح اجلاس شورای ملی و لویه جرگه؛ (فقره ۹).

د ولسمشرۍ د مرستيالانو د استعفی منل (۱۰ فقره)

قبول استعفای معاونین ریاست جمهوری؛ (فقره ۱۰).

- د ولسي جرګې په تاييد د وزيرانو، لوي څارنوال، د مرکزي بانک، د ملي امنيت او د

- تعیین وزرا، لوی څارنوال، رئیس بانک مرکزی، رئیس امنیت ملی و رئیس سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې مياشتې د رئيسانو ټاکل او د هغوي عزل او د استعفي منل؛ (۱۱ فقره)

- د ولسي جرگې په تاييد د سترې محکمې د رئيس او غړو ټاکل؛ (۱۲ فقره)
- د قانون له حکمونو سره سم د قاضيانو، د وسله والو ځواکونو، پوليسو، د ملي امنيت د منصبدارانو، او د لوړ پوړو مامورينو ټاکل، تقاعد ورکول، د استعفي منل او عزلول؛
- په بهرنيو هېوادونو او نړيوالو موسسو کې د افغانستان د سياسي نمايندگيو د مشرانو ټاکل؛ په افغانستان کې د بهرنيو سياسي استازو د باورليکونو منل؛ د قانون له حکمونو سره سم د دولتونو تر منځ د معاهدو د عقد لپاره د باورليکونو ورکول؛ ( ۱٤، ۱۵ او ۱۷ فقرې).
- د قوانينو او تقنيني فرمانونو توشيح کول (۱٦ فقره)
- د قانون له حکمونو سره سم د جزاگانو تخفيف او ببنل؛ (۱۸ فقره)
- د قانون له حکمونو سره سم د مډالونو، نښانونو، او افتخاري لقبونو ورکول؛
- د هېواد د ادارې د سمون په منظور، د قانون له مخې د کمېسيونونو جوړول؛ (۲۰ فقره)
- پدې اساسي قانون کې نور راغلي واکونه او دندې.

د يادو شويو واکونو برسېره ولسمشر د ٦٥ مادې په بنسټ کولاي شي د مهمو ملي، سياسي، ټولنيزو او اقتصادي موضوعاتو په هکله په افغانستان کې ټولپوښتنه وکړي، ټولپوښتنه بايد ددې

میاشت به تایید ولسی جرگه و عزل و قبول استعفای آنها؛ (فقره ۱۱).

- تعیین رئیس و اعضای ستره محکمه به تایید ولسی جرگه (فقره ۱۲).
- تعیین، تقاعد، قبول استعفا و عزل قضات، صاحب منصبان قوای مسلح، پولیس و امنیت ملی و مامورین عالی رتبه مطابق به احکام قانون؛ (فقره ۱۳).
- تعیین سران نمایندگی های سیاسی افغانستان نزد دول خارجی و مؤسسات بین المللی؛ قبول اعتماد نامه های نمایندگان سیاسی خارجی در افغانستان، و اعطای اعتبار نامه به غرض عقد معاهدات بین الدول مطابق به احکام قانون؛ (فقره های ۱٤، ۱۵ و ۱۷).
- توشیح قوانین و فرامین تقنینی (فقره ۱٦).
- تخفیف و عفو مجازات مطابق قانون؛ (فقره ۱۸)
- اعطای مدالها، نشانها و القاب افتخاری مطابق به احکام قانون؛ (فقره ۱۹)
- تأسیس کمیسیون ها به منظور بهبود ادارهٔ کشور مطابق به احکام قانون؛ (فقره ۲۰).
- سایر صلاحیتها و وظایف مندرج این قانون اساسی (فقره ۲۱)

برعلاوه صلاحیت های فوق الذکر، رئیس جمهور طبق ماده ٦٥ می تواند در ارتباط با موضوعات مهم ملی، سیاسی، اجتماعی و یا اقتصادی به آرای عمومی مردم افغانستان مراجعه نماید، مادامیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي قانون د حکمونو مخالفه او دهغه د تعديل مستلزم نه وي.

د يوه بنسټيز اصل په توګه د شپږ شپيتمې مادې سره سم ولسمشر پـدې اساسـي قـانون کـې د منـدرجو واکونو د عملي کولو پـه برخـه کـې د افغانسـتان د خلکو لوړ مصلحتونه پـه پـام کـې نيسـي. او نشـي کولاي د قانون د حکـم پرتـه، دولتـي ملکيتونـه او شـتمنۍ وپلـوري يـا يـې وبښـي.او همدارنګـه نشـي کولای د خپل کـار پـه دوران کـې لـه خپـل مقـام څخـه پـه ژبنيـو، سـيمه ييـزو، قـومي، مـذهبي، او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

لکه څرنګه چې وينو په ٦٤ ماده کې تصريح شوي واکونه او وجايـب پـدې قيـد سـره چـې بايـد ټـول واکونه د قـانون ســـره سـم عملـي شـي، محـدود شوي دي.

**دا څه معني لري؟**

- يعنـــي ولسمــــشر پـه خپـل سـر کـار نشـي کولای.
- د ولسمشر عمل اقتضا کوي چې  دپارلمـان د هغه په اړه يو قانون تصويب کړي.
- د ولسمشر واکــونه د هغه څه په وړاندې چې د افغانســتان پـــه قوانينـــو کـــې راغلـــي دي، محدودوي.

د ولسمشر  يـا د اجرائيـه ځـواک د واکونـو پـه اړه دوه نور لوي محدوديتونه کوم دي؟

- د ولســــمشر او اجــرائيـــه ځـــواک هـر اقـــدام او فـــعاليــت بايـــد پـه اساسـي قـانون کـې د ورکـړل شـويو صـلاحيتونو پـر بنست وي.

مراجعه به آرای عمومی مناقض احکام این قـانون اساسی و یا مستلزم تعدیل آن باشد.

به عنـوان یـک اصـل اساسـی، طبـق مـاده شصـت وششـم، رئـیس جمهـور در اعمـال صـلاحیتهای مندرج ایـن قـانون اساسـی، مصـالح علیـای مـردم افغانـــستان را رعـــایت مـی کنـد. و نمـی توانـد بـدون حکـم قـــانون، ملکیـت هـای دولتـی را بفـــروشـــد یـــا اهـــــداء کنـد. و همچنـین وی نمی تواند در زمـــان تصدی وظیفه از مقـام خـود بـه ملحوظـات لسـانی، سـمتی، قـومی، مـذهبی و حزبی استفاده نماید.

طوری که می بینیم، اعمال صلاحیتها و وجایـب تصریح شده در ماده ٦٤ با این قید کـه بایـد همـه این صلاحیتها در مطابقت با قـانون اعمـال گـردد، محدود گردیده است.

**این به چه معنا است؟**

- یعنی رئیس جمهور نمـی توانـد خـود سـرانه عمل نماید
- و عملکرد وی اقتضا می نمایـد تـا در مـورد، پارلمان اقدام بتصویب یک قانون نماید
- صلاحیت و اختیارات رئیس جمهور را نسبت بـه آنچـه در قـوانین افغانسـتان آمـده اسـت، محدود می نماید.

دو محـدودیت عمـده دیگـر در مـورد صـلاحیت های رئیس جمهور یا قوه اجرایه کدام هایند؟

- هریـک از اقـدامات و فعالیـت هـای رئـیس جمهـــور و قـــوۀ اجرائیـــه بایـــد اســـتوار بـــا صـلاحیتهای اعطـاء شـده در قـانون اساسـی باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اجرائیه ځواک هېڅ فعالیت د اساسي قـانون د احکامو مخالف کېداي نشي.

د اجرائیـه ځـواک د صـلاحیتونو څخـه د ولسمشـر ناوړه ګټه اخیستنه څه ډول او د کومې مرجع لخـوا کنټرولېږي؟

- پارلمان
- ستره محکمه
- استیضاح

د دولت د مقننه او قضائیه ځـواک لپـاره د اساسـي قانون د ټاکل شـوي چوکـاټ د څېړنـې وروسـته د کنټـرول او تـوازن **(Checks and Balances)** تـه راګرځو. مګر مخکې تـر هغـوي وزارتونـو تـه یـوه لنډه کتنه کوو.

**وزیران:**

۷۱ ماده تصریح کوي چې (( حکومت)) د وزیرانو څخه جوړ شوی چې د ولسمشر تر ریاست لانـدې دنـده ســــرته رســــوي. پـه بلـه وینـا وزیـران د ولسمشـر لخـوا ټاکـل کېـږي تـر څـو د حکومـت ورځنی دندې پـر مـخ بـوزي او د اجرائیـه ځـواک مسئولیتونه اداء کړي. دوي دغه کار د وزارتونو لـه لارې سرته رسوي.

(۷۲ ماده) څوک چې د وزیر په توګه ټاکل کیږي بایـد د افغانسـتان تبعـه، د لـوړو زده کـړو، کـاري تجربې نیک شهرت خاوند وي او عمر یـې تـر ۳۵ کاله کـم نـه وي. او همدارنګـه د سـترې محکمـې لخوا د بشر ضد، جنایت په تور یا د مـدني حقوقـو څخه په حرمان نه وي محکوم شوی.

- وزیـران د دنـدې د پیـل څخـه مخکـې لـوړه کوي. (۷٤ ماده) او د دوي دندې د حکومـت

- هیچ اقدام ویا فعالیت قوهٔ اجرائیه نمـی توانـد مخالف با احکام قانون اساسی باشد.

سوء استفاده رئیس جمهور از صلاحیت های قوهٔ اجرائیه چه گونـه و توسـط کـدام مرجـع کنتـرول میگردد؟

- پارلمان
- ستره محکمه
- استیضاح

بعد از بررسی چهارچوب تعیین شده توسط قانون اساسی برای قوا مقننه و قضـائیه دولـت، بـه مسـئله مهم کنتـرول و تـوازن **(Checks and Balances)** بر می گردیم. اما قبل از آن نظـری بـه وزارت هـا خواهیم داشت.

**وزراء**

ماده ۷۱ تصـریح میـدارد کـه "حکومـت" متشـکل است از وزراء که تحـت ریاسـت رئـیس جمهـور اجرای وظیفه می نماینـد. بـه عبـارت دیگـر وزراء توسط رئیس جمهور انتخاب می شوند تا وظـایف روز مره حکومت را به پیش برده و مسئولیت های قوهٔ اجرائیه را ادا نمایند. ایشان این کـار از طریـق وزارتخانه ها انجام می دهند.

(ماده ۷۲) شخصی که بـه حیـث وزیـر تعیـین مـی شود باید تبعه افغانستان، دارای تحصـیلات عـالی، تجربه کاری، شهرت نیک بوده و عمـر وی از ۳۵ سال کمتر نباشد. و همچنین از طـرف محکمـه بـه ارتکاب جرایم ضد بشری، جنایت و یا حرمـان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد.

- وزراء قبل از تصدی وظیفه حلف به جـا مـی آورنـد. (مـاده ۷٤) و وظـایف ایشـان عبـارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دندو څخه چې د اساسي قانون په ۷۵ ماده کې توضیح شویدي:

- د دغه اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول؛ (۱ فقره)
- د خپلواکۍ ساتل، له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او ګټو ساتل: (۲ فقره)
- د عامه نظم او امن ټینګلول اود هر راز اداري فساد له منځه وړل؛ (۳ فقره)
- د بودیجې تر تیبول، د دولت د مالي وضعې تنظیمول او د عامه شتمنۍ ساتل؛ (٤ فقره)
- د ټولنیزو ، فرهنګي، اقتصادي او ټکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق؛ (۵ فقره)
- ملي شورا ته د مالي کال په پاي کې د سرته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په باب راپور ورکول؛ (٦ فقره)
- د هغو نورو دندو تر سره کول چې د دې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له دندو څخه ګڼل کیږي. (۷ فقره)
- ۷٦ ماده حکومت ته اجازه ورکوي چې د هېواد د سیاست د اساسي کرښو د تطبیق او د خپلو دندو د تنظیم لپاره ، مقررات وضع او تصویب کړي. پدې شرط چې دغه مقررات د هېڅ نص او د هېڅ قانون د روحیې مناقض نه وي.
- د ۷۷ مادې سره سم وزیران د ولسمشر او

است وظایف حکومت طوریکه در ماده ۷۵ قانون اساسی توضیح گردیده است:

- تعمیل احکام این قانون اساسی و سایر قوانین و فیصله های قطعي محاکم؛ (فقره ۱)
- حفظ استقلال، دفاع از تمامیت ارضي و صیانت منافع و حیثیت افغانستان در جامعه بین المللي؛ (فقره ۲)
- تأمین نظم و امن عامه و از بین بردن هر نوع فساد اداري؛( فقره ۳)
- ترتیب بودجه، تنظیم وضع مالي دولت و حفاظت دارایي عامه؛ (فقره ٤)
- طرح و تطبیق پروگرام هاي انکشافي اجتماعي، فرهنگي، اقتصادي و تکنالوژیکي؛ (فقره ۵)
- ارائه گزارش به شوراي ملي در ختم سال مالي درباره امور انجام شده و پروگرام هاي عمدهٔ سال مالي جدید؛ (فقره ٦)
- انجام سایر وظایفي که به موجب این قانون اساسي و قوانین دیگر از وظایف حکومت دانسته شده است. (فقره ۷)
- ماده ٧٦ به حکومت اجازه میدهد تا برای تطبیق خطوط اساسی سیاست کشور و تنظیم وظایف خود، مقررات وضع و تصویب نماید. بشرط آنکه این مقررات مناقض نص یا روحیه هیچ قانون نباشد.
- طبق ماده ۷۷، وزرا از وظایف مشخصهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسـي جرګې پـه وړانـدې د خپلـو مشخصـو دنـدو پـه اړه مسـئولیت لـري او دوي خپلـې دنـدې پـه اداري واحـدونو کـې د آمرینـو پـه توګه د هغـه حـدودو پـه دننـه کـې چـې دغـه اساسي قانون او نور قـوانین یـې ټـاکي، سـرته رسوي.

خـود نـزد رئـیس جمهـور و ولسـی جرګـه مسـئولیت داشـته و ایـشان وظایف خود را بـه حیـث آمـرین واحـدهای اداری در داخل حـدودی کـه ایـن قـانون اساسـی و سـایر قـوانین تعیین مـی کنـد، اجـرا می نمایند.

- (۸۰ ماده) وزیران نشي کولای د خپل کار پـه دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیـو، سیمه ییزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټـه واخلي. او کـه چیـرې وزیـر پـه بشـر ي ضـد جرمونو، ملي خیانـت او یـا پـه نـورو جرمونـو تورن شي، موضوع د دې اساسي قانون د (یـو سلو څلور دېرشمې) مادې په رعایت ځانګړې محکمې ته سپارل کیږي. (۷۸ ماده)

- (مـاده ۸۰) وزراء نبایـد از مقـام خـود بـرای پیشـبرد اهـداف زبـانی، قـومی، سـمتی، قبیلوی، مـذهبی، و یا حزبی استفاده نماینـد. و در صـورتیکـه یکی از وزراء بـه جنایت علیـه بشـریت، خـیانت ملی، و یـا سـایر جرائم متهم گردد، قضیه با رعایت مـاده ١٣٤ این قانـون اساسی به محکمه خـاص محـول می گردد.(ماده ۷۸)

لکـه څرنګـه چـې مخکـې یادونـه وشـوه، اجرائیـه ځـواک هـم د قـانون جـوړونې لپـاره محـدود صلاحیت لري. مثلاً حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطیل او د بېړنۍ اړتیا پـه وخـت کـې، د بودیجې او مالي چارو په اړه پرته، تقنینـي فرمانونـه صادر کړي. تقنینـي فرمانونـه د ولسمشـر د توشـیح څخه وروسته د قـانون حکـم غـوره کـوي. تقنینـي فرمانونـه بایـد د ملـي شـوري د لمـړۍ جلسـې د جوړېدو څخه د دېرشو ورځو پـه اوږدو کـې هغـه ته وړاندې شي او که چیرې د ملي شوري لخوا رد شي، اعتبار نه لري. (۷۹ ماده)

طوریکـه قـبلا ذکـر شـد، قـوۀ مجریـه نیـز دارای صلاحیتهای محدودی برای قانونگذاری می باشد. مثلا حکومت می توانـد در حالـت تعطیـل ولسـی جرگـه در صـورت ضـرورت عاجـل، بـه اسـتثنای امور مربوط به بودجه و امور مالی، فرامین تقنینـی را صادر نماید. فرامین تقنینی بعد از توشیح رئیس جمهـور حکـم قـانون را حـایز مـی شـود. فـرامین تقنینـی بایـد در خلال سـی روز از تـاریخ انعقـاد نخستین جلسه شورای ملی به آن تقدیم شود و در صـورتی کـه ازطـرف شـورای ملـی رد شـود، از اعتبار ساقط می گردد. (ماده ۷۹)

## لوي څارنوال

لکـه څرنګـه چـې مخکـې مـو هـم ولیـدل، لـوي څارنـوال د ولسمشر لخوا ټاکل او مقـرر کېږي، او د دولـت د اجرائیـه ځـواک یـوه برخـه ده. لـوي څارنـوال د قضائیه ځواک تر اغېزې لاندې نه دی.

## لوی څارنوال

طوریکه قـبلاً نیـز دیـدیم، لـوی څارنـوال توسط رئیس جمهور انتخاب و مقرر می گردد. و بخشی از قوۀ اجرائیـه دولـت مـی باشـد. لـوی څارنـوال تحت اثر قوۀ قضائیه قرار ندارد.

اسـاسـي قـانون پـه خپلـه ١٣٤ مـاده کـې لـوي

قانون اساسی در ماده ١٣٤ خود لوی څارنوالی را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـارنوالي پـــه رسـمیت پېژنـي او دغـــه شـان وړاندوینه کوي:

- د جرمونـو کشـف د پولیسـو پـه وسـیله او د جرمونـو څېړنـه او پـه محکمـه کـې پـر تـورن باندې د دعوی اقامه د ښارنوالی لخوا د قـانون له احکامو سره سم کیږي.
- ښارنوالي د اجرائیه ځواک یوه برخه ده او پـه خپلو اجرآتو کې خپلواکه ده.
- د ښارنوالی تشکیل ، صـلاحیت او د اجراآتـو څرنګوالی د قانون له لورې تنظیمیږي.
- د وسله والو ځواکونو ، پولیسو او د ملي امنیت د کارکوونکو د وظیفـوي جرمونـو کشـف او څېړنه د ځانګړي قانون له لارې تنظیمیږي.

## سیمه ییز اداري واحدونه

د افغانستان په اساسي قانون کې سیمه ییز اداري واحدونه وړاندوینه شوي چې د هېواد د اجرائیه ځواک یوه برخه جوړوي.

- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اداره د مرکـــزي اداري د واحدونو او د سیمه ییـزو ادارو په بنسټ د قانون سره ســـم تنظیمیږي. مرکزي اداره په یو شـــمېر اداري واحـدونو وېشل کیږي چې د هر یـــوه په مشرتابه کې یو وزیر وي. (۱۳٦ ماده)
- حکومت د مرکزیت د اصل په سـاتلو سـره د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختـګ کـې د خلکـو د لازیـاتې ونـډې اخیسـتو پـه منظـور لازم صـــــلاحیتونه د قـانون لـه حکمونـو سـره سـم سیـــمه ییـزو ادارو تـه سپاري. (۱۳۷ ماده)

به رســـمیت شـــناخته و ایـن چنین پـیش بینـی کرده است:

- کشف جرایم، توسط پولیس و تحقیق جرایم و اقامـــه دعـوی علیـه مـتهم در محکمـه، از طـرف ښـارنوالی مطـابق بـه احکـام قـانون صورت میگیرد.
- ښـارنوالی جـزء قـوهٔ اجرائیـه و در اجـراآت خود مستقل می باشد.
- تشکیل، صلاحیت و طـرز فعالیـت ښـارنوالی توسط قانون تنظیم میگردد.
- کشـف و تحقیـق جـرایم وظیفـوی منسـوبین قوای مسلح، پولیس و مـوظفین امنیـت ملـی، توسط قانون خاص تنظیم می گردد.

## واحد های اداری محلی

واحد های اداری محلی در قانون اساسی افغانستان پیشبینی گردیده است کـه بخشـی از قـوهٔ اجرائیـه کشور را تشکیل میدهد.

- ادارهٔ جمهـوری اسـلامی افغانسـتان براسـاس واحــدهای اداره مرکــزی و ادارات محلــی، طبق قانون، تنظیم میگـردد. ادارهٔ مرکـزی بـه یـک عـده واحـدهای اداری منقسـم میگـردد که در راس هـر کـدام یـک نفـر وزیـر قـرار دارد. (ماده ۱۳٦)
- حکـــومت بـا حـــفظ اصـل مرکزیـت بـه منظـور تسـریع و بهبـود امـور اقتصـادی، اجتمـــاعی و فـــرهنگی و سـهم گیـری هـر چـه بیشـتر مـردم در انکشـاف حیـات ملـی، صلاحیـــــتهای لازم را مطـابق بـه احکـام قـــانـــون، بـه اداره محـــلی تفـویض مـی نماید. (ماده ۱۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ولایت کې یوه ولایتي جرګه جوړېږي، چې د لاندې صلاحیتونو او وجایبو لرونکې دي:

- د ولایتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د ولایت د اوسېدونکو لخوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. (۱۳۸ ماده)

- ولایتي شورى د دولت د پرمختیایي موخو په تامین او د ولایت د چارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانینو کې څرګنده شوې، برخه اخلي او په ولایت پورې د اړونده چارو په باب مشوره ورکوي. ولایتي جرګې خپلې دندې د سیمه ییزې ادارې په مرسته سرته رسوي. (۱۳۹ ماده)

ولایتي جرګې چې غړي یې د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې د سیمې د اوسېدونکو لخوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کېږي، د چارو د تنظیم او د کوچیانو په ګډون د خلکو د فعالې ونډې د تامین لپاره په ولسوالیو او کلیو کې د قانون د احکامو سره سمې جوړېږي. (۱٤۰ ماده)

لکه څرنګه چې په قانون کې بیان شویدي، ښاروالۍ ګانې د ښاري چارو د ادارې لپاره جوړېږي. ښاروال او د ښاروالیو د مجالسو غړي د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. ( ۱٤۱ ماده)

په پای کې دولت د احکامو د عملي کولو او د اساسي قانون د مندرجو ارزښتونو د تامین لپاره لازمې ادارې جوړوي. (۱٤۲ ماده)

در هر ولایت یک شورای ولایتی تشکیل می شود که دارای صلاحیت ها و وجایب ذیل می باشد:

- اعضای شورای ولایتی طبق قانون، به تناسب نفوس، از طریق انتخابات ازاد، عمومی، سری و مستقیم از طرف ساکنین ولایت برای مدت چهار سال انتخاب می گردند. (ماده ۱۳۸)

- شورای ولایتی در تأمین اهداف انکشافی دولت و بهبود امور ولایت به نحوی که در قوانین تصریح می گردد سهم گرفته و در مسایل مربوط به ولایت مشوره می دهد. شورای ولایتی وظایف خود را با همکاری ادارۀ محلی اجرا می نماید. (ماده ۱۳۹)

شوراهای ولایتی که اعضای آنها از طریق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقیم از سوی ساکنین محل برای مدت سه سال انتخاب می شوند، جهت تنظیم امور و تامین اشتراک فعال مردم، به شمول کوچی ها، در ولسوالی ها و قریه ها، مطابق به احکام قانون تشکیل می گردند (ماده ۱٤۰).

طوری که در قانون بیان گردیده است، شاروالیها برای اداره امور شهری ایجاد می گردند. شاروال و اعضای مجالس شاروالی از طریق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقیم انتخاب می شوند (ماده ۱٤۱).

نهایتاً، دولت به مقصد تعمیل احکام و تامین ارزشهای مندرج این قانون اساسی، ادارات لازم را تشکیل می نماید (ماده ۱٤۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېړني حالات**

د بېړني حالت د موجوديت په موده کې د دولت اجرائيه ځواک ته ځانګړي صلاحيتونه ورکړل شويدي، دغه صلاحيتونه تعيين شوي او محدود دي.

که د جګړې ، د جګړې د خطر، د خطرناکې بلوا، او طبيعي آفتونو او يا هم ورته حالت له امله د خپلواکۍ او د ملي ژوند ساتنه په هغه طريقه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوې، ناشونې وګرځي، د ولسمشر لخوا د ملي شورې په تاييد د هېواد په ټولو او يا ځينې برخو کې بېړنی حالت اعلانېږي.

که بېړنی حالت تر دوو مياشتو زيات دوام ومومي د اوږدولو لپاره يې د ملي شورا موافقه شرط ده.(۱٤۳ ماده)

په بېړني حالت کې ولسمشر کولای شي د ملي او د سترې محکمې له رئيسانو سره په مشوره د ملي شورا ځينې صلاحيتونه حکومت ته ولېږدوي. ( ۱٤٤ ماده)

پدې برسېره د ۱٤٥ مادې سره سم په بېړني حالت کې ولسمشر کولای شي د ملي شورا او سترې محکمې د رئيسانو د تاييد څخه وروسته تنفيذاً لاندې احکام وځنډوي او يا پر دوي قيدونه وضع کړي:

- د اووه ويشتمې ماده دوهمه فقره ( هېڅوک ته سزا نشي ورکول کېدای مګر د با صلاحيته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د تور وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي)
- شپږ دېرشمه ماده ( د بې وسلې غونډو او

**حالات اضطرار**

در مدت موجوديت حالت اضطرار، به قوه مجريه دولت صلاحيتهای خاص داده شده است، اين صلاحيت ها تعيين شده و محدود اند.

هر گاه به علت جنگ، خطر جنگ، اغتشاش وخيم، آفات طبيعی و يا حالت مماثل، حفظ استقلال و حيات ملی از مجرايی که در قانون اساسی تعيين شده، ناممکن گردد، حالت اضطرار از طرف رئيس جمهور با تائيد شورای ملی در تمام يا بعضی از ساحات کشور اعلان می شود (ماده ۱٤۳).

هرگاه حالت اضطرار بيش از دو ماه دوام نمايد، برای تمديد آن، موافقت شورای ملی شرط است (ماده ۱٤۳).

در حالت اضطرار رئيس جمهور می تواند به مشوره روسای شورای ملی و قاضی القضات، بعضی از صلاحيتهای شورای ملی را به حکومت انتقال دهد (ماده ۱٤٤).

علاوتا، برطبق ماده ۱٤٥، در حالت اضطرار، رئيس جمهور می تواند بعد از تاييد روسای شورای ملی و ستره محکمه، تنفيذ احکام ذيل را معطل سازد و يا بر آنها قيودی وضع نمايد:

- فقره دوم ماده بيست و هفتم (هيچ شخص را نمی توان تعقيب، گرفتار و يا توقيف نمود مگر بر طبق احکام قانون)
- ماده سی و ششم (حق اجتماع و تظاهرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



تظاهراتو حق)

غیر مسلحانه)

- د اووه دېرشمې مادې دوهمه فقره ( دولت د اشخاصو د مراسلاتو او مخابراتو د پلټنې حق نلري، مګر د قانون د احکامو سره سم)

- فقره دوم ماده سی و هفتم (دولت حق تفتیش مراسلات و مخابرات اشخاص را ندارد، مگر مطابق به احکام قانون)

- د اته دېرشمې مادې دوهمه فقره ( هېڅوک نشي کولاي د ساکن د اجازې يا د باصلاحيته محکمې د حکم څخه پرته استوګنځي ته ننوځي او هغه وپلټي)

- فقره دوم ماده سی و هشتم (هیچ شخص نمی تواند بدون اجازه ساکن یا قرار محکمه باصلاحیت به مسکن شخص داخل شود و آن را تفتیش نماید)

- په بېړني حالت کې اساسي قانون نه تعديلېږي ( ١٤٦ ماده)

- در حالت اضطرار، قانون اساسی تعدیل نمی شود (ماده١٤٦).

که چېرې د ولسمشر دوره او يا د ملي شورې تقنيني دوره په بېړني حالت کې پاي ته ورسېږي، د نويو ټاکنو ترسره کېدل ځنډېږي، او د ولسمشر او ملي شورې د غړو د خدمت موده تر څلورو مياشتوپورې تمديدېږي. که بېړنی حالت تر څلورو مياشتو زيات اوږد شي، لويه جرګه د ولسمشر لخوا راغوښتله کېږي. د بېړني حالت تر پاي ته رسېدو وروسته د دوو مياشتو په دننه کې ټاکنې کېږي.( ١٤٧ ماده)

هرگاه دوره ریاست جمهوری و یا دوره تقنینیه شورای ملی در حالت اضطرار ختم شود، اجرای انتخابات جدید ملتوی گذاشته شده، مدت خدمت رئیس جمهور و اعضای شورای ملی تا چهار ماه تمدید می شود. هرگاه حالت اضطرار بیش از چهار ماه دوام نماید، لویه جرگه از طرف رئیس جمهور دعوت می شود. بعد از ختم حالت اضطرار، در خلال مدت دو ماه، انتخابات برگزار می گردد (ماده ١٤٧).

د بېړني حالت په پاي ته رسېدو سره هغه اقدامات چې د دې اساسي قانون د (يوسلو څلور څلوېښتمې او يو سلو پنځه څلوېښتمې) مادې له مخې شوي، بې له ځنډه له اعتباره لوېږي. ( ١٤٨ ماده)

در ختم حالت اضطرار، اقداماتی که بر اساس مواد یکصد و چهل و چهارم و یکصد و چهل و پنجم این قانون اساسی به عمل آمده، بلافاصله از اعتبار ساقط می گردد (ماده ١٤٨).

**[ د راتلونکي درسي ټولګي لپاره د لوستلو دنده- د اساسي قانون ٨١-١١٥، او ١٤٩، ١٥٠ مادې]**

**[ وظیفه خوانش برای صنف درسی آینده – قانون اساسی، مواد ٨١ – ١١٥، و ١٤٩، ١٥٠]**

## (د). د دولت مقننه ځواک

## (د). قوه مقننه دولت

**سریزه:**

په ټوليزه توګه د دولت مقننه ځواک د د ملي شورا (٨١-١٠٩ مادې) او لويې جرګې (١١٠-١١٥ مادې)

**مقدمه**

بطور کلی، قوه مقننه دولت متشکل از شورای ملی (مواد ٨١ – ١٠٩) و لویه جرگه (مواد ١١٠ –

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنې جوړ شويدي، که څه هم چې د لويې جرګې ونډه مشخصه او ډېره محدوده ده.

**ملي شورا:**

جوړښت او د غړيتوب لپاره لازم شرايط:

ملي شورا چې زياتره د پارلمان په نامه يادېږي، د افغانستان د اسلامي دولت ملي شورا د ستر تقنيني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندويه ده او د ټول ملت استازيتوب کوي، د شوري هر غړی د رايې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او سترې ګټې د خپل قضاوت محور ټاکي (۸۱ ماده) .

ملي شوري له دوو جرګو، ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه ده، هېڅوک نشي کولای په يوه وخت کې د دواړو جرګو غړی وي. ( ۸۲ ماده)

د افغانستان د ملي شورا د غړيتوب د ترلاسه کولو لپاره يو شخص بايد د افغانستان اوسېدونکي وي، د محکمې لخوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومي محکوم نه وي، او لازم چې د ولسي جرګې د غړيتوب لپاره د ۲۵ کلنۍ او د مشرانو جرګې لپاره د ۳۵ کلنۍ عمر ولري. (۸۵ ماده)

د ملي شوري د غړو انتخاباتي وثيقې د انتخاباتو د څارنې د خپلواک کميسيون لخو اد قانون له حکمونو سره سم څېړل کېږي (۸٦ ماده)

۸۳ ماده د ولسي جرګې د غړو ټاکل تنظيموي:

- د ولسي جرګې غړي د خلکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې انتخابېږي.

۱۱۵) می باشد، اگرچه نقش لویه جرگه نقشی مشخص و بسیار محدود است.

**شورای ملی:**

ترکیب و شرایط لازم جهت عضویت

شورای ملی، که اغلب از آن بعنوان پارلمان یاد می شود، عالی ترین ارگان تقنینی دولت و مظهر اراده مردم است، و از قاطبه ملت نمایندگی می کند. هر عضو شورا در موقع اظهار رای، مصالح عمومی و منافع علیای مردم افغانستان را مدار قضاوت قرار می دهد (ماده ۸۱).

شورای ملی متشکل از دو مجلس ولسی جرگه و مشرانو جرگه می باشد و هیچ شخص نمی تواند در یک وقت عضو هر دو مجلس باشد (ماده ۸۲).

برای کسب عضویت در شورای ملی افغانستان، یک شخص باید شهروند افغانستان باشد، محکوم به جرایم ضد بشری، جرم دیگر، یا محرومیت از حقوق مدنی نشده باشد، و ۲لازم است که سن ۲۵ سالگی را برای عضویت در ولسی جرگه و ۳۵ سالگی را برای عضویت در مشرانو جرگه را دارا باشد. (ماده ۸۵).

وثایق انتخاباتی اعضای شورای ملی توسط کمیسیون مستقل انتخابات مطابق به احکام قانون تدقیق می گردد (ماده ۸٦).

ماده ۸۳ انتخاب اعضای ولسی جرگه را تنظیم میکند:

- اعضای ولسی جرگه توسط مردم از طریق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقیم انتخاب می گردند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نیټه د ټاکنو د پایلو د اعلان څخه وروسته پای ته رسیږي، او نوې شوري په کار پیل کوي.
- پس از اعلان نتایج انتخابات، دوره کار شورای قبلی ختم می گردد و شورای جدید به تاریخ اول سرطان سال پنجم کار خود را آغاز می نماید.

- د ولسي جرګې د دورې تر ختمیدو له دېرشو څخه تر شپېتو ورځو پورې په موده کې د ولسي جرګې د غړو ټاکنې کیږي.
- انتخابات اعضای ولسی جرگه در خلال مدت سی الی شصت روز قبل از پایان دوره ولسی جرگه قبلی برگزار می شود.

- د ولسي جرګې د غړو شمېر د هرې حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب زیات نه زیات تر دوه سوه پنځوس کسانو پورې دي.
- تعداد اعضای ولسی جرگه به تناسب نفوس هر حوزه حداکثر دو صد و پنجاه نفر می باشد.

- انتخاباتي حوزې او ورسره نور اړونده مسائل د انتخاباتو په قانون کې ټاکل کیږي، د انتخاباتو په قانون کې باید داسې تدبیر ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تامین کړي او د نفوسو په تناسب دې له هر ولایت څخه په منځنۍ کچه لږ تر لږه دوه ښځینه استازې په ولسي جرګه کې غړیتوب تر لاسه کړي.
- حوزه های انتخاباتی، و سایر مسایل مربوط به آن، در قانون انتخابات تعیین می گردد، که در آن باید از طریق سیستم انتخابات تدابیری اتخاذ گردد که نظام انتخاباتی، نمایندگی عمومی و عادلانه را برای تمام مردم کشور تامین نماید و به تناسب نفوس از هر ولایت طور اوسط حداقل دو وکیل زن در ولسی جرگه عضویت یابد.

۸٤ ماده د مشرانو جرګې د غړو په اړه حکم کوي:

ماده ۸٤ در ارتباط با اعضای مشرانو جرگه حکم می کند:

- د هرې ولایتي جرګې له غړو څخه یو تن د اړونده جرګې په ټاکنه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
- از جمله اعضای شورای هر ولایت، یک نفر برای مدت چهار سال انتخاب می شود

- د هر ولایت د ولسوالیو د جرګو له غړو څخه یو تن د اړونده جرګې په ټاکنه د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
- از جمله اعضای شوراهای ولسوالی ها هر ولایت، یک نفر برای مدت سه سال انتخاب می شود

- پاتې درییمه برخه د معلولینو او معیوبینو د دوه تنو او د کوچیانو د دوه تنو استازو په ګډون د هېواد له خبیرو او تجربه لرونکو کسانو څخه د پنځو کلونو لپاره د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي
- یک ثلث باقی مانده، از جمله شخصیت های خبیر و با تجربه به شمول دو نفر از میان معلولین و معیوبین و دو نفر نمایندگان کوچی ها، به تعیین رئیس جمهور برای مدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دغه اشخاصو پنځوس په سلو کې باید ښځې وي.

پنج سال انتخاب میشوند و پنجاه فیصد این افراد باید از میان زنان انتخاب گردد.

- هغه شخص چې د مشرانو جرگې د غړي په توگه ټاکل کېږي په اړونده جرگه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او د ده په ځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کېږي.

- اشخاصی که به حیث اعضای مشرانو جرگه انتخاب می شوند، عضویت خود را در شورای مربوطه از دست می دهند.

د ملي شوري د غړي د مړینې، استعفی، عزل او یا د داسي معلولېدو یا معیوبېدو په صورت کې چې په دایمې توگه د دندې د اجراء خنډ شي د پاتې تقنینیه دورې لپاره د نوي استازي ټاکل د قانون د حکمونو سره سم تر سره  کېږي (۱۰۸ ماده)

در حالات وفات، استعفا، عزل عضو شورای ملی و یا معلولیت یا معیوبیتی که به طور دائم مانع اجرای وظیفه گردد، تعیین نماینده جدید برای مدت باقی مانده دوره تقنینیه مطابق به احکام قانون صورت می گیرد (ماده ۱۰۸).

د ملي شوري هېڅ یو غړی د هغه رایې یا نظریې له امله چې د دندې د اجراء په وخت کې یې څرگندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي (۱۰۱ ماده)

هیچ عضو شورای ملی به علت رای یا نظریه ای که در هنگام اجرای وظیفه ابراز می دارد، مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد (ماده ۱۰۱).

که د ملي شوري غړی په یوه جرم تورن شي، مسئول مامور له موضوع څخه هغې جرگې ته چې تورن یې غړی دی، خبر ورکوي او تورن تر عدلي تعقیب لاندې راتلای شي. د مشهود جرم په مورد کې مسئول مامور کولای شي د هغه جرگې له اجازې پرته چې دی یې غړی دي تر عدلي تعقیب لاندې راولي او ویې نیسي؛ په دواړو حالاتو کې که عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف ایجاب وکړي، مسئول مامور مکلف دی چې له موضوع څخه بې له ځنډه نوموړې جرگې ته خبر ورکړي او تصویب یې ترلاسه کړي.  که تور د شوري د رخصتي په وخت کې رامنځ ته شي، د نیولو او توقیف اجازه د اړونده جرگې له اداري هیئت څخه ترلاسه کېږي او موضوع د نوموړې جرگې لمړنی غونډې ته د پرېکړې کولو لپاره وړاندې کېږي. (۱۰۲ ماده)

هرگاه عضوی به یک جرم متهم شود، مامور مسئول از موضوع به مجلسی که متهم عضو آن است اطلاع می دهد و متهم تحت تعقیب عدلی قرار گرفته می تواند. در مورد جرم مشهود، یک عضو را می توان بدون اجازه مجلس مربوطه دستگیر نمود؛ با این حال، در هر دو حالت، اگر توقیف متهم لازم باشد و تقاضا گردد، مامور مسئول مکلف است، تصویب مجلس مربوطه را حاصل نماید (اگر شوری در حالت تعطیل باشد، اجازه گرفتاری یا توقیف از هیئت اداری مجلس مربوط حاصل می گردد و موضوع به نخستین جلسه مذکور جهت اخذ تصمیم ارائه می شود) (ماده ۱۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دواړو جرګو لپاره ګډ احکام:**

د ملي شورا له دواړو جرګو څخه هره یوه د کار د دورې په پیل کې د خپلو غړیو څخه یو تن د رئیس په توګه د یوې تقنینیه دورې لپاره، دوه تنه د لمړي او دوهم نایب، او یو منشي او نایب منشي په توګه د یو کال لپاره ټاکي. دغه اشخاص د ولسي جرګې او مشرانو جرګې اداري هیئت جوړوي، د اداري هیئت دندې د هرې جرګې د داخلي وظایفو په اصولو کې ټاکل کیږي. (۸۷ ماده)

**احکام مشترک برای هر دو مجلس:**

هر یک از دو مجلس شورای ملی، در آغاز دوره تقنینیه، یک تیم اداری را متشکل از یک رئیس برای یک دوره تقنینیه، و نایب اول و نایب دوم، یک منشی، و یک نایب منشی برای مدت یکسال انتخاب می کنند، وظایف تیمهای اداری توسط اصول وظایف داخلی هر مجلس تعیین می شود (ماده ۸۷).

د ملي شورې له دواړو جرګو څخه هره یوه د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظایفو د اصولو له مخې کمیسیونونه جوړوي (۸۸ ماده)

هر دو مجلس کمیسیونهایی را جهت مطالعه موضوعات مورد بحث، برطبق اصول وظایف داخلی، تشکیل می دهند (ماده ۸۸).

د ۹۰ مادې له مخې ملي شورې لاندې دندې لري:

- د قوانینو یا تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغو کول (۱ پاراګراف)
- د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو تصویب (۲ پاراګراف)
- د دولتي بودیجې تصویب او د پور اخیستو یا ورکولو اجازه (۳ پاراګراف)
- د اداري واحدونو منځته راوړل، تعدیل یا لغو کول (٤ پاراګراف)
- د دولتونو تر منځ د تړونونو او د نړیوالو میثاقونو تصدیق او یا له هغویڅخه د افغانستان بېلول ( ۵ پاراګراف)
- پدې اساسي قانون کې نور مندرج واکونه (٦ پاراګراف)

برطبق ماده ۹۰، شورای ملی دارای وظایف ذیل می باشد:

- تصویب، تعدیل یا لغو قوانین یا فرامین تقنینی (پاراگراف ۱)
- تصویب پروگرامهای انکشافی اجتماعی، فرهنگی، اقتصادی و تکنالوژیکی (پاراگراف ۲)
- تصویب بودجه دولت و اجازه اخذ یا اعطای قرضه (پاراگراف ۳)
- ایجاد واحدهای اداری، تعدیل و یا الغای آنها (پاراگراف ٤)
- تصدیق معاهدات و میثاقهای بین المللی یا فسخ الحاق افغانستان به آنها (پاراگراف ۵)
- سایر صلاحیتهای مندرج در قانون اساسی (پاراگراف ٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجریه ځواک پر کړنو د یوه سیاسي کنټرول په توګه د هرې جرګې هر یو کمیسیون کولای شي له هر یوه وزیر څخه په ټاکلو موضوعاتو کې پوښتنې وکړي، او هغه وزیر چې پوښتنه ترې شوې، کولای شي شفاهي یا لیکلی ځواب ورکړي، همدارنګه وزیران کولای شي د ملي شوراي د هرې جرګې په غونډو کې ګډون وکړي، او د ملي شوري هره جرګه کولای شي خپلې غونډې ته د وزیرانو د حاضرېدو غوښتنه وکړي( ۹۳ او ۱۰۳ ماده).

بعنوان یک کنترول سیاسی بالای کارکردهای قوه مجریه، هر یک از کمیسیونهای هر دو مجلس شورای ملی می توانند از هر یک از وزراء در موضوعات معین سوال نماید، و آن وزیر باید جواب شفاهی یا تحریری بدهد؛ همچنین، وزراء می توانند در جلسات هر یک از دو مجلس شورای ملی اشتراک ورزند، و هر دو مجلس شورای ملی می توانند حضور یک وزیر را در جلسه خود مطالبه نمایند (مواد ۹۳ و ۱۰۳).

د قوانینو جوړول د ملي شوري خاصه کاري ساحه ده:

ایجاد قوانین ساحه کاری خاص شورای ملی است:

- د قانون د طرحې وړاندیز د حکومت یا د شوري د غړو او د قضایي چارو د تنظیم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لیارې وړاندې کېدای شي. د بودیجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې وړاندیز یوازې دحکومت لخوا کېږي. (۹۵ ماده)

- پیشنهاد طرح قانون از طرف حکومت، یا عضوی از شوری و در ساحه تنظیم امور قضایی، از طرف ستره محکمه توسط حکومت صورت گرفته می تواند، به استثنای این مورد که صرف حکومت صلاحیت پیشنهاد طرح قانون در مورد بودجه و امور مالی را دارا میباشد (ماده ۹۵).

- که چیری د قانون دطرحی پیشنهاد له دواړو جرګو څخه د یوی د لسو غړیو له خوا وشی، پیشنهاد د نوموړی جرګی د یو پر پنځمی برخی غړیو تر تائید وروسته د هماغی جرګی د کار په فهرست کی نیول کیږی (۹۷ ماده).

- هرگاه پیشنهاد طرح قانون از طرف ده نفر از اعضای یکی از دو مجلس صورت گیرد، بعد از تایید یک پنجم اعضای مجلسی که پیشنهاد به آن ارائه شده است، در فهرست کار آن مجلس داخل می گردد (ماده ۹۷).

- که د قانون د طرحې وړاندیز د نوي تکلیف یا د عایداتو د لږولو لرونکي ويي، پدې شرط د کار په فهرست کې نیول کېږي چې د وړاندیز په متن کې د جبرانولو مدرک هم وړاندوینه شوی وي (۹٦ ماده)

- هرگاه پیشنهاد طرح قانون حاوی تکلیف جدید یا تنقیص در عایدات دولت باشد، صرف به شرطی در فهرست کار داخل می شود که در متن پیشنهاد، مدرک جبران نیز پیش بینی شده باشد (ماده ۹٦).

- په استثنا د بودیجی او د حکومت پراختیایی پروګرامونو په برخه کښی د حکومت لخوا د

- پیشنهاد طرح قانون، (به استثناء موارد بودجه حکومت و پروگرام انکشافی)، از

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون دطرحې وړاندیز لومړی ولسي جرګې ته وړانـدې کېږي، ولسـي جرګـه د بـودیجې او مالي چارو په ګډون د قانون د طرحې وړاندیز او د پور اخیستو یا ورکړې وړانـدیز لـه بحث وروســـته د یـو کـل پـه توګـه تصـویب یـا ردوي، کـه وړانـدیز تصـویب شـي، د مشـرانو جرګې ته سپارل کیږي، چې باید د ۱۵ ورځـو په اوږدو کې د هـــغه پـه بـاره کـې پرېکـړه وکړي (۹۷ ماده).

طـرف حکومـت، نخسـت بـه ولسـی جرگـه تقدیم می گردد؛ ولسی جرگه مکلـف اسـت کـه در مـدت یـک مـاه پـس از دریافـت پیشنــهاد، مـــذکور پـس از بحـث آنـرا بـه صـــورت کـــل تصـــــویب یـــا رد نمایـــد؛ درصـورتی کـه پیشـنهاد تصـویب گـردد، بـه مشرانو جرگه سپرده خواهد شد، که بایـد در ظـرف ۱۵ روز در مـورد آن تصـمیم اتخـاذ نماید (ماده ۹۷).

- ملي شوراي د دولت د هغو قوانینـو، معاهـداتو او پرمختیایي پروګرامونو په باره کې پرېکـړې کولو ته لومړیتوب ورکوي چې د حکومـت د وړاندیز په بنسټ د عاجل غور غوښـتنه کـوي. (۹۷ ماده)

- در هنگـام تصـمیم در مـورد طـرح قـوانین، شورای ملی باید به معاهـدات و پروگرامهـای انکشافی دولت که به اساس پیشنهاد حکومت ایجاب رسیدگی عاجل را می نماید، اولویت دهد (ماده ۹۷).

- که چېرې د یوې جرګې مصوبه د بلې جرګې لخوا رد شي، د اختلاف د له منځه وړلو لپـاره د دواړو جرګـو د غـړو لخـوا یـو برابـر شـمېر هیئت ټاکل کیږي؛ د هیئت پرېکړه د ولسمشر تر توشیح وروسته نافذه ګڼل کېږي؛ کـه ګـډ هیئـت ونکـړاي شـي چـې د نظـر اخـتلاف لـه منځه یوسي، تصـویب رد شـوی ګڼـل کېږي. پدې حالت کې ولسي جرګه کـولاي شـي پـه خپلو ورپسې غونډه کې هغه د خپلو ټولو غړو د دریو څخه د دوو برخو د رایـو پـه اکثریـت تصـویب کـړي، دا تصـویب بې لـه دې چې مشـرانو جرګې تـه وړانـدې شـي، تـر توشـیح وروسته نافذ ګڼل کیږي.( ۱۰۰ ماده) .

- اگـر مصـوبه یـک مجلس از طـرف مجلـس دیگـر رد شـود، بـرای حـل اخـتلاف، هیئـت مختلط بـه تعـداد مساوی از اعضـای هـر دو مجلـس تشـکیل مـی گـردد؛ در صـورتیکه اختلاف حل گردد، تصمیم این هیئت پس از توشـــیح رئیـــس جمهـور نافـذ شـمرده مـی شــود؛ درصــورتیکه هیئــت مخــتلط نتوانــد اخـــتلاف نظـــر را رفـع کنـد، مصـوبه مـی توانـد دوبـاره تـــوسط دو ثلـث آرای کـل اعضا، در جلسه آینده ولسی جرگـه تصـویب گـردد و پـس از توشـــیح رئـیس جمهـور، بدون ارائه به مشـــرانــو جرگه، نافـذ شـمرده می شود (ماده ۱۰۰).

د ۹۸ مادې پـر بنسـټ د حکومـت د بـودیجې او د هغـه د پرمخـــتیایي پروګرامونـو پـه اړه ځـانګړي قواعد شته:

برطبق ماده ۹۸، قواعـد خاصـی در ارتبـاط بـا بودجـــه حکومـــت و پروگـــرام انکشـــافی حکومت وجود دارد:

- حکومـت د مـالي کـال د څلـورمې ربعـې پـه اوږدو کـې د راتلـونکي کـال بودیجـه د روان

- حکومت در خلال ربع چهارم سال مالی، بودجـــه سال آینـده را بـا حساب اجمالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د بودیجې له اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي، د تېر مالي کال د بودیجې قطعي حساب د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په موده کې د قانون له حکمونو سره سم ملي شورا ته وړاندې کیږي.

بودجه سال جاری به شورای ملی تقدیم می نماید، حساب قطعی بودجه سال مالی قبل، در خلال مدت شش ماه آینده، مطابق به احکام قانون، به شورای ملی تقدیم می گردد.

- که چېرې د ځینو عواملو له مخې د مالي کال تر پیل مخکې بودیجه تصویب نشي، د نوي بودیجې تر تصویب پورې د تېر کال بودیجه تطبیقیږي.

- در صورتی که تصویب بودجه قبل از آغاز سال مالی جدید صورت نگیرد، تا تصویب بودجه جدید، بودجه سال گذشته تطبیق می گردد.

- ولسي جرګه نشي کولای د بودیجې تصویب د یوې میاشتې څخه زیات او د هغه پور د اخیستلو یا ورکولو اجازه چې په بودیجه کې شامل نه وي تر پنځه لسو ورځو زیات وځنډوي ( که چېرې ولسي جرګه پدې موده کې د پور د ورکولو یا اخیستلو د وړاندیز په اړه پرېکړه ونکړي، وړاندیز تصویب شوی ګڼل کیږي).

- ولسی جرگه نمی تواند تصویب بودجه را پس از دریافت بیش از یکماه به تاخیر اندازد، و نمی تواند اجازه اخذ یا اعطای قرضه را که شامل بودجه نباشد، بیش از پانزده روز به تاخیر اندازد (در صورتی که این اجازه در ظرف پانزده روز داده نشود، پیشنهاد اخذ یا اعطای قرضه تصویب شده پنداشته خواهد شد)

- د دولت بودیجه او د حکومت پراختیایي پروګرامونو د مشرانو جرګې له لارې د دې جرګې له مشورتي نظریې سره یوځای ولسي جرګې ته سپارل کېږي. د ولسي جرګې پرېکړه د ولسمشر تر توشیح وروسته مشرانو جرګې ته د وړاندې کېدو پرته نافذ ګڼل کیږي.

- بودجه دولت و پروگرام انکشافی حکومت از طریق مشرانو جرگه توام با نظریه مشورتی آن به ولسی جرگه تقدیم می شود تصمیم ولسی جرگه بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد از توشیح رئیس جمهور نافذ شمرده می شود.

که چېرې د ملي شورې په اجلاس کې کلنۍ بودیجه او پرمختیایي پروګرام، یا له عامه امنیت د هېواد له خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا سره اړونده موضوع تر خبرو لاندې وي د اجلاس موده د هغه تر تصویب مخکې پای ته نشي رسېدای. (۹۹ ماده)

درصورتی که در اجلاس شورای ملی، بودجه سالانه، یا پروگرام انکشافی، موضوع مربوط به امنیت عامه، تمامیت ارضی و استقلال کشور مطرح باشد مدت اجلاس شوری قبل از تصمیم گیری در مورد آن خاتمه یافته نمی تواند (ماده ۹۹).

د تقنینیه دورې په وروستي یوه کال کې د انتخاباتو

در یک سال اخیر دوره تقنینیه، پیشنهاد تعدیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون د بدلېدلو وړانديز د ملي شوراي د کار په فهرست کې نشي نيول کېداي (۱۰۹ ماده)

قانون انتخابات، در فهرست کار شورای ملی قرار گرفته نمی تواند (ماده ۱۰۹).

د ملي شوراي جلسې بايد په لاندې ډول جوړې شي:

جلسات شورای ملی باید به نحوی که در ذیل آمده برگزار گردد:

- د ملي شوراي دواړې جرگې په عين وخت کې بېل بېل مجلسونه کوي؛ د دواړو جرگو غونډې، کله چې تقنينيه دوره يا کلنۍ غونډه د ولسمشر لخوا پرانيستل شي يا په هغه صورت کې چې ولسمشر يې ضروري تشخيص کړي د ولسي جرگې رئيس د گډو غونډو مشري لاندې، جوړېداي شي. ( ۱۰٤ ماده)

- هر دو مجلس شورای ملی در وقت واحد به صورت جداگانه جلسه می کنند؛ جلسات مشترک شورای ملی در موقعی که دوره تقنینیه یا اجلاس سالانه از طرف رئیس جمهور افتتاح می گردد یا در صورتیکه رئیس جمهور ضروری تشخیص دهد توسط رئیس ولسی جرگه ریاست می شود (ماده ۱۰٤)

- هېڅوک نشي کولاي چې په زور د ملي شوراي ودانۍ ته ننوزي، د ملي شوراي غونډې علني دي مگر دا چې د مجلس رئيس يا لږ تر لږه لس غړي يې د سري توب وړانديز وکړي او جرگه دا وړانديز ومني (۱۰۵ ماده)

- هیچ شخصی نمی تواند عنفاً به مقر شورای ملی داخل شود، جلسات شورای ملی علنی می باشد مگر اینکه رئیس مجلس یا حداقل ده نفر از اعضای شورای ملی، سری بودن آنرا درخواست نماید و مجلس این درخواست را بپذیرد (ماده ۱۰۵)

- د ملي شوراي د هر مجلس نصاب د رايې د اخيستو په وخت کې د هرې جرگې د غړو د اکثريت په حضور بشپړېږي، او پرېکړې يې د حاضرو غړو د رايو په اکثريت نيول کېږي، مگر په هغه مواردو کې چې اساسي قانون بل ډول تصريح کړي وي (۱۰٦ ماده)

- نصاب هر یک از دو مجلس شورای ملی، هنگام رای گیری با حضور اکثریت اعضا تکمیل می گردد و تصامیم آن با اکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ می شود، مگر در مواردی که قانون اساسی طور دیگری تصریح کرده باشد (۱۰٦)

- ملي شوراي په هر کال کې دوې عادي غونډې دايروي، د ملي شوراي د دواړو جرگو د غونډو د کار موده په کال کې نهه مياشتې ده، د اړتيا په وخت کې شوراي کولاي شي دا موده اوږده کړي؛ د رخصتيو په ورځو کې د ملي شوراي فوق العاده غونډې د ولسمشر په امر دايرېداي

- شورای ملی در هر سال دو اجلاس عادی دایر می کند که مدت کار هر دو اجلاس شوری در هر سال نه ماه می باشد، و در صورت ایجاب، شوری می تواند این مدت را تمدید کند؛ جلسات فوق العاده شوری در ایام تعطیل به امر رئیس جمهور دایر شده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ( ۱۰۷ ماده)

- د ملي شوراي د غړي د حاضرېدو يا نه راتلو سره اړونده چارې د داخلي وظايفو په چارو کې تنظيمېږي ( ۱۰۸ ماده)

**د ولسي جرګې د ځانګړې ساحې اړوند حکمونه**
د اجرائيه ځواک د فعاليت د کنټرول په موخه، ولسي جرګه لاندې واکونه لري:

- د غړو د دريمې برخې په وړانديز د حکومت د اعمالو د څېړنې او کتنې لپاره د يوه ځانګړي کميسيون ټاکل ( ۸۹ ماده)
- د هر يوه وزير څخه استيضاح ( چې د ۹۱ مادې په لومړي پرګراف کې د هغه څخه د توضيحي جلسې په نوم يادونه شوې) د ولسي جرګې د ۲۰ په سلوکې غړو په وړانديز؛ په هغه صورت کې چې توضيح قناعت وړ نه وي ولسي جرګه د نه باور د رايې موضوع څېړي، چې بايد صريح، مستقيمه او پر پخو دلايلو ولاړه وي، دغه رايه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رايو په اکثريت صادرېږي (۹۲ ماده)

د ۹۱ مادې سره سم ولسي جرګه د پرمختيايي پروګرامونو او د حکومت د بوديجې په اړه د پرېکړې کولو لپاره او همدارنګه د مقررېو د تاييد يا رد لپاره د اساسي قانون د احکامو سره سم نور صلاحيتونه هم لري.

**<u>د مقننه ځواک د صلاحيتونو د عملي کولو په باره کې د اجرائيه ځواک کنټرول</u>**
اساسي قانون په خپله ۹۴ ماده کې قانون څه ډول تعريف کړی دی؟ ((قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شوراي د دواړو جرګو لخوا تصويب او د

می تواند (ماده ۱۰۷)

- امـــور مـرتبط بـا حضـور و غيـاب اعضـای شورای ملی در اصول وظايف داخلی تنظيم می گردد (ماده ۱۰۸)

**احکام مربوط به ساحه اختصاصی ولسی جرگه**
بـه منظـور کنتـرول عملکـرد قـوه مجريـه، ولسـی جرگه صلاحيتهای ذيل را دارا ميباشد:

- ايجاد يک کميسيون خاص، به پيشـنهاد يـک ثلث اعضـا، جهـت بررسـی و مطالعـه اعمـال حکومت (ماده ۸۹)
- استيضاح از هـر يـک از وزرا بـه پيشـنهاد ۲۰ فيصـد از اعضـای ولسـی جرگـه (کـه در پـاراگراف (۱) مـاده ۹۱ از آن بعنـوان جلسـه توضيحی يـاد شـده اسـت)؛ در صـورتی کـه توضيح ارائه شده قناعت بخش نباشد، ولسـی جرگه موضـــوع رای عدم اعتماد را بررسـی مـی کنـد، کـــه بايـد صريح، مسـتقيم و بـر اساس دلايـل موجه باشـد؛ ايـن رای بايـد بـا تاييد اکثريت اعضای ولسـی جرگـه صـورت گيـرد (ماده ۹۲)

طبق ماده ۹۱، ولسی جرگه دارای ديگر صلاحيت هـا، جهـت تصـميم گيـری در مـورد پروگـرام انکشـافی و بودجـه حکومـت بـوده، و همچنـان صلاحيت تاييد يـا رد مقـرری هـا را طبـق احکـام قانون اساسی دارا ميباشد.

**<u>کنترول قوه مجريه در مورد إعمال صلاحيت های قوه مقننه</u>**
قانون اساسی، در ماده ۹۴ خويش قانون را چگونه تعريـف نمـوده اسـت؟ "قـانون عبـارت اسـت از مصوبه هر دو مجلس شورای ملی کـه بـه توشيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر لخوا توشېح شوې وي، مګر دا چې پـدې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي)).

هغه اصلي کنټرول چې ولسمشر يې د ملي شورا پر فعالیتونو لري څه دی؟ اصلي کنټرول د ولسمشری د ویټو (Veto) حق دي چې په ۹٤ ماده کې بیان شوی دي:

- که ولسمشر د ملـي شـوري لـه مصوبې سـره موافـقه ونـه لـري کـولای شي چـې د وړانـدې کېـدو تـر نېټـې وروسـته يـې په پنځلسو ورځـو کې د دلایلو لـه ښـوولو سـره ملي شوري تـه مسترده کړي.
- ددې وخت په تېرېدو او يا داچې ولسي جرګه یو ځل بیا هغه د ټولو غړيو لـه دريـو برخـو څخـه پـه دوو برخـو رايـو تصـويب کـړي، مصوبه توشيح شوې ګڼله کېږي او نافذېږي.
- که چېرې ولسمشر مصوبه ویټو کړي، ولسي جرګه کولای شي هغه مجدداً د حاضرو غړو د رايو پـه ثلث سره تصويب کړي او ویټو باطله کړي.

**لويه جرګه او په اساسي قانون کې بدلونونه:**

لويه جرګه د افغانستان دخلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر ده، او د ملي شوراي د غړو او د ولايتي او د ولسواليو د شوراګانو د رئيسانو څخه جوړه شوېده( ۱۱۰ ماده)

وزيران، د سترې محکمې رئيس او غـړي او لـوي څارنـوال کولای شي د لويې جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رايې ورکولو حق ولـري، ګډون وکړي.

لويـه جرګـه د هېـواد دخپلـواکی، ملـي حاکميت،

رئیس جمهور رسیده باشـد، مگـر اینکـه در ایـن قانون اساسی طور دیگری تصریح شده باشد."

کنترول اصلی که رئیس جمهور بـالای فعالیتهـای شـورای ملـی دارد چیسـت؟ کنتـرول اصـلی حـق ویتوی(Veto) ریاست جمهوری است که در ماده ۹٤ بیان گردیده است:

- در صورتیکه رئیس جمهور با پیشـنهادی کـه از سوی شـورای ملـی تصـویب شـده موافـق نباشـد، باید آن را در ظرف پانزده روز پس از تاریخ دریافت، همـراه بـا پیـامی کـه بیـان کننده دلایل رد آن اسـت، بـه ولسـی جرگـه مسترد نماید.
- اگر رئیـس جمهور در ظـرف پـانـزده روز در ایـن رابطـه اقـدامـی ننـماید، مصـوبـه توشـیح شـده محسـوب و نافـذ می گردد.
- درصـورتیکه رئـیس جمهورمصـوبه را ویتـو نماید، ولسی جرگه می تواند آنـرا مجـدداً بـا ثلث آرای اعضای حاضـر تصـویب نمـوده و ویتو را باطل سازد.

**لویه جرگه و تعدیلات در قانون اساسی**

لویه جرگه عالی ترین مظهر اراده مردم افغانسـتان مـی باشـد، و متشـکل از اعضـای شـورای ملـی و روسای شوراهای ولایات و ولسوالی ها می باشـد (ماده ۱۱۰).

وزرا، رئـیس و قضـات سـتره محکمـه و لـوی څارنـوال می تـواننـد در جلسات لویه جـرگـه بـدون حـق رای اشـتراک ورزنـد (ماده ۱۱۰).

لویه جرگه جهت تصمیم گیـری در مـورد مسـائل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکنۍ بشپړتیا، او د هېواد سترو مصلحتونو، د اساسي قانون د حکمونو تعدیل، او د ولسمشر د محاکمې په اړه د پرېکړې کولو لپاره د دغه اساسي قانون د شپېتمې مادې مندرج حکم سره سمه دایرېږي( ۱۱۱ ماده).

مرتبط با استقلال، حاکمیت ملی، تمامیت ارضی، و مصالح علیای کشور، تعدیل احکام قانون اساسی، و محاکمه رئیس جمهور مطابق به حکم مندرج ماده شصت و نهم قانون اساسی دایر می گردد (ماده ۱۱۱).

لویه جرګه په لومړۍ غونډه کې د غړو له منځه یو تن د رئیس، یو تن د رییس د مرستیال او دوه تنه د منشي او نایب منشي په توګه ټاکي (۱۱۲ ماده)

در اولین جلسه، اعضای لویه جرگه از میان خود یک نفر را به حیث رئیس، یک نفر را به حیث معاون، یک نفر را به حیث منشی و یک نفر را به حیث نایب منشی انتخاب می نمایند (ماده ۱۱۲).

د لویې جرګې نصاب د رایې اخیستو په وخت کې د غړو په اکثریت سره بشپړېږي، مګر په هغه مواردو کې چې په اساسي قانون کې په وضاحت بیان شوي وي( ۱۱۳)

نصاب لویه جرگه هنگام رای دهی، با حضور اکثریت اعضاء تکمیل می گردد، مگر در مواردی که به وضاحت در قانون اساسی بیان گشته باشد (ماده ۱۱۳).

د لویې جرګې بحثونه علني دي مګر داچې د غړو څلورمه برخه یې د سري توب غوښتنه وکړي، او لویه جرګه دا غوښتنه ومني( ۱۱٤ ماده)

مباحثات لویه جرگه علنی می باشد، مگر اینکه یک ربع اعضا سری بودن آنرا درخواست نمایند و لویه جرگه این درخواست را بپذیرد (ماده ۱۱٤).

د لویې جرګې د جریان په وخت کې د اساسي قانون ۱۰۱ او ۱۰۲ مادې مندرج حکمونه د هغه د غړو په اړه تطبیقېږي (۱۱۵ ماده)

در هنگام دایر بودن لویه جرگه، احکام مندرج مواد یکصدو یکم و یکصد و دوم این قانون اساسی در مورد اعضای آن تطبیق می گردد (ماده ۱۱۵).

د ۱۵۰ مادې پر بنسټ د اساسي قانون د تعدیل وړاندیز چې لویې جرګې ته وړاندې کېږي باید د ټولو غړو د دوه ثلثو په اکثریت سره د ۱۱۳ مادې په پام کې نه نیولو سره تصویب شي.

برطبق ماده ۱۵۰، پیشنهاد تعدیل قانون اساسی که به لویه جرگه ارائه می گردد باید توسط اکثریت دو ثلث کل اعضا، بدون در نظر داشت احکام ماده ۱۱۳ تصویب گردد.

د اسلام د سپېڅلي دین له حکمونو څخه د پیروۍ اصل او اسلامي جمهوري نظام په اساسي قانون کې نه تعدیلېږي، او د اتباعو د اساسي حقوقو تعدیل یوازې د هغوي د حقوقو د ښېګڼې په منظور

اصول پیروی از احکام دین مقدس اسلام و نظام جمهوری اسلامی مندرج در قانون اساسی تعدیل نمی شوند، و تعدیل در حقوق اساسی اتباع صرف به منظور بهبود حقوق آنان مجاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواز لري ( ۱٤۹ ماده)

می باشد (ماده ۱٤۹).

د تعدیل د وړاندیز لپاره د ولسمشر په فرمان د حکومت، ملي شوراي او ستري محکمې د غړو له منځه یو هیئت جوړیږي او د تعدیل طرحه تیاروي، او د ولسمشر په فرمان د هغه د پلټنې لپاره لویه جرگه دایریږي (۱۵۰ ماده).

به منظور اجرای پیشنهاد تعدیل، هیئتی از بین اعضای حکومت، شورای ملی و ستره محکمه به فرمان رئیس جمهور تشکیل گردیده طرح تعدیل را تهیه می کنند، و لویه جرگه بر اساس فرمان رئیس جمهور جهت بررسی آن پیشنهاد، دایر می گردد (ماده ۱۵۰).

[ د راتلونکي ټولگې لپاره د لوستلو دنده- د اساسي قانون ۱۱٦-۱۳۵، ۱۵۵ مادې]

[ وظیفه خوانش برای صنف آینده – قانون اساسی، مواد ۱۱٦- ۱۳۵، و ۱۵۵]

**(هـ). د دولت قضائیه څواک**

**(هـ). قوه قضائیه دولت**

**خپلواک قضائیه څواک:**

**سریزه:**

د یوه دولت د جمهوري سیستم د بریالیتوب لپاره له نورو څواکونو څخه د یوه خپلواک قضائیه څواک موجودیت یو ضروري امر دي او دغه اصل په نړیواله کچه د تایید وړ گرځیدلی دي:

**قوه قضائیه مستقل:**

**مقدمه:**

برای موفقیت سیستم جمهوری یک دولت موجودیت یک قوه قضائیه مستقل از دیگر قوای دولت، یک امر ضروری است و این اصل در سطح بین المللی مورد تایید قرار گرفته است:

د قضائیه څواک د خپلواکی په اړه اساسي اصول (د عمومي مجمع د ۱۹۸۵ د نومبر د میاشتې پریکړه لیک او د ۱۹۸۵ د ډیسمبر د میاشتې ٤۰/۱٤٦ گڼه پریکړه لیک).

اصول اساسی ملل متحد در مورد استقلال قوه قضائیه ( قطعنامه مجمع عمومی ٤۰/۳۲ به تاریخ نومبر ۱۹۸۵ و قطعنامه ٤۰/۱٤٦ به تاریخ دسمبر ۱۹۸۵).

د دغه اداري اصولو څخه دوه اصول زیات ارزښتناک دي چې پدې ځای کې باید یادونه وشي:

دو اصل از این اصول دارای اهمیت به سزایی بوده که در اینجا باید خاطرنشان گردند:

۳ نمبر. (( ټول هغه مسائل چې قضائي ماهیت لري د قضائیه څواک د صلاحیت په کرښه کې ابښودل کیږي او قضائیه څواک ددې په اړه چې هغه مسئله چې د پریکړه کولو لپاره هغه ته وړاندې شوې، په قانون کې د یاد شوي تعریف په بنسټ د هغه د صلاحیت په حوزه کې راځي که نه، انحصاري صلاحیت به ولري)).

نمبر ۳. ″ تمام مسائلی که ماهیت قضائی دارند در حیطه صلاحیت قوه قضائیه قرار خواهند داشت و قوه قضائیه در مورد اینکه مسئله ای که برای تصمیم گیری به آن ارائه گشته است نسبت به تعریف متذکره در قانون در حوزه صلاحیت اش قرار دارد یا خیر، صلاحیت انحصاری خواهد داشت.″

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ نمبر: ((بايد په قضايي پروسه کې هيڅ ډول بېځايه او د اجازې پرته مداخله ونه کړل شي، او د محاکمو لخوا شوې پرېکړې بايد د بياکتنې سره مخ نه وي... ))

نمبر ٤. "هیچگونه مداخله بیجا یا بدون مجوز نباید در پروسه قضائی صورت گیرد، و تصامیم اتخاذ شده از سوی محاکم نباید در معرض بازبینی قرار داشته باشند ...."

قضايي خپلواکي په مناسبه توګه له دوه ليدلورو څخه د پام وړ ګرځېدلې: سازماني خپلواکي او د پرېکړه کوونکي په توګه خپله د قاضي خپلواکي.

استقلال قضائی بطور مناسبی از دو نقطه نظر مورد توجه قرار گرفته است: استقلال نهادی و استقلال شخص قاضی در نقش تصمیم گیرنده.

آيا افغانستان يو رښتينی خپلواک قضائيه ځواک لري؟

آیا افغانستان یک قوه قضائیه واقعا مستقل دارد؟

دغې پوښتنې ته د ځواب ورکولو لپاره ، راځئ د قضائي خپلواکی دواړه اړخونه وڅېړو.

برای پاسخدهی به این سوال، بیایید هر دو جنبه از استقلال قضائی را مورد بررسی قرار دهیم.

**سازماني خپلواکي:**

سازماني خپلواکي څه معني لري؟

**استقلال نهادی**

استقلال نهادی به چه معنی است؟

آيا په افغانستان کې قضائيه ځواک په رښتيا هم د دولت له نورو ځواکونو څخه خپلواک دئ؟

آیا قوه قضائیه در افغانستان واقعا مستقل از دیگر قوای دولت است؟

د سازماني خپلواکی ځانګړتياوې کومې دي؟

مشخصات استقلال نهادی چیست؟

**د قانون له لوري پېژندنه:**

د ١١٦ مادې پر بنسټ قضائيه ځواک (( د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت يو خپلواک رکن دي)) چې د سترې محکمې، د استيناف محاکمو او ابتدائيه محاکمو څخه جوړ شوی دي چې د هغوي جوړښت او واکونه د قانون له لياري تنظيمېږي، او ستره محکمه چې تر ټولو لوړ قضايي ارګان دي، د ټولو په سر کې ده.

**شناسایی از سوی قانون اساسی:**

براساس ماده ۱۱۶، قوه قضائیه "یک رکن مستقل از دولت جمهوری اسلامی افغانستان" است که متشکل از ستره محکمه، محاکم استیناف، و محاکم ابتدائیه می باشد که تشکیلات و صلاحیت آنها از سوی قانون تنظیم میگردد، و ستره محکمه که عالی ترین ارگان قضائی است در راس آن قرار دارد.

**جلا او خپلواکه بوديجه:**

برسېره پر دې د ١٢٥ مادې په اساس د قضائيه ځواک بوديجه د سترې محکمې لخوا او د حکومت سره په مشوره چمتو کيږي او ملي شورا

**بودجه جداگانه و مستقل:**

علاوتا، براساس ماده ۱۲۵، بودجه قوه قضائیه از سوی ستره محکمه و در مشوره با حکومت تهیه شده و به شورای ملی بعنوان بخشی از بودجه ملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د ملي بوديجې د يوې برخې په توګه وړاندې کيږي، او د سترې محکمې لخوا تطبيقيږي.

**د مناسبو معاشاتو تضمين:**

د سترې محکمې د غړو او قضاتو لپاره مناسب معاشونه د ۱۵۵ مادې پر بنسټ تضمين شوي دي.

**د محاکمو د ادارې کنټرول:**

د ۱۲٤ مادې په پيروۍ د حکومت د ملکي خدمتونو او د اداري کارکوونکو د اړونده قوانينو سرپه سم، ستره محکمه د قضائيه ځواک د اداري پرسونل د تقررړ انفکاک، ترفيع، تقاعد، مکافات او مجازات تنظيموي.

**د اساسي قانون لخوا د قضائيه ځواک د کړنو ساتل:**

د قضائيه ځواک خپلواکي د ۱۲۲ مادې پر بنسټ د زيات حفاظت څخه برخمنه شوېده: (( هيڅ قانون په هيڅ ډول شرايطو کې نشي کولاي قضيه يا هغه ساحه چې پدې فصل کې تعريف شوې، د قضائي ارګان د صلاحيت له حوزې څخه وباسي او بلې مرجع ته يې وسپاري))، د ځانګړو محکمو د جوړولو څخه پرته چې په ٦۹، ۷۸ او ۱۲۷ مادو کې مجاز ګڼل شوي، او د پوځي محکمو څخه پرته، چې بايد د قانون له ليارې تنظيم شي.

**<u>د پريکړه کوونکي په توګه د قاضي خپلواکي</u>**

اساسي قانون د پريکړه کوونکي په توګه د قاضي د خپلواکي په اړه چپ پاتې دی.

سره لدې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د قاضيانو لپاره د قضايي سلوک مقرره مستقيماً دغه مسئله سپړلې، او په ۳، ۵ او ۷ مادو کې قاضيان ملزموي چې ډاډ تر لاسه کړي چې دوي د نورو قاضيانو په ګډون چې په دعوي کې ګډون نلري،

ارائــه خواهد شـد، و از سوی ستره محکمه تطبیق خواهد شد.

**تضمین معاشات مناسب:**

معاشات مناسب برای اعضای ستره محکمه و قضات براساس ماده ۱۵۵ تضمین شده اند.

**کنترول اداره محاکم:**

به تاسی از ماده ۱۲٤، در تطابق با قوانین مرتبط با کارکنان خدمات ملکی و کارکنان اداری حکومت، ستره محکمه تقرر، انفکاک، ترفیع، تقاعد، مکافات، و مجازات مقامات و پرسونل اداری قوه قضائیه را تنظیم می کند.

**حفاظت قانون اساسی از کارکرد قوه قضائیه:**

استقلال قوه قضائیه براساس ماده ۱۲۲ بیشتر مورد حفاظت قرار گرفته است: "هیچ قانونی، تحت هیچ شرایطی، نمی تواند قضیه یا ساحه ای را از حوزه صلاحیت ارگان قضائی طوری که در این فصل تعریف گردیده خارج ساخته و آنرا به مرجع دیگری واگذار نماید"، به استثنای ایجاد محاکم خاص که در مواد ٦۹، ۷۸ و ۱۲۷ مجاز گشته اند، و محاکم نظامی، که باید از سوی قانون تنظیم گردند.

**<u>استقلال قاضی بعنوان تصمیم گیرنده</u>**

قانون اساسی در مورد استقلال قاضی بعنوان تصمیم گیرنده سکوت اختیار کرده است.

با وجود این، مقرره سلوک قضایی برای قضات جمهوری اسلامی افغانستان مستقیما به این مسئله پرداخته، و در مواد ۳، ۵ و ۷ قضات را ملزم می سازد تا اطمینان حاصل نمایند که آنها از سوی هیچ یک از اشخاص، به شمول دیگر قضات، که

د هېڅا لخوا نه متاثر کېږي.

در دعوی شرکت ندارند متاثر نخواهند شد.

**د سترې محکمې جوړښت:**

لکه څرنګه چې په ۱۱۸ ماده کې بیان شویدي، د سترې محکمې غړي باید د لاندې شرایطو لرونکي وي:

- د افغانستان تبعه وي او عمر يې د ۴۰ کلونو څخه کم نه وي.
- په حقوقي مطالعاتو یا اسلامي فقه کې لوړې زده کړې ولري، او د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم کې تخصص او کافي تجربه ولري.
- د ښه شخصیت او نېک شهرت خاوند وي.
- د بشریت ضد جرمونو، بل جرم یا د مدني حقوقو څخه په بې برخې کېدو محکوم شوی نه وي.
- د دندې د پر مخ بېولو په وخت کې په هېڅ یوه سیاسي ګوند کې غړیتوب ونلري.

**ترکیب ستره محکمه:**

طوری که در ماده ۱۱۸ بیان گشته است، اعضای ستره محکمه باید از شرایط ذیل برخوردار باشند:

- تبعه افغانستان بوده و نباید کمتر از ۴۰ سال عمر داشته باشند
- تحصیلات عالی در مطالعات حقوقی یا فقه اسلامی داشته، و تخصص و تجربه کافی در سیستم عدلی و قضایی افغانستان داشته باشند
- دارای شخصیت خوب و شهرت نیک باشند
- محکوم به جرایم علیه بشریت، جرم دیگر، یا محرومیت از حقوق مدنی نشده باشند
- در حال تصدی وظیفه در هیچ یک از احزاب سیاسی عضویت نداشته باشند

ستره محکمه د نهه غړو څخه جوړه شوې چې د ولسمشر لخوا او د ولسي جرګې په تایید ټاکل کېږي، او د هغوي څخه یو د قاضي القضات په توګه تعیینېږي. (۱۱۷ ماده)

ستره محکمه متشکل از نه عضو است که از سوی رئیس جمهور و با تایید ولسی جرگه تعیین می گردند، و یکی از آنها بعنوان قاضی القضات تعیین می گردد (ماده ۱۱۷).

د سترې محکمې قاضیان په لومړیو کې پدې ترتیب ټاکل کېږي: درې تنه د څلورو کلونو لپاره، درې تنه د اوو کلونو لپاره، او درې تنه د لسو کلونو لپاره. وروستی ټاکنې د لسو کلونو لپاره دي (۱۱۷ ماده)

قضات ستره محکمه در ابتدا به این ترتیب تعیین می گردند: سه نفر برای مدت چهار سال، سه نفر برای هفت سال، و سه نفر برای ده سال. تعیینات بعدی برای مدت ده سال می باشد (ماده ۱۱۷).

د سترې محکمې غړي د دندې تر پیل مخکې لوړه کوي ( ۱۱۹ ماده)،او د خدمت د دورې د پاي ته

اعضای ستره محکمه قبل از اشغال وظیفه حلف به جا می آورند (ماده ۱۱۹)، و بعد از ختم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدو وروسته د خپل پاتې ژوند په موده کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کېږي. پدې شرط چې په دولتي او سیاسي چارو کې بوخت نشي. (۱۲٦ ماده)

دوره خدمت برای بقیه مدت حیات خود از حقوق مالی دوره خدمت مستفید می گردند مشروط به اینکه به مشاغل دولتی و سیاسی اشتغال نورزند (ماده ۱۲٦).

د سترې محکمې غړي نشي کولای د یوې دورې څخه زیات دنده سرته ورسوي، او په ۱۲۷ ماده کې د مندرجو شرایطو پرته، د سترې محکمې غړي د دوي د خدمت د دورې تر پایه د دندې څخه نه عزل کېږي (۱۱۷ ماده).

اعضای ستره محکمه نمی توانند بیش از یک دوره انجام وظیفه نمایند، و به استثنای شرایط مندرج در ماده ۱۲۷، اعضای ستره محکمه تا ختم دوره خدمتشان از وظیفه عزل نمی شوند (ماده ۱۱۷).

د ۱۲۷ مادې پر بنسټ د دندې څخه د گوښه کولو په اړه، که چېرې د ولسي جرگې تر درېیمې برخې زیات غړي د سترې محکمې د رئیس یا غړیو محاکمه د وظیفوي جرم یا د جنایت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرگه دا غوښتنه د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو په اکثریت تصویب کړي، متهم له وظیفې څخه عزل او موضوع ځانگړې محکمې ته سپارل کېږي.

در ارتباط با عزل از وظیفه براساس ماده ۱۲۷، درصورتی که یک سوم از اعضای ولسی جرگه خواستار محاکمه عضوی از ستره محکمه که متهم به ارتکاب جرمی در ارتباط با کارکرد وظیفوی او یا جرم دیگری باشند، و ولسی جرگه آن درخواست را با رای اکثریت دو ثلث از تمام اعضا تایید نماید، آن عضو ستره محکمه باید از وظیفه عزل گشته و مسئله به یک محکمه خاص برای محاکمه طوری که از سوی قانون تعین گشته است ارجاع گردد.

**ټیټې محکمې او قضات**

۱۱٦ ماده استیناف محکمې او ابتدائیه محکمې سپړلې چې د سترې محکمې تر څارنه لاندې، د قضائیه ځواک د اداري عمومي آمریت له لارې چې د اجرایي او قضایي چارو د لا ښه تنظیم او د سترې محکمې لخوا د لازمو اصلاحاتو د تامین په موخه جوړ شوي، فعالیت کوي (۱۳۲ ماده)

**محاکم تحتانی و قضات**

ماده ۱۱٦ به محاکم استیناف و محاکم ابتدائیه پرداخته است که تحت نظارت ستره محکمه، از طریق آمریت عمومی اداری قوه قضائیه که به منظور تنظیم بهتر امور اجرایی و قضائی و تامین اصلاحات لازم از سوی ستره محکمه ایجاد شده است، قرار دارند (ماده ۱۳۲).

قاضیان د سترې محکمې په وړاندیز اود ولسمشر په منظورۍ ټاکل کېږي، او د قاضیانو تقرر، تبدیل، ترفیع، مواخذه او د تقاعد وړاندیز د قانون د حکمونو سره سم د سترې محکمې له صلاحیت څخه دي (۱۳۲ماده).

قضات به پیشنهاد ستره محکمه و منظوری رئیس جمهور تعیین می گردند، و تقرر، تبدیل، ترفیع، مواخذه و پیشنهاد تقاعد قضات مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه می باشد (ماده ۱۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۳ مـاده بیـانوي چـې د تشـکیل، صـلاحیت او محاکمو د اجراآتـو او د قاضیانو اړونـده چـارې د قانون له لیاري تنظیمیږي.

مـاده ۱۲۳ بیـان مـی دارد کـه مسـائل مربـوط بـه تشـکیل، صـلاحیت و اجـراآت محـاکم و امـور مربوط به قضات توسط قانون تنظیم می گردد.

په ۱۲۳ ماده کې یاد شوي مسائل د ستري محکمې د اړونده مسائلو پـه ګـډون، د افغانسـتان د اسـلامي جمهـــوري دولـــت د محکمـــو د تشـــکیل او د صلاحیت د قانون لخوا تنظیمیږي.

مسـائل متـذکره در مـاده ۱۲۳، بـه شـمول مسـائل مرتبط با سـتره محکمـه، توسـط قـانون تشـکیل و صـلاحیت محـاکم جمهـوری اسـلامی افغانسـتان تنظیم می گردند.

د ستري محکمې غړي او قاضیان نشـي کـولای د دندې پرمخ بېولو په وخت کې پـر نـورو بوختیـاوو بوخت شي، او نشـي کـولای پـه سیاسـي ګونـدونو کې غړیتوب ولري( ۱۵۲ او ۱۵۳ مادې).

اعضـای سـتره محکمـه و قضـات نمـی تواننـد در مدت تصدی به مشاغل دیگری اشـتغال ورزنـد، و نمـی تواننـد در احـزاب سیاسـی عضـویت داشـته باشند (مواد ۱۵۲ و ۱۵۳).

پـر قـــاضـــیانـــو د څـــارنـــې پـــه اړه، که قاضـي د جـــنایـــت پـــه ارتکـــاب مـتهم شـي، سـتره محکمه د قانون له حکمونو سره سم د قاضـي پـه حالت غور کـــوي، که ستره محکمـه دده د دفـاع تر اورېدو وروسته اتهام وارد وبولي، ولسمشر تـه د عـزل وړانـدیز کـوي. کـه ولسمشـر دغـه وړانـدیز ومني، متهم قاضـي لـــه دنـدې څخـه ګوښـه او د قـــانون لـــه حکـــمونو سـره سـمه جـزا ورکـول کېږي (۱۳۳ ماده).

در ارتباط با نظارت بر قضات، هرگاه یک قاضـی به ارتکاب جنایت متهم شود، ستره محکمه مطابق به احکام قانون به حالت قاضی رسـیدگی نمـوده، پس از استماع دفاع او، درصورتیکه ستره محکمـه اتهـام را وارد بدانـد پیشـنهاد عـزلش را بـه رئـیس جمهـور تقـدیم مـی کنـد. درصـورتیکه رئـیس جمهور آن پیشنهاد را منظور نماید، قاضی متهم از وظیفه معزول و مطابق بـه احکـام قـانون مجازات می شود (ماده ۱۳۳).

**هغه احکام چې په عام ډول د قضائیه ځواک سره تړاو لري:**

د محکمو صلاحیت ډېر پراخ دی، او یکې په ټولو هغو دعواوو غور شامل دي چې د دولت په ګډون د حقیقـي یـا حکمـي اشخاصـو لخـوا د مـدعي یـا مدعي علیه په توګه د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي. ( ۱۲۰ ماده)

**احکـــامی که بطـور عـام بـا قـوه قضـائیه مـرتبط هستند:**

صلاحیت محاکم بسیار گسترده می باشد و شـامل رسـیدگی بـه تمـام دعـاویی اسـت کـه از طـرف اشخاص حقیقی یا حکمی، بـه شـمول دولـت، بـه حیث مـدعی یـا مـدعی علیـه در پیشـگاه محکمـه مطابق به احکام قانون اقامه شود (ماده ۱۲۰).

او همدارنګه ستره محکمـه صـلاحیت لـري چـې د اساسـي قـانون سـره د موضـــوعه قوانینـو سـمون کنټرول کړي:

و همـــچنان ســـتره محکمـه صـلاحیت دارد تـا تـطابـــق قـوانین موضـوعه را بـا قـانون اساسـی کنترول نماید:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين الدول معاهداتو، او نړيوال ميثاقونو د سمون څېړل او د هغوي تفسير د حکومت يا د محکمو په غوښتنه د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحيت دي (۱۲۱ ماده)

بررسی مطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین الدول و میثاق های بین المللی با قانون اساسی و تفسیر آنها بر اساس تقضای حکومت ویا محاکم، مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه می باشد (مادۀ ۱۲۱).

وروسته د قضايي بياکتنې موضوع په اړه په مشرحه توګه هغه ته بيارا ګرځو:

ما بعداً در مورد موضوع بازبینی قضائی، بصورت مشرح بدان برخواهیم گشت:

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دايرېږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغه کې ګډون وکړي، محکمه کولاي شي په هغه حالاتو کې چې قانون څرګند کړي وي، يا د محکمې سري توب ضروري وګڼل شي، سري جلسه دائره کړي خو د حکم اعلان بايد په هر حال علني وي (۱۲۸ ماده)

در محاکم افغانستان، محاکمه به صورت علنی دایر می گردد و هر شخص حق دارد با رعایت احکام قانون در آن حضور یابد، محکمه می تواند در حالاتی که در قانون تصریح گردیده، یا سری بودن محاکمه ضروری تشخیص گردد، جلسات سری دایر کند ولی اعلام حکم باید به هر حال علنی باشد (مادۀ ۱۲۸).

محکمه مکلفه ده د خپل صادر شوي حکم اسباب په فيصله کې ذکر کړي، د محکمو د ټولو قطعي فيصلو عملي کول واجب دي خو د شخص مړګ د حکم په حالت کې د ولسمشر منظوري شرط ده (۱۲۹ ماده)

محکمه مکلف است اسباب حکمی را که صادر می نماید، در فیصله ذکر کند، تمام فیصله های قطعی محاکم واجب التعمیل است مگر در حالت حکم به مرگ شخص که مشروط به منظوری رئیس جمهور می باشد (مادۀ ۱۲۹).

د قانون د انفاذ لپاره د مراتبو لړۍ، په واضحه توګه تعيين شوېده:

سلسلۀ مراتب برای انفاذ قانون، بشکل واضح تعیین گردیده است:

محکمې تر غور لاندې قضاياوو کې د دغه اساسي قانون او نورو قوانينو حکمونه پلي کوي (۱۳۰ماده)

محاکم در قضایای مورد رسیدگی، احکام این قانون اساسی و سایر قوانین را تطبیق می کنند (مادۀ ۱۳۰).

که د غور لاندې قضاياوو له ډلې څخه د کومې قضيې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغه حدودو کې د ننه چې دې اساسي قانون ټاکلي قضيه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تامين

هرگاه برای قضیه یی از قضایای مورد رسیدگی، در قانون اساسی و سایر قوانین حکمی موجود نباشد محاکم به پیروی از احکام فقه حنفی و در داخل حدودی که این قانون اساسی وضع نموده، قضیه را به نحوی حل و فصل می نمایند که عدالت را به بهترین وجه تأمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. (۱۳۰ ماده)

محکمې د اهل تشیع لپاره په شخصي احوالو پورې اړونده قضایاوو کې د قانون د احکامو سره سم د تشیع د مذهب حکمونه تطبیقوي، په نورو دعواوو کې هم که پدې اساسي قانون یا نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمې قضیه ددې مذهب له حکمونو سره سم حل وفصل کوي. (۱۳۱ ماده)

د دغه سرچینو د شتون په وخت کې قاضي دیوې قضیې د پرېکړې په وخت کې لمړی کوم ځای ته مراجعه وکړي؟

- اساسي قانون
- نور موضوعه قوانین
- نړیوال معاهدات، میثاقونه او الزامي کنوانسیونونه
- د ولسمشرۍ د مقام تقنیني فرمانونه
- هغه جوړ شوي مقررات چې قانوني ځواک ولري

په کومو مواردو کې باید قاضي حنفي فقې ته مراجعه وکړي؟

یواځې په هغه صورت کې چې اساسي قانون او نور قوانین د قضیې په اړه حکم ونلري.

په کومو مواردو کې قاضي باید د اهل تشیع مذهب ته مراجعه وکړي؟

- د شخصي احوالو په قضایاوو کې لکه د کورنۍ او میراث موضوعات چې د قضیې دواړه لوري اهل تشیع وي، پدې صورت کې

نماید (ماده ۱۳۰).

محاکم برای اهل تشیع، در قضایای مربوط به احوال شخصیه، احکام مذهب تشیع را مطابق به احکام قانون تطبیق می نمایند، در سایر دعاوی نیز اگر در این قانون اساسی و قوانین دیگر حکمی موجود نباشد، محاکم قضیه را مطابق به احکام این مذهب حل و فصل می نمایند (مادۀ ۱۳۱).

در صورت موجودیت این منابع، قاضی حین فیصله نمودن یک قضیه، اولاً بکجا مراجعه خواهد کرد؟

- قانون اساسی
- سایر قوانین موضوعه
- معاهدات، میثاق ها و کنوانسیون های الزامی بین المللی
- فرامین تقنینی مقام ریاست جمهوری
- مقررات اتخاذ شده که متضمن نیرو و تأثیر قانونی باشد

در کدام موارد قاضی باید به فقۀ حنفی مراجعه نماید؟

تنها در صورتیکه قانون اساسی وسایر قوانین در رابطه به قضیه، حکم نداشته باشد.

در کدام موارد قاضی باید به مذهب اهل تشیع مراجعه نماید؟

- در قضایای احوال شخصیه مانند موضوعات خانواده و میراث، که جانبین قضیه اهل تشیع باشند، دراین صورت اجراأت طبق احکام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجراآت د قانون د احکامو سره سم تطبیقیږي.

قانون تطبیق میگردد.

- په نورو دعواګانو کې چې د دعوي طرفین اهل تشیع وي او په اساسي قانون او نورو قوانینو کې د دغه ډول دعوی د غور لپاره حکم وجود ونلري.

- در سایر دعاوی که طرفین دعوی اهل تشیع باشند و در قانون اساسی و قوانین دیگر حکمی برای رسیدگی همچو دعوی وجود نداشته باشد.

که د دعوي طرفین په هغه ژبه چې محاکمه پرې کیږي، ونه پوهیږي، د قضیې د موادو او اسنادو څخه د اطلاع حق او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبرو حق د ژباړونکي په وسیله ورته تامینیږي. (۱۳۵ ماده)

اگر طرف دعوا زبانی را که محاکمه توسط آن صورت می گیرد ندانند، حق اطلاع به مواد و اسناد قضیه و صحبت در محکمه به زبان مادری توسط مترجم برایش تأمین میگردد (مادهٔ ۱۳۵).

**(و). د ځواکونو تفکیک - کنټرول او توازن (Checks and Balances)**

**(و). تفکیک قوا – کنترول و توازن (Checks and Balance)**

څوک په هېواد کې تر ټولو ځواکمن شخص دی؟

چه کس قدرتمندترین شخص در کشور است؟

د دولت کومه برخه تر ټولو ځواکمنه ده؟

کدام بخش دولت نیرومندترین بخش است؟

اوس چې مونږ د دولت دریو برخو، د هغوی دندو او مسئولیتونو ته پاملرنه وکړه، پوښتنه بیا تکرارېږي: د یوه ولسمشر اساسي ماهیت څه دی؟

حالا که ما به قوا، وظایف و مسئولیتهای گوناگون این سه بخش دولت توجه کردیم، سوال دوباره تکرار میشود: ماهیت اساسی یک جمهوریت چیست؟

ځواب توپیر لري مګر د دولت مختلفې برخې د کنټرول او توازن (Checks and Balances)، د اساسي کاري چوکاټ سره په سمون جوړ شویدي.

پاسخ تفاوت میکند ولی بخش های مختلف دولت با کنترول وتوازن (Checks and Balance) در تطابق با چارچوب کاری اساسی تشکیل شده اند.

ولې دغه کنټرول او توازن (Checks and Balances) په یوه حکومت کې چې جمهوري غوښتونکي وي، شتون لري؟ د یوه شخص یا یوه ارګان لخوا د غیر متجانس قدرت د تجمع د مخنیوي لپاره، څکه چې د استبداد څخه مخنیوی وشي.

چرا این کنترول و توازن (Checks and Balance) در یک حکومت که دارای طرز جمهوری خواه است، وجود دارد؟ جهت اجتناب از تجمع قدرت غیر متجانس توسط یک شخص ویا یک نهاد، این بخاطریکه تا از استبداد جلوگیری بعمل آید.

راځئ د قدرت د توازن پدې ساتنه یو ځل بیا غور

بیایید این حفظ توازن قدرت را تجدید نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو، پداسې حال کې چې ځينې يې اساسي دي او نور يې سياسي.

پر پارلمان د ځواک د کارولو په برخه کې د ولسمشر کنټرول څه دی؟

- د قوانينو لپاره د وړانديزونو ويټو کول، د ممکنه الغاء په بنسټ
- د جديت پرته کم تر کمه د قانون له حکمونو سره د پروګرامونو تطبيق
- د بيړني حالت اعلان

د ولسمشر د واکونو د کارولو په برخه کې د پارلمان کنټرول څه دی؟

- د قانون دهغه وړانديزونو د تصويب څخه امتناع چې د دولت لخوا وړاندې کيږي.
- د بوديجې ديوې برخې يا ټولې او يا هم د ملي پرمختيايي پروګرام د تصويب څخه امتناع
- د اړتيا په وخت کې د وزيرانو څخه ملي شورا ته د حاضرېدو لپاره غوښتنه
- د څېړنې د کميسيونونو جوړول
- وزيرانو ته د نه باور د رايې ورکول
- استيضاح

د سترې محکمې د واکونو پر عملي کېدو د ولسمشر کنټرول څه دی؟

- د سترې محکمې د کلنی بوديجې د غوښتنې نه منظوري

نمائيم. درحاليکه بعضی انها اساسی هستند و بعض ديگر انها سياسی.

کنترول رئيس جمهور بالای پارلمان در بکاربردن قوه، چه است؟

- ويتـــو کـردن پيشنهادات بـرای قـوانين، بـر اساس الغاء ممکنه
- تطبيق حد اقل احکام قانون و پروگرام ها بدون جديت
- اعلام حالت اضطراری

کنترول پارلمان در مورد بکاربرد صلاحيت های رئيس جهمور چه ميباشد؟

- امتناع از تصويب پييشنهادات قانون که از سوی دولت ارائه ميگردد.
- امتناع از تصويب تمام يا يک قسمت بوديجهٔ ويا برنامهٔ انکشاف ملی
- درخواست از وزرا بخاطری حاضر شدن در مجالس شورای ملی عندالزوم
- تأسيس کمسيون های تحقيقاتی
- رای عدم اعتماد برای وزراء
- استيضاح

کنترول رئيس جمهور بالای اعمال صلاحيت های ستره محکمه ، چه است؟

- امتناع از منظوری تقاضای بوديجهٔ سالانه ستره محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هغه قاضي د تقرر د منظوري څخه ډډه چې د ستري محکمې لخوا وړاندیز شوی وي
- په هغه کرسي کې چې نه وي اشغال شوې، د ستري محکمې د غړي د تقرر څخه ډډه
- د ستري محکمې د پرېکړې د فسخ کولو لپاره پارلمان ته د قانون د مسودې وړاندې کول
- د قضائي پرېکړو د اجراء څخه ډډه ( ۷۵ ماده، لمړی جز)

د ولسمشر د واکونو پر عملي کولو د ستري محکمې کنټرول څه دی؟

- د ځانګړو قضیو د اقدام یا هم د هغه څخه د ډډې په اړه ولسمشر ته حکم کول.
- د تقنیني فرمانونو او مقرراتو اعلانول د اساسي قانون خلاف او غیر قابل الاجراء، په ځانګړو مواردو کې.

د ستري محکمې د واکونو پر عملي کېدو د پارلمان کنټرول څه دی؟

- د هغه بودیجې نه تصویبول چې د ستري محکمې لخوا وړاندېز شوېده
- د ولسمشر لخوا د ستري محکمې د غړي نه تاییدول
- د ستري محکمې د پرېکړې د الغاء کولو لپاره د قانون وړاندې کول یا تصویب
- استیضاح

- امتناع از منظوری تقرر قاضی که از سوی ستره محکمه پیشنهاد شده باشد
- امتناع از تقرر عضو ستره محکمه درکرسی که اشغال نگردیده باشد
- تقدیم یک مسوده قانون به پارلمان غرض فسخ تصمیم ستره محکمه
- امتناع از اجرا تصامیم قضائی (مادهٔ ۷۵، جزء ۱)

کنترول ستره محکمه بالای اعمال صلاحیت های رئیس جمهور، چه است؟

- دستور به رئیس جمهور برای اتخاذ یک اقدام لازمه یا امتناع از آن در رابطه به قضایای خاص.
- اعلام نمودن فرامین تقنینی و مقررات خلاف قانون اساسی و غیر قابل اجراء، در موارد خاص.

کنترول پارلمان بالای اعمال صلاحیت های ستره محکمه، چه است؟

- امتناع از تصویب پیشنهاد بودیجهٔ که از سوی ستره محکمه پیشنهاد شده است
- امتناع از تأیید عضو ستره محکمه که توسط رئیس جمهور تعیین شده است
- پیشنهاد یا تصویب قانون غرض ملغی کردن تصمیم ستره محکمه
- استیضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پارلمان د واکونو پر عملي کېدو د سترې محکمې کنټرول څه دی؟

- په ځينو ځانګړو مواردو کې ځينې قوانين يا نړيوال معاهدات، ميثاقونه او يا کنوانسيونونه د اساسي قانون خلاف اعلانول.

**[ د راتلونکي درسي ساعت لپاره د لوستلو دنده- اساسي قانون ۲۲-۳۳ مواد]**

**III اساسي حقوق او وجايب**

**د ښوونې موخې- ۷ او ۸ درسي ساعتونه**

- هغه اساسي حقوق چې په اساسي قانون کې مشخص شويدي، بيان کړئ
- د ځينو اساسي حقوقو پېچلتيا توضيح کړئ.
- هغه ابهامات چې په ځينو اساسي حقوقو کې شته، واضح کړئ.
- د دغه اساسي حقوقو په تامين کې د يوه خپلواک قضائي ځواک ارزښت ته پاملرنه وکړئ

**(الف). سريزه**

په لومړي درسي ساعت کې د ټولنيز تړون او د هغه علت په اړه چې خلک څرنګه د دولتونو د جوړولو پرېکړه کوي، بحث وشو.

يو ځل بيا هغه دلايل کوم دي؟

- د ګاونډيانو په وړاندې خونديتوب او ساتنه (اردو)

کنترول ستره محکمه بالای اعمال صلاحیت های پارلمان، چه است؟

- در موارد خاص، بعضی قوانین یا معاهدات بین المللی، میثاق ویا کنوانسیون را خلاف قانون اساسی، اعلام نمودن.

**[وظیفهٔ خوانش برای ساعت درسی بعدی – قانون اساسی، مواد ۲۲ – ۳۳]**

**III حقوق و وجایب اساسی**

**اهداف آموزش – ساعات درسی ۷ و ۸**

- حقوق اساسی ای که در قانون اساسی مشخص شده است، بیان نمائید.
- پیچیدگی برخی از حقوق اساسی را توضیح نمأیید.
- ابهاماتی را که در برخی از حقوق اساسی وجود دارد، واضح سازید.
- اهمیت یک قوهٔ قضائیهٔ مستقل را تأمین این حقوق اساسی، مورد توجه قرار دهید.

**(الف). مقدمه**

در ساعت درسی اول راجع به قرارداد اجتماعی و علتی که مردم چطور تصمیم تشکیل دول را میگیرند، بیان داشتیم.

یکبار دیگر آن دلایل کدام اند؟

- نگهداری و مصئونیت درمقابل همسایه گان (اردو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ټولنې د ننه امنيت او ثبات (پوليس)
- د دولت د لازمه عامه خدماتو لپاره ضروري مقررات (دولت)
- د اساسي حقوقو او خپلواکيو تامين

مونږ خونديتوب، امنيت او لازم خدمات مطرح کړل، راځئ اوس د افغانستان په تاريخ کې د اساسي حقوقو او خپلواکيو په اړه بحث وکړو، زياتره دغه حقوق او خپلواکۍ نړيوال دي چې د ډېرو هېوادونو په اساسي قوانينو او همدارنګه په نړيوالو ميثاقونو او کنوانسيونونو کې تر لاسه کېداي شي.

په وروسته ګام کې د دغه اساسي حقوقو او خپلواکيو د ساتنې په اړه خبرې کوو، او همدارنګه د دغه حقوقو او خپلواکيو د ثبوت په اړه د يوه خپلواک قضائيه ځواک بې سياله ارزښت تر بحث لاندې نيسو.

**(ب). اساسي حقوق او وجايب ( د اساسي قانون ۲۲–۵۹ مادې)**

۲۲ ماده- د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعيض او امتياز منع دي. د افغانستان اتباع نارينه او ښځينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري.

- آيا ۲۲ ماده واضح ده؟
- آيا پدې اړه کوم ابهام شته؟
- ولې؟ ولې نه؟
- د اساسي قانون د دريمې مادې په اړه چې په لاندې ډول صراحت لري، څه نظر لري (( په

- امنیت و ثبات داخلی جامعه (پولیس)
- مقررات ضروری برای خدمات عامه لازمه (دولت)
- تأمین حقوق و ازادی های اساسی

ما حفاظت، امنیت و خدمات لازم را مطرح کردیم. بیائید حالادر مورد حقوق و ازادی های اساسی در دیرینه افغانستان مباحثه نمائیم. بسیاری ازین حقوق و ازادی ها جهانی اند که در قوانین اساسی اکثر کشورها وهمچنان در میثاق ها و کنوانسیون های بین المللی، میتوان آنها را دریافت نمود.

در قدم بعدی راجع به حفظ این حقوق و ازادی های اساسی حرف خواهیم زد، و همچنان اهمیت بی همتا یک قوهٔ قضائیهٔ مستقل را در رابطه به اثبات این حقوق و ازادی ها، تحت بحث قرار خواهیم داد.

**(ب). حقوق و وجایب اساسی (مواد ۲۲ – ۵۹ قانون اساسی)**

ماده ۲۲ – هر نوع تبعیض و امتیاز بین اتباع افغانستان ممنوع است. اتباع افغانستان اعم از زن و مرد در برابر قانون دارای حقوق و وجایب مساوی می باشند.

- آیاماده ۲۲ واضح میباشد؟
- آیا دراین مورد کدام نوع ابهام وجود دارد؟
- چرا؟ چرا نه؟
- راجع به مادهٔ ۳ قانون اساسی که طور ذیل صراحت دارد، چه نظر دارید ″ در

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولاي چې د اسلام د سپېڅلي د معتقداتو او احکامو مخالف وي))؟

افـغانسـتان هـيچ قـانون نمـی توانـد مخـالف معـتقدات واحکـام ديـن مقـدس اسلام باشد"؟

- آيا دا پدې معني ندي چې اسلامي معتقدات د اساسي قانون تر احکامو وړاندې دي؟
- ولې؟ ولې نه؟
- که ځواب مثبت وي، څوک پرېکړه کوي؟
- په پاي کې آيا منصفانه به نه وي چې ومنو چې په لويه جرګه کې د اساسي قانون تصويب د خلکو د استازو اصلي پرېکړه ده، او د اساسي قانون ټول احکام د اسلامي شريعت له احکامو سره سم دي؟

- آيا اين بدين معنی نيست که معتقدات اسلام نسبت به احکام قانون اساسی مقدم ميباشند؟
- چرا؟ چرا نه؟
- اگر پاسخ مثبت باشد، چه کس تصميم خواهد گرفت؟
- در نهايت امر، آيا منصفانه نخواهد بود تا قبول کنيم که تصويب قانون اساسی در لويه جرگه، تصميم اصلی نمايندگان مردم بوده، و تمام احکام قانون اساسی در مطابقت با احکام شريعت اسلامی قرار دارند؟

**۲۳ ماده– د ژوندانه حق:**
ژوند د خداي بښنه او د انسان طبيعي حق دي، هېڅوک له قانون مجوز پرته لدې حقه بې برخې کېداي نشي.

**مادۀ ۲۳ – حق زندگی:**
زندگی موهبت الهی و حق طبيعی انسان است، هيچ شخص بدون مجوز قانونی از اين حق محروم نمی گردد.

**۲۴– د خپلواکۍ او انساني کرامت حق:**
خپلواکي د انسان طبيعي حق دي، دا حق د نورو د خپلواکۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له مخې تنظيمېږي، حدود نلري. د انسان خپلواکي او کرامت له تېري خوندي دي، دولت د انسان د خپلواکۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دي.

**مادۀ ۲۴ – حق آزادی و کرامت انسانی:**
آزادی حق طبيعی انسان است، اين حق جز آزادی ديگران و مصالح عامه که توسط قانون تنظيم می گردد، حدودی ندارد. آزادی و کرامت انسان از تعرض مصئون است، دولت به احترام و حمايت آزادی و کرامت انسان مکلف می باشد.

**۲۵ ماده: د ذمې برائت حق:**
د ذمې برائت اصلي حالت دي، تر هغه چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم تورن محکوم عليه ثابت نشي، بې ګناه ګڼل کېږي.

**مادۀ ۲۵ – حق برائت الذمه:**
بخاطريکه برائت الذمه حالت اصلی است، متهم تا وقتی که به حکم قطعی محکمه با صلاحيت محکوم عليه قرار نگيرد، بی گناه شناخته ميشود.

- د ذمې د برائت د حالت مفهوم په حقيقي

- مفهوم حالت برائت الذمه در زندگی حقيقی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کې څه دی؟

- د هغه موخه څه ده (د دولت د نظم د لویې توانمندئ په وړاندې درېدل)؟
- آیا منصفانه به وي چې د یوه قاضي مفکوره داسې وي چې کله چې یو شخص د څارنوال لخوا د جرم په ارتکاب تورن شي، ښايي دغه د نوموړي د محکوم کولو لپاره یو ښه فرصت وي.
- که چېرې د ذمې د برائت رعایت شي او خپلواکي اصلي حالت وي، آیا کولای شو پدې صورت کې یو تورن چې دوسیه یې د محکمې تر غور لاندې وي، د خپلواکی د حق څخه بې برخې او په زندان کې وساتل شي؟
- دغه عمل څرنګه توجیه کولای شو؟
- آیا د خپلواکی اخیستل یوه استثناء ده او یا هم د قاعدې په توګه کېږي؟
- که چېرې د محاکمې په جریان کې تورن د ذمې د برائت څخه مستفید وي، آیا څارنوال مکلف دي چې جرم ثابت کړي؟
- آیا تورن مکلف دی چې په هر صورت کې د څارنوال او محکمې سره د جرم په اثبات کې مرسته وکړي؟
- د دغه ډول اثبات کچه څومره ده؟
- که د محاکمې په جریان کې د یوه واقعیت په اړه یو معقول شک وجود ولري، د یاد شوي شک رفع کول تر کومه حده لازمي ده؟

چیست؟

- هدف آن چی میباشد (ایستادگی در مقابل توانمندی بزرگ نظم دولت) ؟
- آیا منصفانه خواهد بود که مفکوره یک قاضی طوری باشد که وقتی یک شخص توسط څارنوال به ارتکاب جرم متهم شده، ممکن این یک فرصت خوب برای محکوم نمودن وی میباشد.
- در صورتیکه برائت الذمه رعایت گردد و ازادی حالت اصلی باشد، آیا میتوان در این صورت یک متهم را که دوسیه او تحت رسیدگی محکمه قرارداشته باشد، از حق آزادی محروم و در زندان نگه داشت؟
- چه گونه میتوان همچو عملی را توجیه نمود؟
- آیا سلب آزادی یک استثنا خواهد بود یا بطور قاعده قرار خواهد گرفت؟
- در صورتی که در جریان محاکمه، متهم از حق برائت الذمه مستفید باشد، آیا څارنوال مکلف است جرم را ثابت نماید؟
- آیا متهم مکلف است که در هر صورت څارنوال و یا محکمه را در اثبات جرم اش همکاری نماید؟
- میزان اثبات چنین ادعا چه است؟
- اگر درجریان محاکمه یک شک معقول راجع به یک واقعیت وجود داشته باشد، رفع شک مذکور تا چه حد لازم است؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۶ ماده- د خپلوۍ له کبله د جرم نه سرایت:**

جرم یو شخصي عمل دي، د تورن تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه باندې د جزاء تطبیقول بل هېچا ته سرایت نه کوي.

**مادهٔ ۲۶ – عدم سرایت جرم به سبب قرابت:**

جرم یک عمل شخصی است ، تعقیب، گرفتاری یا توقیف متهم و تطبیق جزا او به شخص دیگر سرایت نمی کند.

- د دغه مادې په بنسټ آیا یوه ښځه یا مېړه د هغه جرم له کبله چې د ژوند ملګري یې کړی دي، محکومېدای شي؟
- طبق این مادهٔ ، آیا یک همسرنسبت به جرم که همسرش مرتکب شده، محکوم شده میتواند؟
- د صغیرو کوچنیانو د جرم په باره کې د دوي د والدینو د مسئولیت په هکله څه نظر لرئ؟
- در رابطه به جرم کودکان صغیر، درمورد مسئولیت والدین شان چه نظر دارید؟
- آیا یو شرکت (کمپنی) د یوه جرم په تور محکومېدای شي؟
- آیا یک شرکت (کمپنی) به ارتکاب یک جرم محکوم شده میتواند؟
- آیا د یوه شرکت مسئول د هغه جرم له کبله چې یوه بل شخص د هغه د شرکت په نامه کړی وي، محکومېدای شي؟
- آیا مسئول یک شرکت (کمپنی) نسبت به جرمی که یک شخص دیگر به نام شرکت وی مرتکب شده باشد، محکوم شده میتواند؟

**۲۷ ماده- د قانوني تشریفاتو مراعاتول او مخکینې قانون ته نه راګرځېدنه:**

هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر د هغه قانون په حکم چې د هغــه د ارتکاب څخه مخکې نافذ شوی وي.

**مــادهٔ ۲۷ – رعایــت تشــریفات قــانونی و عــدم برگشت قانون به ماقبل:**

هیــچ عملــی جرم شمرده نمی شود مگر به حکـم قـــانونی کـه قبـل از ارتکـاب آن نافـذ گردیده باشد.

هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای ، نېول کېدای یا توقیفېدای نشي.

هیچ شخص را نمی توان تعقیب، گرفتار و یا توقیف نمود مگر بر طبق احکام قانون.

هېچا ته سزا نشي ورکول کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

هیچ شخص را نمی توان مجازات نمود مگر به حکم محکمهٔ با صلاحیت و مطابق به احکام قانونی که قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد.

- د قانوني تشــریفـاتو د رعایت څخه موخه څه ده؟
- مفهـــوم از رعـــــایت تشـریفات قــانونی چیست؟
- آیا پولیس باید د یوه شخص د تعقیب یا نیولو
- آیا پولیس باید برای تعقیب ویا گرفتاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره موجه دلیلونه ولري؟

یک شخص، دلایل مؤجه داشته باشد؟

- دغـه ډول دلایـل پـه کومـو ځـایونو کـې وړاندوینه شویدي؟
- چنیـــن دلایـــل در کـــجا پیـــش بینـی شده اند؟

- آیـا کېـداي شـي یـــو شـخص د نیولـو او محکمې ته د احضار په مـوده کې پـه زنـدان کې وساتل شي؟
- آیـا میتـوان یـک شـخص را در مـدت بـین گرفـــتاری و احضـار بـه محکمـه، در زنـدان نگه داشت؟

- په کومو حالاتو کې؟
- در کدام حالات؟

- دغـه ډول حالتونـه پـه کومـو ځـایونو کـې وړاندوینه شوي دي؟
- چنیـــن حـــالات در کـــجا پـیش بینـی گردیده اند؟

- آیـا داسې معینـه مـوده شـته چې تـر څـارنې لاندې تـورن بایـد پـه هغـه کې محکمې تـه احضار شي؟
- آیا مـــدت معینـی وجـود دارد کـه مظنـونی تحـت نظـــارت، در آن بایـد بـه محکمـه احضار گردد؟

- آیا داسی معینه موده شته چه پـه هغـه کښې، تعقیب، نیول او احضار کول په محکمه کښې باید ترسره شی.
- آیـا مـدت معینـی وجـود دارد، کـه در آن تعقیب، گرفتاری و احضـار بـه محکمـه بایـد صورت گیرد.

- دغه ډول معینـه مـوده پـه کومـو ځـایونو کې موندل کېداي شي؟
- همچو مدت معیین را درکجا میتوان دریافت نمود؟

- آیـــا دا د قـــانــــون اړونـــده بهیـــر یـوه برخه ده؟
- آیا این یـک قسـمت از رونـد مربـوط قـانون است؟

- د دولـت کومـه شـعبه د جرمونـو مجـازات تعیینوي؟
- کدام شعبهٔ دولت مجازات جـرایم را تعیـین مینماید؟

- آیـا د یـوه ځـانګړي جـرم پـه مجـازاتو کـې زیاتوالی راتلای شي؟
- آیـا در مجازات یـک جـرم خـاص افـزایش بعمل آمده میتواند؟

- که د جرم مجازات د هغـه د ارتکـاب څخـه وروسته زیات شي، آیا پدې صورت کې پـر تورن نوي مجازات تطبیقیږي؟
- اگر مجازات جرم بعد از ارتکاب آن افزایش یابد، آیا دراین صورت مجازات جدید بالای متهم تطبیق میگردد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې؟ ولې نه؟

**۲۸ ماده- د تابعیت او عدم تبعید حق مګر د بالمثل معاملې په بنسټ:**
د افغانستان هېڅ تبعه په جرم باندې د تورن کېدو له کبله بهرني دولت ته نه سپارل کېږي مګر د ورته معاملو او د هغه بین الدول تړونونو له امله چې افغانستان ورسره تړاو لري. هېڅ افغان د تابعیت په سلبېدو یا په افغانستان کې دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومېږي.

**۲۹ ماده- د عدم تعذیب او تعقیب او د انساني کرامت حق:**
هېڅوک نشي کولای له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب لاندې وي او یا په جزاء محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي.

- د ((تعذیب)) او انساني کرامت تعریف څوک کولای شي؟

- آیا کېدای شي په خطرناکو حالاتو کې د بې ګناه اشخاصو د تلف کېدو د مخنیوي په موخه د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره تعذیب توجیه کړل شي؟

- آیا کوم دلیل یا عقیده وجود لري چې په هغه کې تعذیب د مؤثقو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره مناسبه لاره ګڼل شوې وي.

- څرنګه پوهېدای شو چې کوم مجازات د انساني کرامت خلاف دي؟

**۳۰ ماده- پر جرم د اجباري اعتراف څخه خوندیتوب:**
له تورن یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوې

- چرا؟ چرا نی؟

**مادۀ ۲۸ – حق تابعیت و عدم تبعید مگر بر اساس معامله بالمثل:**
هیچ یک از اتباع افغانستان به علت اتهام به جرم، به دولت خارجی سپرده نمی شود مگر بر اساس معامله بالمثل و پیمان های بین الدول که افغانستان به آن پیوسته باشد. هیچ افغان به سلب تابعیت ویا تبعید در داخل یا خارج افغانستان محکوم نمی شود.

**مادۀ ۲۹ – عدم تعذیب و تعقیب و حق کرامت انسانی:**
هیچ شخص نمی تواند حتی به مقصد کشف حقایق از شخص دیگر، اگر چه تحت تعقیب، گرفتاری یا توقیف ویا محکوم به جزا باشد، به تعذیب او اقدام کند یا امر بدهد.

- تعریف "تعذیب" و کرامت انسانی را کی ارائه مینماید؟

- آیا میتوان تعذیب را جهت کشف معلومات در حالات وخیم، برای جلوگیری از اتلاف اشخاص بی گناه توجیه نمود؟

- آیا کدام دلیل یا عقیدۀ وجود دارد که در آن تعذیب شیوۀ مناسب برای کشف معلومات مؤثق، نامیده شده باشد.

- چطور میتوان فهمید که کدام مجازات، خلاف کرامت انسانی اند؟

**مادۀ ۳۰ – مصئونیت از اعتراف اجباری بر جرم:**
اظهار، اقرار و شهادتی که از متهم یا شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندونې، اقرار او شهادت اعتبار نلري. په جرم اقرار د تورن هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتيا په حالت کې يې د باصلاحيته محکمې په وړاندې کړی وي.

دیگری به وسیلهٔ اکراه به دست آورده شود، اعتبار ندارد. اقرار به جرم عبارت است از اعتراف متهم با رضایت کامل و در حالت صحت عقل ، در حضور محکمه با صلاحیت.

- کومې محکمې د مجرم د اعترافاتو او دفاع د منلو په اړه صلاحيت لري؟
- (( اجبار)) څه مفهوم لري؟
- د ۲۹ مادې په پام کې نيولو سره، آيا د پوليس او څارنوال لپاره د شکنجې يا داسې طريقه چې د شکنجې په حد کې نه وي، څخه پرته بله کومه لاره شته چې تورن په خپله خوښه اعتراف وکړي؟
- آيا پوليس يا څارنوال کولای شي د اعتراف د ترلاسه کولو لپاره تورن ته درواغ ووايي.
- استنطاق څومره وخت اوږدېدای شي چې داسې ونه ګڼل شي چې استنطاق غير دواطلبانه او اعتبارنلري؟
- که د تورن اعتراف د دغه مادې د مندرجو احکامو خلاف وي، آيا په محاکمه کې د ياد شوي تورن د محکوم کولو لپاره د دغه ډول اعتراف څخه ګټه اخيستلای شو؟
- آيا کولای شو چه دغه سوالونه د موضوعه قوانينو په نظر نيولو کشی ځواب ورکړو؟
- که ځواب منفی وی، نو څوک کولای شی دغه سوالونو ته ځواب ووايی او د اساسی قانون دغه ماده تطبيق کړی؟

- کدام محاکم در عرصهٔ پذیرفتن اعترافات و دفاع مجرم، دارای صلاحیت میباشد؟
- "اجبار" چه مفهوم دارد؟
- با در نظرداشت ماده ۲۹، آیا برای پولیس و څارنوال کدام چاره دیگر بدون از توسل به شکنجه یا شیوه که در حد شکنجه نباشد، وجود دارد، تا متهم داوطلبانه اعتراف نماید؟
- آیا پولیس یا څارنوال میتواند غرض کسب اعتراف، به متهم سخنان دروغ بگوید.
- استنطاق چه مدت میتواند طول بکشد تا تلقی نگردد که استنطاق، غیر داوطلبانه و یا خارج از اعتبار است؟
- اگر اعتراف متهم خلاف احکام مندرج این ماده صورت گیرد، آیا از اعتراف مذکور در محاکمه جهت محکوم نمودن وی، میتوان استفاده نمود؟
- آیا این سوالات را با در نظر داشت قوانین موضوعه پاسخ داده میتوانیم؟

در صورتیکه پاسخ منفی باشد، پس چه کس میتواند این سوالات را پاسخ دهد و این مادهٔ قانون اساسی را تطبیق نماید؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۱ ماده- د تور څخه د خبرېدو اود مدافع وکيل د نيولو حق:**

هر څوک کولای شي چې له نيول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او يا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکيل وټاکي، متهم حق لري چې له نيولو سره سم له منصوب اتهامه ځان خبر کړي او د هغې مودې دننه چې قانون يې ټاکي محکمه کې حاضر شي، دولت په جنايي پېښو کې د بېوزله متهم لپاره مدافع وکيل ټاکي. د متهم او د هغه د وکيل تر منځ د مکالماتو، مراسلاتو او مخابراتو پټوالی له هر ډول تعرض څخه خوندي دي، د مدافع وکيلانو وظايف او واکونه د قانون له ليارې تنظيمېږي.

**مادۀ ۳۱ – حق اطلاع از اتهام و وکیل مدافع:**

هر شخص می تواند برای دفع اتهام به مجرد گرفتاری ویا برای اثبات حق خود، وکیل مدافع تعیین کند. متهم حق دارد به مجرد گرفتاری، از اتهام منسوب اطلاع یابد و در داخل میعادی که قانون تعیین گردیده در محکمه حاضر گردد. دولت در قضایای جنائی برای متهم بی بضاعت وکیل مدافع تعیین می نماید. محرمیت مکالمات، مراسلات و مخابرات بین متهم و وکیل آن، از هر نوع تعرض مصئون می باشد. وظایف و صلاحیت های وکلای مدافع توسط قانون تنظیم می گردد.

- آيا مظنون شخص د نيولو څخه مخکې د پوليسو د استجواب په عر صه ،د مدا فع وکيل د لرولو حق لري ؟
- آيا شخص مظنون قبل از گرفتاری در عرصۀ استجواب پولیس، حق داشتن وکیل مدافع را دارد؟

- آ يا مظنون شخص د نيول کېدو څخه مخکې د پوليسو د استجواب په برخه کې د مدافع وکيل د نيولو حق لري؟
- آیا شخص مظنون قبل از گرفتاری ولی قبل از وارد شدن اتهام، در عرصۀ استجواب پولیس، حق داشتن وکیل مدافع را دارد؟

- پدې حالت کې د مسخر وکيل په اړه کوم نظر شته؟
- راجع به وکیل مسخر در این حالت چه نظر وجود دارد؟

- آيا مظنون شخص د نيول کېدو څخه وروسته، مګر د تور د واردېدو څخه مخکې، د پوليسو د استجواب په برخه کې د مدافع وکيل د درلودلو حق لري؟
- آیا شخص مظنون بعد از گرفتاری و قبل از وارد شدن اتهام در عرصۀ استجواب پولیس حق داشتن وکیل مدافع را دارد؟

- آيا قاضي کولاي شي په محکمه کې د استماع په وخت کې د مظنون څخه داسې پوښتنه وکړي چې ښايي د اعتراف د لاسته راوړل کېدو باعث شي.
- آیا قاضی میتواند حین استماع در محکمه، از مظنون طوری سوال نماید که ممکن باعث بدست آوردن اعتراف گردد؟

- که چېرې قاضي داسې عمل وکړي ، مدافع
- اگر قاضی چنین عمل را انجام دهد، وکیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیل باید پدې اړه څه وکړي؟

مدافع باید در مورد چه اقدام نماید؟

- که مظنون مدافع وکیل ته د خپل جرم په اړه اعتراف وکړي، آیا پدې صورت کې مدافع وکیل کولای شي د خپل موکل راز چاته افشاء کړي؟
- کــه مؤکل خپل مدافع وکیل ته داسې اعتراف وکړي چې د جرم ارتکاب ته نږدې وي، پدې صورت کې مدافع وکیل باید څه وکړي؟
- د مدافع وکیل واکونه او دندې د کوم قانون له مخې تنظیمېږي؟

- اگر مظنون یا متهم جرم خویش را به وکیل مدافع اش اعتراف نماید، آیا در این صورت وکیل مدافع میتواند اسرار مؤکل خویش را بکسی افشا کند؟
- اگر مؤکل به وکیل مدافع خویش اعتراف نماید که نزدیک به ارتکاب جرم میباشد، درین صورت وکیل مدافع باید چه اقدام نماید؟
- کدام قانون وظایف و صلاحیت های وکیل مدافع را تنظیم مینماید؟

**۳۲ ماده –د زندان څخه د مدیون خوندیوالي :**

پور د پوروړي د آزادي د سلبیدو یا محدودیدو سبب کیداي نشي .د پور د بیرته اخستلو لا رې چارې او وسایل د قانون له لارې تنظیمیږي.

**مادۀ ۳۲ – مصئونیت مدیون از زندان:**

مدیون بودن شخص موجب سلب یا محدود شدن آزادی وی نمی شود. طرز و وسایل تحصیل دین توسط قانون تنظیم میگردد.

**۳۳ ماده – د انتخاب (ټاکل کېدو) او انتصاب(غوره کېدو) حق :**

لکه څرنګه چې تنظیم شوي، د افغانستان اتباع د ټاکلو او ټاکل کېدو حق لري.

**مادۀ ۳۳ – حق انتخاب و انتصاب:**

طوری که تنظیم گردیده، اتباع افغانستان حق انتخاب کردن و انتخاب شدن را دارا میباشند.

**[ د راتلونکي درسي ساعت لپاره د لوستلو دنده- د اساسي قانون ۳٤-۵۹ مادې]**

**[ وظیفۀ خوانش برای ساعت درسی بعدی – قانون اساسی، مواد ۳٤ – ۵۹]**

**۳٤ ماده- د وینا خپلواکي:**

د وینا خپلواکي له تیري څخه خوندي ده. هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیله له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعایت، څرګند کړي. هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې لدې چې مخکې له مخکې یې دولتي چارواکو ته وښيي ، چاپ او خپاره کړي. د مطبعو، راډیو او

**مادۀ ٣٤ – آزادی بیان:**

آزادی بیان از تعرض مصئون است، هر افغان حق دارد فکر خود را به وسیله گفتار، نوشته، تصویر و یا وسایل دیگر، با رعایت احکام مندرج این قانون اساسی اظهار نماید. هر افغان حق دارد مطابق به احکام قانون، به طبع و نشر مطالب، بدون ارائه قبلی آن به مقامات دولتی، بپردازد. احکام مربوط به مطابع،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلویزیون، د مطبوعاتو د خپرولو او د ټولیزو اړیکو په نورو وسایلو پورې اړوند حکمونه د قانون له لیاري تنظیمیږي.

- آیا پدې ماده کې د محدودیت څخه پرته د وینا خپلواکي تضمین شوېده؟
  - O ځینې ممکنه محدودیتونه کوم دي؟
  - O د تاوتریخوالي خواته تحریک
  - O د اسلام د سپیڅلې دین سپکاوی
  - O رئیس جمهور او د دولت نورو مامورینو ته سپکاوی.
  - Oعامه امنیت ته ګواښ پېښول
- آیا دولت کولای شي د خلکو نظرونه او افکار سانسور کړي؟
- آیا دولت کولای شي هغه څه چې د خلکو وینا ده، سانسور کړي؟
- آیا دولت کولای شي هغه څه چې خلک په ټلویزیون کې ګوري، سانسور کړي؟
- که داسې وي، نو پر کوم اساس او کومې موخې ته د رسېدو لپاره؟

**۳۵ ماده- ټولنو ته د انتساب خپلواکي:**
د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او یا معنوي غوښتنو د تامین لپاره، د قانون له حکمونو سره سم، ټولنې جوړې کړي. د افغانستان اتباع حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم، سیاسي ګوندونه جوړ کړي، پدې شرط چې:

۱. د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د

رادیو و تلویزیون، نشر مطبوعات و سایر وسایل ارتباط جمعی توسط قانون تنظیم میگردد.

- آیا در این ماده ازادی بیان بدون محدودیت تضمین میگردد؟
  - O بعضی از محدودیتها ممکنه کدام است؟
  - O تحریک بسوی خشونت
  - O نکوهش دین مقدس اسلام
  - Oنکوهش رئیس جمهور ویا دیگر مامور دولت
  - O در مخاطره قراردادن امنیت عامه
- آیا دولت میتواند نظریات و افکار مردم را سانسور نماید؟
- آیا دولت میتواند آنچه را که گفتار مردم است، سانسور نماید؟
- آیا دولت میتواند آنچه را که مردم در تلویزون تماشا میکنند، سانسور نماید؟
- اگر چنین است، پس به کدام اساس و برای نیل به کدام اهداف؟

**مادۀ ۳۵ – آزادی انتساب به انجمن ها:**
اتباع افغانستان حق دارند به منظور تأمین مقاصد مادی و یا معنوی، مطابق به احکام قانون، جمعیتها تأسیس نمایند. اتباع افغانستان حق دارند، مطابق به احکام قانون، احزاب سیاسی تشکیل دهند، مشروط بر اینکه:

۱- مرامنامه و اساسنامه حزب، مناقض

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلي دين د احکامو او پدې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي؛

۲. د ګوند جوړښت او مالي سرچينې څرګندې وي؛

۳. پوځي او پوځي ډوله جوړښت او موخې ونلري؛

٤. له بهرنيو ګوندونو يا نورو بهرنيو سرچينو سره تړلي نه وي

د ګوند تاسيس او فعاليت د قوميت، سمت، ژبې او مذهب په بنسټ جواز نلري. هغه ټولنه او ګوند چې د قانون د حکمونو سره سم تشکيلېږي، د قانون موجباتو څخه پرته او د باصلاحيته محکمې حکم نه منحل کېږي.

- له هغه ځايه چې د ټولنې جوړولو خپلواکي د قانون له حکمونو سره تړلې ده، پس آيا قانون کولای شي د کارګرانو د ټولنې څخه په بشپړه ممانعت وکړي؟
- آيا د اساسي قانون ۳۵ ماده د اسلام د سپېڅلي دين په مذهب د يوه سياسي ګوند جوړول، ممنوع کړي دي؟
- آيا وکيلان کولای شي د مدافع وکيلانو ټولنه جوړه کړي؟
- آيا ښځينه وکيلانې کولای شي، د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه جوړه کړي؟
- آيا ستره محکمه کولای شي، د قضاتو د ټولنې د جوړېدو مخنيوی وکړي، او يا ښځينه

احکام دين مقدس اسلام و نصوص و ارزشهای مندرج این قانون اساسی نباشد؛

۲- تشکیلات و منابع مالی حزب علنی باشد؛

۳- اهداف وتشکیلات نظامی و شبه نظامی نداشته باشد؛

٤- وابسته به حزب سیاسی و یا دیگر منابع خارجی نباشد.

تأسیس و فعالیت حزب بر مبنای قومیت، سمت، زبان و مذهب جواز ندارد. جمعیت و حزبی که مطابق به احکام قانون تشکیل می شود، بدون موجبات قانونی و حکم محکمهٔ با صلاحیت منحل نمی شود.

- از آن جائیکه آزادی جمعیت وابسته به احکام قانون است، پس، آیا قانون میتواند از تشکیل یک اتحادیهٔ کارگران بکلی ممانعت نماید؟
- آیا مادهٔ ۳۵ قانون اساسی، تشکیل یک حزب سیاسی را بر اساس مذهب مقدس اسلام، ممنوع قرار میدهد؟
- آیا وکلاء میتوانند، انجمن وکلای مدافع را تشکیل دهند؟
- ایا وکلای اناث میتوانند، انجمن مستقل وکلای مدافع را تشکیل دهند؟
- آیا ستره محکمه میتواند، قضات را از تشکیل انجمن قضات، جلوگیری نماید، ویا قضات

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضات د ښځینه قضاتو د ټولنې د جوړولو څخه منع کړي؟

- که داسې وي، نو د کوم نظر پر بنسټ؟
- آیا دغه ډول ټولنې د قانون په وسیله ممنوع یا محدودېداي شي؟

**۳۶ ماده- د سوله ییز غونډې او د دولت په وړاندې د اعتراض حق:**
د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ییزو غوښتنو د تامین لپاره دقانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

- آیا یو قانون سوله ییزې مظاهرې منع کولاي شي؟
- قانون د سوله ییزو غونډو د حق په اړه څه ډول محدودیتونه وضع کولاي شي؟
- په قانون کې د ذکر شویو مشروعو محدودیتونو برسېره آیا پولیس کولاي شي د سوله ییزو مظاهرو مخنیوي وکړي یا یې محدودې کړي؟
- د کومو دلایلو پر بنسټ؟
- آیا د قانون له لحاظه، د سوله ییزو مظاهرو د کولو لپاره د پولیسو اجازه لازمه ده.
- څه فکر کوئ که په شخصي توګه د چا په کور کې وشي؟
- پدې اړه چې په قانون کې مندرج محدودیتونه، د سولې ایزو مظاهرو د مخنیوي یا محدودولو لپاره د پولیسو اقدامات یا د اساسي قانون د حکمونو سره سم د اجازې د

اناث را از تشکیل انجمن قضات اناث، جلوگیری نماید؟

- اگر چنین است، پس بر اساس کدام نظر؟
- آیا چنین جمعیت ها توسط قانون، ممنوع و یا محدود شده میتوانند؟

**مادهٔ ۳۶ – حق تجمع مسالمت آمیز و اعتراض علیه دولت:**
اتباع افغانستان حق دارند برای تأمین مقاصد جایز و صلح آمیز، بدون حمل سلاح، طبق قانون اجتماع و تظاهرات نمایند.

- آیا یک قانون تظاهرات صلح آمیز را، ممنوع ساخته میتواند؟
- قانون چه نوع محدودیت ها را راجع به حق تجمعات صلح آمیز، وضع نموده میتواند؟
- برعلاوهٔ محدودیت های مشروع که در قانون ذکر شده، آیا پولیس میتوانند تظاهرات مسالمت آمیز را محدود و یا جلوگیری نماید؟
- براساس کدام دلایل؟
- ایا از لحاظ قانون، اجازهٔ پولیس برای انعقاد تظاهرات صلح آمیز، لازم است.
- چه فکر می کنید اگر بطور شخصی در خانهٔ کسی منعقد گردد؟
- در مورد اینکه محدودیت های مندرج در قانون، اقدامات پولیس در راستای جلوگیری و یا محدود نمودن مظاهرات صلح آمیز یا تقاضای اجازهٔ در مطابقت با احکام قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنې په اړه پرېکړه کول د کومې مرجع په غاړه دي؟

اساسی قرار دارند، کدام مرجع عهده دار تصمیم گیری میباشد؟

**۳۸ ماده- کورونو ته د غیر قانوني ننوتو څخه خونديتوب:**

د شخص استوګنځۍ له تېري څخه خوندي دي. هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولاي د استوګن له اجازې يا د واکمنې اجازې له قرار پرته او بې له هغه حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي يا يې وپلټي.

**مادهٔ ۳۸ – مصئونیت از دخول در منازل بطورغیر قانونی:**

مسکن شخص از تعرض مصئون است، هیچ شخص، به شمول دولت، نمی تواند بدون اجازه ساکن یا قرار محکمه با صلاحیت و به غیر از حالات و طرزی که در قانون تصریح شده است، به مسکن شخص داخل شود یا آن را تفتیش نماید.

د څرګند جرم په مورد کې مسئول مامور کولاي شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کور ته ورننوځي يا هغه وپلټي، نوموړی مامور مکلف دی کورته له ننوتو یا پلټنې وروسته په هغه موده کې چې قانون يې ټاکي د محکمې قرار تر لاسه کړي.

در مورد جرم مشهود، مامور مسئول بدون اجازهٔ قبلی محکمه، به مسکن شخص داخل شود یا آن را تفتیش کند. مامور مذکور مکلف است بعد از داخل شدن یا اجرای تفتیش، در خلال مدتی که قانون تعیین می کند قرار محکمه را حاصل نماید.

- په دغه ماده کې د مشهود جرم په اړه استثناء راغلې ده، نور کوم حالات او استثناآت په قانون کې تعیین شویدي؟
- (( مشهود جرم)) څه دی؟
- آيا پوليس مامور بايد د ارتکاب په حال کې جرم او کور ته د ننوتو په حال کې شخص مشاهده کړي؟
- که پوليس مامور دغه ماده رعايت نه کړي، يعني د يوه شخص کورته ننوزي او د جرم په اړه مدارک او شواهد تر لاسه کړي، آيا دغه مدارک کولاي شي د تورن د محکوميت په جريان کې دهغه د محکوميت اساس شي؟
- آیا دغه شواهد او مدارک چې په غیر قانوني

- این ماده شامل استثنا راجع به جرم مشهود است، دیگر کدام حالات و یا استثناأت، در قانون تعیین گردیده است؟
- ″جرم مشهود″ چه است؟
- آیا مامور پولیس باید جرم در حال ارتکاب و شخص در حالت داخل شدن به منزل را مشاهده نماید؟
- اگر مامور پولیس این ماده رعایت نه نماید، یعنی در منزل شخص داخل شود و شواهد و مدارک ارتکاب جرم را بدست آرد، آیا این مدارک میتواند، در جریان محاکمهٔ متهم اساسی محکومیت او را تشکیل دهد؟
- آیا این شواهد و مدارکی که بطور غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه لاسته راغلي،کولای شي په فیصله کې د متهم محکومیت توجیه کړي؟

- که داسې وي، نو دا خوندیتوب تر کومې کچې ګټور دی، او د تورن لپاره د حل لاره څه ده؟

- د پوښتنو په اړه څوک پرېکړه کوي؟

قانونی بدست آمده، میتواند در فیصله راجع محکومیت متهم را توجیه نماید؟

- اگر چنین است، پس این مصئونیت تا چه حد مفید است، و برای متهم راه حل چه خواهد بود؟

- راجع به این سوالات چه کس تصمیم خواهد گرفت؟

**۴۰ ماده- د ملکیت حق:**

هېڅوک د مکلیت د لاسته راوړلو او په هغه کې د تصرف څخه نه منع کېږي، مګر د قانون د احکامو په حدودو کې. د هېچا ملکیت د قانون دحکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي. د شخص د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تامین په موخه، د مخکینی او عادلانه بدل په ورکولو د قانون له مخې مجاز دي. د شخص د شتمنی پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي.

**مادهٔ ۴۰ – حق ملکیت:**

هیچ شخص از کسب ملکیت و تصرف در آن منع نمی شود، مگر در حدود احکام قانون. ملکیت هیچ شخص، بدون حکم قانون و فیصله محکمهٔ با صلاحیت مصادره نمی شود. استملاک ملکیت شخص، تنها به مقصد تأمین منافع عامه، در بدل تعویض قبلی و عادلانه، به موجب قانون مجاز می باشد. تفتیش و اعلان دارایی شخص، تنها به حکم قانون صورت می گیرد.

- آیا دغه ماده د افغان سوداګریزو سازمانونو او افغانانو پر ملکیتونو د پلي کېدو وړ ده؟

- دولت کولای شي د عامه ګټو لپاره غیر منقول شخصي مالونه استملاک کړي. د دغه عامه ګټو ځینې یې کوم دي؟

- که د دغه غیر منقولو اموالو مالک له دولت سره د عامه ګټو په اړه موافق نه وي، پدې صورت کې څه کېږي؟

- مالک څه کولای شي؟

- څوک تشخیص کولای شي چې استملاک د عامه ګټو په موخه دي؟

- آیا این مادهٔ بالای ملکیت های سازمان های تجارتی افغانی و شهروندان افغان قابل تطبیق است؟

- دولت می تواند اموال شخصی غیر منقول مردم را غرض مصالح عامه، استملاک نماید. بعضی ازاین مصالح عامه چه خواهند بود؟

- اگر مالك این اموال غیر منقول با دولت در مورد مصالح عامه موافق نباشد، دراین صورت چه خواهد شد؟

- مالك چه اقدام نموده میتواند؟

- چه کس تشخیص خواهد کرد که این استملاک غرض مصالح عامه میباشد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که د شتمنی مالک د هغه معاوضې سره چې د دولت لخوا ورته ورانـدې کېږي، موافق نـه وي، څه پېښه کېداي شي؟

- اگر مالك جایداد با معاوضهٔ که از سوی دولت برایش ارائه میگردد، موافق نباشد، چه صورت خواهد گرفت ؟

- مالك څه کولاي شي؟

- مالك چه اقدام نموده میتواند؟

- څوك تشخیصولاي شي چې هغه معاوضه چې د دولت لخوا د شتمنی مالك ته ورانـدې کیږي، منصفانه او د ملکیت د ارزښت سره سمه ده؟

- چه کس تشخیص خواهد کرد که معاوضهٔ که از سوی دولت برای مالك جایداد ارائه میگردد، منصفانه و در مطابقت با ارزش ملکیت میباشد؟

**٤٢ ماده:**

هر افغان مکلف دي د قانون له حکمونو سره سم دولت ته مالیه او محصول ورکړي، هېڅ راز مالیه او محصول د قانون له حکم پرته نه وضع کیږي. د مالیې او محصول انـدازه او د ورکړې ډول یې د ټولنیز عـدالت په رعایت، د قـانون پـه وسـیله تعینیږي. دا حکم د بهرنیو کسانو او موسسو په برخه کې هم تطبیقېږي. هر ډول ورکړه شوې مالیه، محصول او عایدات دولتي واحد ته تحویلیږي.

**مادهٔ ٤٢:**

هر افغان مکلف است مطابق به احکام قانون به دولت مالیه و محصول تأدیه کند، هیچ نوع مالیه و محصول بدون حکم قانون وضع نمیشود. اندازه مالیه و محصول و طرز تادیه آن ، با رعایت عدالت اجتماعی، توسط قانون تعیین میگردد. این حکم در مورد اشخاص و مؤسسات خارجی نیز تطبیق میشود. هر نوع مالیه، محصول و عواید تأدیه شده، به حساب واحد دولتی تحویل داده میشود.

- که یو شخص په قصدي توګه مالیات ورنکړي، آیا دغه ډول عمل جرم یا د ۳۲ مادې پر بنسټ پور ګڼل کیږي؟

- اگر یک شخص بطور عمدی مالیات را تأدیه نکند، آیا همچو عمل جرم ویا براساس مادهٔ ۳۲ قرض پنداشته میشود؟

- د (( هېڅ ډول مالیه او محصول د قانون له حکم پرته نه وضع کېږي)) عبارت څه مفهوم لري؟

- عبارت ″ هیچ نوع مالیه و محصول بدون حکم قانون وضع نمیشود ″ چه مفهوم دارد؟

**٤٣ ماده- د زده کړې حق:**

زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت لخوا تامینیږي. دولت مکلف دي چې په ټول افغانستان کې د انډولې پوهې د عـامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزناك پروګرام

**مادهٔ ٤٣ – حق تعلیم:**

تعلیم حق تمام اتباع افغانستان است که تا درجه لیسانس در مؤسسات تعلیمی دولتی به صورت رایگان از طرف دولت تأمین می گردد. دولت مکلف است به منظور تعمیم متوازن معارف در تمام افغانستان، تأمین تعلیمات متوسطه اجباری،

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرح او پلي کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي، لار هواره کړي.

پروگرام مؤثر طرح و تطبیق نماید و زمینه تدریس زبان های مادری را در مناطقی که به آنها تکلم می کنند فراهم کند.

**٤٤ ماده- د ښځو او کوچیانو لپاره د انډول زده کړې حق:**

دولت مکلف دي د ښځو د زده کړو د پراختیا او انډول د رامنځته کولو، د کوچیانو د زده کړې د ښه والي او په هېواد کې د نالوستیتوب د له منځه وړلو لپاره اغېزناک پروګرامونه طرحه او پلي کړي.

**مادۀ ٤٤ – حق تعلیم متوازن برای زنان و کوچیان:**

دولت مکلف است به منظور ایجاد توازن و انکشاف تعلیم برای زنان، بهبود تعلیم کوچیان و امحای بی سوادی در کشور، پروگرامهای مؤثر طرح و تطبیق نماید.

- آیا د (( انډولې پوهنې)) مفهوم دادی چې ښځې د عین هماغه فرصتونو څخه ګټه اخیستلای شي چې د نارینه وو لپاره شته دي؟
- که داسې نه وي، نو څه مفهوم لري؟

- آیا مفهوم از "تعلیم متوازن" این است که زنان از حین فرصتهای تعلیمی که برای ذکور فراهم گردیده است، مستفید گردند؟
- اگر اینطور نیست، پس چه مفهوم دارد؟

**٤٥ ماده- د پوهنې واحد نصاب:**

دولت د اسلام د سپېڅلي دین د حکمونو او د ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم د پوهنې واحد نصاب طرح او پلي کوي او د ښوونځیو د دیني مضمونو نصاب په افغانستان کې د شته اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوینوي.

**مادۀ ٤٥ – نصاب تعلیمی واحد:**

دولت نصاب واحد تعلیمی را، بر مبنای احکام دین مقدس اسلام و فرهنگ ملی و مطابق با اصول علمی، طرح و تطبیق می کند و نصاب مضامین دینی مکاتب را، بر مبنای مذاهب اسلامی موجود در افغانستان، تدوین می نماید.

**٤٦ ماده- د لوړو زده کړو حق:**

د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د موسسوو جوړول او اداره کول د دولت دنده ده. د افغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو، عمومي، اختصاصي او د سواد د زده کړې موسسې جوړې کړي. دولت کولای شي د بهرنیو کساتو ته هم د قانون له حکمونو سره د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د موسسو د جوړولو اجازه ورکړي. د لوړو زده کړو په دولتي موسسو کې د شاملېدو شرطونه او د هغوی سره نورې اړونده چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

**مادۀ ٤٦ – حق تحصیلات عالی:**

تأسیس و ادارۀ مؤسسات تعلیمات عالی، عمومی و اختصاصی وظیفۀ دولت است. اتباع افغانستان می توانند به اجازه دولت به تأسیس مؤسسات تعلیمات عالی، عمومی، اختصاصی و سواد آموزی اقدام نمایند. دولت می تواند تأسیس مؤسسات تعلیمات عالی، عمومی و اختصاصی را به اشخاص خارجی نیز مطابق به احکام قانون اجازه دهد. شرایط شمول در مؤسسات تعلیمات عالی دولتی و سایر امور مربوط به آن، توسط قانون تنظیم میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤٧ ماده- د معنوي شتمنی د خونديتوب حق:**

دولت د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزناک پروګرامونه طرح کوي. دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمينوي او په ټولو برخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ يې کوي او د هغوي له پايلو څخه ګټوره ګټه اخيستنه د قانون له حکمونو سره سم عاموي.

**مادۀ ٤٧ - حق حفظ دارائی معنوی:**

دولت برای پیشرفت علم، فرهنگ، ادب و هنر پروگرامهای مؤثر طرح می نماید. دولت حقوق مؤلف، مخترع و کاشف را تضمین می نماید و تحقیقات علمی را در تمام عرصه ها تشویق و حمایت می کند و استفاده مؤثر از نتایج آن را، مطابق به احکام قانون، تعمیم می بخشد.

**٤٨ – د کار حق:**

کار د هر افغان حق دي، د کار د ساعتونو ټاکل، او بامعاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغوي سره نورې اړونده چارې د قانون له لیارې تنظيمېږي. د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دي.

**مادۀ ٤٨ – حق کار:**

کار حق هر افغان است، تعیین ساعات کار، رخصتی با مزد، حقوق کار و کارگر و سایر امور مربوط به آن توسط قانون تنظیم میگردد. انتخاب شغل و حرفه، در حدود احکام قانون، آزاد می باشد.

**٤٩ ماده- جبري کار ممنوع دي:**

د جبري کار تحميل منع دي، د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساينه تهديد کړي، فعاله برخه اخيستنه د هر افغان ملي وجيبه ده. پر ماشومانو د کار تحميل جواز نلري.

**مادۀ ٤٩ – کار اجباری ممنوع است:**

تحمیل کار اجباری ممنوع است، سهم گیری فعال در حالت جنگ، آفات و سایر حالاتی که حیات و آسایش عامه را تهدید کند، از وجایب ملی هر افغان می باشد. تحمیل کار بر اطفال جواز ندارد.

- آيا والدين کولای شي د دوي ماشومان د کرنې يا کورنۍ اړوند کارونو کولو ته اړ باسي؟
- آيا والدين کولای شي ماشومان پر نورو د کار تحميل ته اړ کړي؟

- آیا والدین میتوانند اطفال ایشان را به کار های زراعتی و یا کارهای مربوط به خانواده، مجبور سازند؟
- آیا والدین میتوانند اطفال ایشان را به تحمیل کار برای دیگران وادار سازند؟

**٥٠ ماده- د رښتيني او سالم دولت د درلودلو حق:**

دولت مکلف دی چې د يوې سالمې اداري او د هېواد په اداري سيستم کې د سمون د رامنځته کېدو لپاره لازم تدبيرونه ونيسي. اداره خپل اجراآت په بشپړه بې پرېتوب او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي. د افغانستان اتباع

**مادۀ ٥٠ – حق داشتن دولت راستکار و سالم:**

دولت مکلف است به منظور ایجاد اداره سالم و تحقق اصلاحات در سیستم اداری کشور تدابیر لازم اتخاذ نماید. اداره اجراأت خود را با بیطرفی کامل و مطابق به احکام قانون عملی می سازد. اتباع افغانستان حق دسترسی به اطلاعات از

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي. دا حق د نورو حقوقو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته حدود نلري. د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او د هر ډول تو‌پیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کیږي.

ادارات دولتی را در حدود احکام قانون دارا می باشند. این حق جز صدمه به حقوق دیگران و امنیت عامه حدودی ندارد، اتباع افغانستان بر اساس اهلیت و بدون هیچگونه تبعیض و به موجب احکام قانون به خدمت دولت پذیرفته می شوند.

- آیا وزارتونه کولای شي د لږکیو او ښځو لپاره د برابرۍ د رامنځته کولو لپاره د شرایطو نه لرونکي کسان وګماري.

- آیا وزارت ها میتوانند برمبنای هدف ایجاد توازن برای اقلیت ها و زنان، اشخاص غیر واجد شرایط را استخدام نمایند؟

- د بېلګې په توګه، آیا د ښځو چارو وزارت کولای شي هغه ښځې چې د یوه نارینه کاندید په پرتله کمه زده کړه او تجربه ولري، وګماري؟

- طور مثال، آیا وزارت امور زنان میتواند زنی را که نسبت به یک کاندید مرد، تحصیل و تجارب کمتر داشته باشد، استخدام نماید؟

- آیا په عمومي ډول وزارتونه کولای شي په کاري ځواک کې دجنسیتي توازن د ترلاسه کېدو لپاره هغه ښځې چې په کمه کچه د لازمو شرایطو لرونکې دي، وګماري؟

- آیا بطور عموم وزارتها میتوانند غرض نیل به هدف توازن جنسیتی در نیروی کاری، زنانی را که به میزان کمتر مستفید از شرایط لازم اند، استخدام نمایند؟

- آیا دغه موخې په قانون کې د ونډو د وضع کولو له لارې تر لاسه کړو؟

- آیا میتوا این اهداف را توسط وضع نمودن سهمیه در قانون، بدست آورد؟

**۵۱ ماده- د هغه زیانونو د جبران حق چې د دولت له خوا اوښتی دي:**

هر څوک چې له ادارې څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دي او کولای شي د تاوان تر لاسه کولو لپاره دعوي اقامه کړي، له هغو حالاتو پرته چې قانون ښوولي، دولت نشي کولای د باصلاحیته محکمې له حکم پرته د خپلو حقوقو تر لاسه کولو لپاره اقدام وکړي.

**مادۀ ۵۱ – حق جبران برای خساراتی که از سوی دولت صورت گرفته:**

هر شخص که از اداره بدون موجب متضرر شود مستحق جبران خساره می باشد ومی تواند برای حصول آن در محکمه اقامه دعوی نماید. به استثنای حالاتی که در قانون تصریح گردیده است، دولت نمی تواند بدون حکم محکمۀ با صلاحیت به تحصیل حقوق خود اقدام کند.

- آیا دا پدې مفهوم دی چې دولت په ټولو هغه دعواګانو کې چې پر دولت د اوښتي زیان د جبران په اړه کیږي، له خپل خوندیتوب څخه

- آیا این به مفهومی است که دولت در تمام دعاوی که علیه آن در مورد جبران خسارۀ وارده صورت میگیرد، از مصئونیت اش

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصرف کېږي؟

- عملاً يو شخص څه ډول استيناف غوښتلاي شي؟
- د دغه ډول قضاياوو يو شمېر بېلګې وړاندې کړئ؟
- وروستنی جمله څه مفهوم لري؟

**۵۲ ماده- په وړيا توګه د روغتيايي آسانتياوو د ترلاسه کولو حق:**

دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغيو د مخنيوي او د وړيا درملنې وسيلې او روغتيايي آسانتياوې د قانون له حکمونو سره سم تامينوي. دولت له قانون سره سم د خصوصي روغتيايي خدمتونو او روغتيايي مرکزونه جوړول او پراختيا هڅوي او ملاتړ يې کوي، دولت د سالمې بدني روزنې د پياوړتيا او د ملي او سيمه ييزو ورزښتونو د پراختيا لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

**۵۳ ماده د اشخاصو د خاصو طبقاتو د مساعدت حق :**

دولت د شهيدانو او مفقودينو له پاتې کسانو د معلولينو او معيوبينو د بياځواکمنی او په ټولنه کې د هغوي د فعالې ونډې اخيستنې پخاطر د مالي مرستو او روغتيايي خدمتونو د تنظيم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبيرونه نيسي. دولت د متقاعدينو حقوق تضمينوي، او له زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معيوبينو او معلولينو او بېوزله يتيمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې کوي.

- آيا هغه حقوق چې په ۵۱-۵۳ مادو کې بيان شول، مطلق دي يا په دولت کې له شته سرچينو سره تړلي دي؟

منصرف گرديده است؟

- عملاً يک شخص چه گونه ميتواند استيناف طلب گردد؟
- بعضی از مثالهای چنين قضايا را ارائه کنيد؟
- جملۀ اخر چه مفهوم دارد؟

**مادۀ ۵۲ حق تسهيلات صحی رايگان:**

دولت وسايل وقايه و علاج امراض و تسهيلات صحی رايگان را برای همه اتباع مطابق به احکام قانون تأمين می نمايد. دولت تأسيس و توسعه خدمات طبی و مراکز صحی خصوصی را مطابق به احکام قانون تشويق و حمايت می کند. دولت به منظور تقويت تربيت بدنی سالم و انکشاف ورزشهای ملی و محلی تدابير لازم اتخاذ می نمايد.

**مادۀ ۵۳ حق مساعدت طبقات خاص اشخاص:**

دولت به منظور تنظيم خدمات طبی و مساعدت مالی برای بازماندگان شهدأ و مفقودين وبرای بازتوانی معلولين و معيوبين و سهم گيری فعال آنان در جامعه، مطابق به احکام قانون، تدابير لازم اتخاذ می نمايد. دولت حقوق متقاعدين را تضمين نموده، برای کهن سالان، زنان بی سرپرست، معيوبين و معلولين و ايتام بی بضاعت مطابق به احکام قانون کمک لازم به عمل می آورد.

- آيا حقوقی که در ماده ۵۱ – ۵۳ بيان گرديد است، مطلق ميباشند و يا منوط به منابع موجود دولت اند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که یو بېوزله کس روغتیایي ساتنې ته اړتیا ولري، مګر کلینیک یا ډاکتر موجود نه وي، پدې صورت کې یاد شوي کس څه کولای شي؟

- آیا یاد شوی شخص د دولت په وړاندې دعوي کولای شي؟

- آیا نورې لارې شته چې د یادو شویو حقوقو او لازمه خدماتو د تامین په برخه کې د دولت ناتواني جبران کړي؟

**۵٤ ماده- د کورنۍ د ملاتړ حق:**
کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دي او د دولت تر پاملرنې لاندې ده. دولت د کورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تامین د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو دودونو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

- د هغه دودونو په اړه چې د اسلام د سپېڅلي دین خلاف وي، څو بېلګې ووایئ؟

**۵۵ ماده- له هېواد څخه د دفاع وجیبه:**
له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجیبه ده. د عسکري مکلفیت د دورې د تېرولو شرطونه د قانون له لیارې تنظیمیږي.

**۵٦ ماده- د قانون د حکمونو د پیروۍ وجیبه:**
د اساسي قانون د حکمونو پیروي د قوانینو اطاعت او د عامه نظم او امنیت رعایت د افغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده. د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي.

**۵۷ ماده- د بهرنیو اتباعو حقوق او وجایب:**
دولت په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو حقوق او

- اگر یک شخص نادار به مراقبت طبی نیاز داشته باشد، ولی کلینک صحی ویا داکتر موجود نباشد، دراین صورت شخص مذکور چه میتواند بکند؟

- آیا شخص مذکورمیتواند علیه دولت اقامه دعوی نماید؟

- آیا طرق دیگری وجود دارد تا ناتوانی های دولت را در راستائ تأمین حقوق مذکور و فراهم سازی خدمات لازمه، جبران نماید؟

**مادهٔ ٥٤ – حق حمایت خانواده:**
خانواده رکن اساسی جامعه را تشکیل می دهد و مورد حمایت دولت قرار دارد. دولت به منظور تأمین سلامت جسمی و روحی خانواده، بالاخص طفل و مادر، تربیت اطفال و برای از بین بردن رسوم مغایر با احکام دین مقدس اسلام تدابیر لازم اتخاذ می کند.

- چند امثال را راجع به بعضی از عنعنات که خلاف اصول اسلام اند، ارائه نمائید؟

**مادهٔ ٥٥ – وجیبهٔ دفاع از کشور:**
دفاع از وطن وجیبه تمام اتباع افغانستان است. شرایط اجرای دوره مکلفیت عسکری توسط قانون تنظیم میگردد.

**مادهٔ ٥٦ – وجیبهٔ پیروی از احکام قانون:**
پیروی از احکام قانون اساسی، اطاعت از قوانین و رعایت نظم و امن عامه وجیبه تمام مردم افغانستان است. بی خبری از احکام قانون عذر دانسته نمی شود.

**مادهٔ ٥٧ – حقوق و وجایب اتباع خارجی:**
دولت حقوق و آزادی های اتباع خارجی را در

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکۍ له قانون سره سم تضمینوي. دا کسان د نړیوالو حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانینو په رعایت مکلف دي.

**۵۸ ماده- د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون جوړول:**

دولت په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت د څارنې، ښه والي او ملاتړ لپاره د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون جوړوي. هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقوقود نقض کېدو په صورت کې دې کمیسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولای شي د افرادو د بشري حقوقو د نقض موارد اړونده قانوني ځانګو ته راجع کړي، او د هغوي له حقوقو څخه په دفاع کې مرسته وکړي. ددې کمیسیون جوړښت او د کار ډول یې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

- آیا د مادې موخه داده چې د بشر د حقوقو شکایتونه باید په لومړي قدم کې دغه کمیسیون ته وړاندې شي؟
- آیا یو کس پرېکړه کولای شي چې کمیسیون ته د شکایت کولو په ځای، په محکمه کې دعوي اقامه کړي؟
- او یا دا چې دغه موضوع په موضوعه قانون کې بیان شوېده؟

**۵۹ ماده- د وفادارۍ وجیبه:**

هېڅوک نشي کولای پدې اساسي قانون کې له راغلو خپلواکیو او حقوقو څخه په ناوړه ګټې اخیستنې د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنی بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي یووالي پر ضد عمل وکړي.

[ د راتلونکي درسي ساعت لپاره د لوستلو دنده- د ملګرو ملتونو منشور، د بشر د حقوقو نړیواله

افغانستان، طبق قانون تضمین می کند. این اشخاص در حدود قواعد حقوق بین المللی به رعایت قوانین دولت افغانستان مکلف می باشند.

**مادۀ ۵۸ – تأسیس کمیسیون مستقل حقوق بشر:**

دولت به منظور نظارت بررعایت حقوق بشر در افغانستان و بهبود و حمایت از آن، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان را تأسیس می نماید. هر شخص می تواند در صورت نقض حقوق بشری خود، به این کمیسیون شکایت نماید. کمیسیون می تواند موارد نقض حقوق بشری افراد را به مراجع قانونی راجع سازد و در دفاع از حقوق آنها مساعدت نماید. تشکیل و طرز فعالیت این کمیسیون توسط قانون تنظیم میگردد.

- آیا هدف ازاین مادۀ اینست که شکایات حقوق بشر باید در قدم اول به این کمیسیون تقدیم گردد؟
- آیا یک شخص میتواند تصمیم بگیرد تا بعوض شکایت به کمیسیون، دعوی را در محکمه اقامه کند؟
- و یا اینکه این موضوع در قانون موضوعه بیان شده است؟

**مادۀ ۵۹ – وجیبۀ وفاداری:**

هیچ شخص نمی تواند با سوء استفاده از حقوق و آزادیهای مندرج این قانون اساسی، بر ضد استقلال، تمامیت ارضی، حاکمیت و وحدت ملی عمل کند.

[ وظیفۀ خوانش برای ساعت درسی بعدی – منشور ملل متحد، اعلامیۀ جهانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلامیه، د شکنجې په وړاندې د مبارزې میثاق، ظالمانه مجازات، غیر انساني یا سپکوونکې رویه، او د ماشوم د حقوقو میثاق]

**IV د بشر د حقوقو نړیوال قوانین**

**ښوونیزې موخې- ۹ او ۱۰ درسي ساعتونه**

- په افغانستان کې د بشر د حقوقو د نړیوالو قوانینو رول
- د ټاکل شویو میثاقونو او کنوانسیونو د موادو تشریح چې د افغانستان په اساسي قانون کې یې پر اساسي حقوقو اغېزه کړېده.
- نړیوالو سرچینو ته، د افغانستان په اساسي قانون کې زیاتره بیان شویو اساسي حقوقو ته اشاره وکړئ؟

**(الف). د نړیوالو قوانینو په بنسټ د دولت مکلفیت**
لکه څرنګه چې مو ولیدل، د اساسي قانون ۷ ماده، بیانوی چې دولت باید د ملګرو ملتونو د منشور، د افغانستان له لوري د تصویب شویو نړیوالو معاهداتو، او د بشر دحقوقو د نړیوالې اعلامیې پیروي وکړي.

ستاسو په نظر دا څه معني لري؟

آیا دا پدې معني ده چې د دغه معاهداتو او نړیوالو کنوانسیونونو احکام د کورنیو قوانینو څواک او اغېزه لري، او دهغه موضوعه قوانینو په اندازه چې د اساسي قانون پر بنسټ تصویب شویدي، الزامي دي؟

حقوق بشر، میثاق علیه شکنجه، مجازات ظالمانه، رفتار غیر انسانی یا اهانت آمیز، و میثاق حقوق طفل]

**IV قوانین بین المللی حقوق بشر**

**اهداف آموزشی – ساعت درسی ۹ و ۱۰**

- بیان نقش قوانین بین المللی حقوق بشر در افغانستان
- تشریح مواد میثاقها و کنوانسیونهای انتخاب شده که بالای حقوق اساسی، در قانون اساسی افغانستان تاثیر گذار اند
- به منابع بین المللی، اکثریت حقوق اساسی بیان شده در قانون اساسی افغانستان اشاره نمائید؟

**(الف). مکلفیت دولت براساس قوانین بین المللی**
همانطور که مشاهده کردیم، برطبق ماده ۷ قانون اساسی، دولت باید از منشور ملل متحد، معاهدات بین المللی تصویب شده از سوی افغانستان، و اعلامیه جهانی حقوق بشر پیروی کند.

به نظر شما این به چه معنی است؟

آیا این بدان معنی است که احکام این معاهدات و کنوانسیونهای بین المللی، دارای قوت واثرات قوانین داخلی هستند و به اندازه قوانین موضوعه ای که برطبق قانون اساسی تصویب شده اند الزام آور اند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ب) د بشر د حقوقو اړوند معاهدات، میثاقونه، او کنوانسیونونه**

<u>سریزه:</u>

د ټولو هغه نړیوالو معاهداتو څېړنه چې افغانستان تایید کړي دي، د دغه کورس له محدودې څخه بهر دي.

مونږ یوازې هغه معاهدات او نړیوال کنوانسیونونه چې د بشر د اساسي حقوقو سره تړاو لري په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

- د ملګرو ملتونو منشور
- د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه
- د شکنجې، بې رحمه، غیرانساني یا سپکوونکو رویو په وړاندې د مبارزې کنوانسیون
- د ماشوم د حقوقو کنوانسیون
- د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون
- د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون
- د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو نړیوال میثاق
- د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق

د دغه معاهداتو او کنوانسیونونو څېړنه د دوی له اصولو سره محدوده ده چې په نېغه توګه د بشر پر حقوقو اغېزه کوي او د افغانستان د ۱۳۸۲ کال په اساسي قانون کې ذکر شوي ندي.

**(ب). معاهدات، میثاقها، و کنوانسیونهای مرتبط با حقوق بشر**

<u>مقدمه:</u>

بررسی تمام معاهدات بین المللی که از سوی افغانستان مورد تایید قرار گرفته اند خارج از محدوده این کورس آموزشی می باشد.

ما صرف آن معاهدات و کنوانسیونهای بین المللی را که با حقوق اساسی بشر مرتبط هستند، در ذیل مورد بررسی قرار می دهیم:

- منشور ملل متحد
- اعلامیه جهانی حقوق بشر
- کنوانسیون علیه شکنجه و دیگر رفتارها یا مجازات بی رحمانه، غیر انسانی یا تحقیرآمیز
- کنوانسیون حقوق طفل
- کنوانسیون محو تمام اشکال تبعیض علیه زنان
- کنوانسیون بین المللی محو تمام اشکال تبعیض نژادی
- میثاق بین المللی حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی
- میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی

بررسی این معاهدات و کنوانسیونها محدود به آن اصول این معاهدات و کنوانسیونها خواهد بود که مستقیماً بالای حقوق بشر تأثیر گذار بوده و در قانون اساسی سال ۱۳۸۲ افغانستان ذکر نگردیده اند می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ملګرو ملتونو منشور:**

ددې منشور د څلورم فصل (٦١-٧٢ مادې) څخه اقتصادي او ټولنیزه شوراې جوړوي.

د دغه شورا د موخو څخه یوه د ټولو لپاره د بشر د حقوقو د درناوي او رعایت د کچې لوړوالی او د اساسي خپلواکیو پراختیا ده. ( ٦٢ ماده، ٢ پرګراف)

دغه شوراې کولاې شي عمومي مجمع ته د وړاندې کولو لپاره د کنوانسیونونو مسوده چمتو کړي( ٦٢ ماده، ٣ پره ګراف) او ډېر ژر به ځینې دغه کنوانسیونونه تر څېړنې لاندې ونیسو.

**د بشر د حقوقو اعلامیه:**

د بشر د حقوقو اعلامیه د ١٩٤٨ د ډیسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو د عمومي مجمع لخوا تصویب شوه.

پدې اعلامیه کې زیاتره حقوق او آزادۍ د افغانستان د اساسي قانون د حقوقو او آزادیو په لست کې منعکس شویدي، او دلته نه تکرارېږي.

ځینې اضافي حقوق او آزادۍ شته چې د یادولو اړتیا یې نشته:

٨ ماده بیانوي چې هر څوک حق لري چې په قانون کې د خپلو تضمین شویو اساسي حقوقو د نقض په صورت کې، د یوې ملي باصلاحیته محکمې په وسیله د زیان جبران تر لاسه کړي.

- په بله وینا، هغه حق چې د نقض له کبله یې هېڅ ډول جبران نلري، بې مفهومه حق دي.
- آیا ٨ ماده په افغانستان کې د اجراء وړ ده؟

**منشور ملل متحد:**

فصل ٤ (مواد ٦١-٧٢) از این منشور شورای اقتصادی و اجتماعی را ایجاد می کند.

یکی از اهداف این شوری ارائه پیشنهادات جهت ارتقای احترام و رعایت حقوق بشر و آزادی های اساسی برای همه است (ماده ٦٢، پاراگراف ٢).

این شوری می تواند مسوده کنوانسیونها را برای ارائه به مجمع عمومی تهیه کند (ماده ٦٢، پاراگراف ٣)، و به زودی تعدادی از این کنوانسیونها را مورد بازبینی قرار خواهیم داد.

**اعلامیه جهانی حقوق بشر:**

اعلامیه جهانی حقوق بشر در ١٠ دسمبر ١٩٤٨ توسط مجمع عمومی ملل متحد تصویب گردید.

بسیاری از حقوق و آزادی های مندرج در این اعلامیه، به طور ماهوی در لست حقوق و آزادی های اساسی در قانون اساسی افغانستان منعکس گردیده اند، و در اینجا تکرار نخواهند شد.

برخی حقوق و آزادی های اضافی وجود دارند که ضرورت به تذکر ندارند:

ماده ٨ بیان می دارد که هر شخص حق دارد که در صورت نقض حقوق اساسی تضمین گردیده خویش در قانون اساسی، توسط یک محکمه ملی باصلاحیت بشکل مؤثر جبران خساره گردد.

- به عبارت دیگر، حقی که از هیچ نوع جبران خساره به خاطر نقض آن برخوردار نیست، حقی بی مفهوم است.
- آیا ماده ٨ در افغانستان قابل اجرا است؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې؟

- په اساسي قانون کې د مطرح شويو حقوقو او آزاديو اجراء څه معني لري؟

۹ ماده بيانوي چې هېڅوک په خپل سر د نيول کېدو، توقيف يا تبعيد سره نه مخ کېږي.

- په خپل سر نيول د موجه دليلونو پر بنسټ د نيولو سره توپير لري.

- په افغانستان کې د نيولو او توقيف کېدو لپاره حقوقي معيارونه په کوم ځاي کې تر لاسه کېداي شي؟

- آيا په هېڅ ډول شرايطو کې په افغانستان کې د تبعيد اجازه نشته (اساسي قانون، ۲۸ ماده) ؟

۱۰ ماده بيانوي چې هر څوک د خپلو حقوقو او وجايبو د تعيين، او يا هم د جنايي اتهام په صورت کې په يوه خپلواکه او بې پرې محکمه کې د منصفانه او علني استماع له حق څخه برخمن دي. همدارنګه ۱۱ ماده په خپله يوه برخه کې بيانوي چې جزائي محاکمې بايد په ښکاره ترسره شي.

- يوه علني او منصفانه استماع د حقوقي مراتبو د لړۍ له اصولو څخه ده ( اساسي قانون، ۲۷ ماده)

- آيا تاسو کولاي شئ هغه شرايط چې په هغه کې د يوه شخص محاکمه په پټه توګه وشي ، تصور کړئ؟

- آيا دغه ډول شرايط کېداي شي د دغه موادو

- چرا؟

- اجرای حقوق و آزادی های اساسی مطرح شده در قانون اساسی به چه معنی است؟

ماده ۹ بیان می دارد که هیچ شخص در معرض دستگیری، بازداشت یا تبعید خودسرانه قرار نخواهد گرفت.

- دستگیری خودسرانه مغایر دستگیری برمبنای دلایل موجه میباشد.

- در افغانستان، استندردهای حقوقی برای دستگیری و بازداشت را در کجا دریافت خواهیم کرد؟

- آیا در هر گونه شرایط، اجازه تبعید در افغانستان وجود ندارد (قانون اساسی، ماده ۲۸)؟

**ماده ۱۰** بیان می دارد که هر شخص در مساوات کامل در ارتباط با تعیین حقوق و وجایب خود، و یا هرگونه اتهام جنایی، ازحق استماع منصفانه و علنی در یک محکمه مستقل و بی طرف برخوردار می باشد. همچنین **ماده ۱۱** در یک جز خویش بیان می دارد که محاکمات جزایی باید بطور علنی انجام شوند.

- یک استماع منصفانه و علنی یکی از اصول اساسی سلسله مراتب حقوقی می باشد (قانون اساسی، ماده ۲۷).

- آیا شما می توانید شرایطی را که در آن امکان محاکمه یک شخص، بطور محرمانه انجام شود، تصورنمائید؟

- آیا چنین شرایطی می توانند برطبق این مواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم توجیه کړل شي؟

**۱۶ ماده:** په خپله یوه برخه کې د واده او د کورنۍ د جوړلو لپاره مساوي حق، او همدارنګه د واده او د هغه د فسخ کولو په حال کې د هغه نارینه وو او ښځو لپاره د مساوي حقوقو تضمین کوي چې د بلوغ سن ته رسېدلي دي، او په زوره واده کول منع کوي.

- آیا داسې دلیل شته چې د هغه پر بنسټ په اساسي قانون کې په زوره واده کولو ته اجازه ورکړل شوې وي؟
- که داسې وي، آیا هغه دلیل ته د دې مادې له لارې ځواب ورکړل شوی او رد شوی دی؟
- لکه څرنګه چې دغه اعلامیه په ځانګړې توګه داساسي قانون په ۷ ماده کې تایید شوېده، آیا مناسبه ده چې و انګېرو چې لویه جرګه د اساسي قانون د تصویب په وخت کې ، په دغه اعلامیه کې د ځای په ځای کړل شویو حقوقو څخه باخبره وه؟

**۲۳ ماده:** په خپله یوه برخه کې بیانوي چې هر څوک د هر ډول تبعیض پرته حق لري د مساوي کار په وړاندې مساوي مزد تر لاسه کړي، او حق لري د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره اتحادیې جوړې کړي او یا هم له هغوی سره یوځای شي.

**د شکنجې، بې رحمه، غیرانساني یا سپکوونکي سلوک د منعې کنوانسیون:**

د شکنجې په وړاندې کنوانسیون د ۱۹۷۸ د جون په ۲٦ نېټه نافذ شو.

لکه څرنګه چې مو ولیدل ، شکنجه او د انساني کرامت مغایر مجازات د اساسي قانون د ۲۹ مادې په بنسټ منع شویدي، مګر دغې مادې ((شکنجه))

توجیه گردند؟

**مـاده ۱٦،** در بخشی از خود، حق مساوی برای ازدواج و تشکیل خانواده، و همچنین حقوق مساوی در دوران ازدواج و فسخ آن را برای مردان و زنانی که به سن بلوغ رسیده اند تضمین کرده، و ازدواج اجباری را منع می کند.

- آیا دلیلی وجود دارد که براساس آن در قانون اساسی به ازدواج اجباری اجازه داده شده باشد؟
- اگر چنین است، آیا به آن دلیل از طریق این ماده پاسخ داده شده و رد شده است؟
- از آنجایی که این اعلامیه بطور خاص در ماده ۷ قانون اساسی مورد تایید قرار گرفته است، آیا مناسب است بپنداریم که لویه جرگه از حقوق گنجانیده شده در این اعلامیه در زمان تصویب قانون اساسی باخبر بوده است؟

**ماده ۲۳،** در بخشی از خود، بیان می دارد که هر شخص، بدون هیچ گونه تبعیض، حق دریافت مزد مساوی در برابر کار مساوی را داشته، و حق دارد اتحادیه هایی را جهت حفاظت از منافع خود تشکیل داده و یا به آن بپیوندند.

**کنوانسیون منع شکنجه و دیگر رفتارها یا مجازات بی رحمانه، غیرانسانی یا تحقیر آمیز:**

کنوانسیون علیه شکنجه بتاریخ ۲٦ جون ۱۹۷۸ نافذ گردید.

همانطور که مشاهده کردیم، شکنجه و مجازات مغایر با کرامت انسانی توسط ماده ۲۹ قانون اساسی منع گردیده است، اما این ماده "شکنجه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا (( انساني کرامت)) ندي تعریف کړي.

یا "کرامت انسانی" را تعریف نکرده است.

مونږ کولای شو پدې اړه دغه کنوانسیون ته یوه کتنه ولرو.

ما می توانیم جهت معاونت در این رابطه نظری به این کنوانسیون بیندازیم.

**۱ ماده:** په خپله یوه برخه کې پر یوه چا که روحي وي او که فزیکي شکنجه د شدید درد او رنج د تحمیل په توګه تعریف کړېده.

**مـاده ۱**، در بخشی از خود، شکنجه را بعنوان تحمیل عمدی درد و رنج شدید، چه جسمی یا روحی، بالای یک شخص تعریف می کند.

**۲ ماده،** په خپله یوه برخه کې بیانوي چې په قطعي ډول هیڅ ډول استثنایي شرایط یا د لوړپوړي افسر یا دولتي مقام امر نشي کولای د شکنجې لپاره د توجیه په توګه استناد کړای شي.

**ماده ۲،** در بخشی از خود، بیان می دارد که بطور قطعی هیچ گونه شرایط استثنایی یا یک دستور از سوی افسر ارشد یا مقام دولتی نمی تواند بعنوان توجیه برای شکنجه مورد استناد قرار گیرد.

**۱٤ ماده،** په خپله یوه برخه کې بیانوي چې هر تصویبوونکی هېواد باید په خپل قضایي سیستم کې تضمین کړي چې د شکنجې قرباني کولای شي د زیان جبران تر لاسه کړي او د منصفانه جبران مستحق دي.

**ماده ۱٤،** در بخشی از خود، بیان می دارد که هر کشور تصویب کننده باید در سیستم قضایی خود تضمین نماید که یک قربانی شکنجه می تواند جبران خساره حاصل کند و و مستحق جبران خساره منصفانه و مناسب میباشد.

- یوه مناسبه مرجع چې په هغه کې یو زیانمن شخص د تاوان غوښتنه وکړي، کومه ده؟

- یک مرجع مناسب که در آن یک متضرر خواهان جبران خساره و تاوان می گردد، کدام است؟

۱۵ ماده په خپله یوه برخه کې بیانوي چې ټول تصویبوونکي هېوادونه تضمینوي چې هر هغه اقرار چې د شکنجې له لارې تر لاسه شوی وي نشي کېداي چې د زیانمن په وړاندې د اثبات د مدرک په توګه وکارول شي.

ماده ۱۵ در بخشی از خود بیان می دارد که همه کشورهای تصویب کننده، تضمین مینمایند، که هر اقراریکه از طریق شکنجه حاصل شده باشد نمی تواند بعنوان مدرک اثبات علیه متضرر مورد استفاده قرار گیرد.

- په هغه صورت کې چې یو تصویبوونکی هېواد یادشوی تضمین تامین نه کړي، څه پېښنه کېداي شي؟

- در صورتیکه یک کشور تصویب کننده تضمین مذکور را تأمین ننماید، چه اتفاق خواهد اُفتد؟

- سره لدې هم زیانمن کولای شي ددې غوښتنه وکړي چې هغه اقرار چې د شکنجې له لارې ترې اخیستل شوی، د ده د محکومیت لپاره

- با وجو این آیا متضرر میتواند خواستار آن گردد که اقراری که از طریق شکنجه حاصل شده است، در مورد محکومیت اش مورد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه کارول شي؟

استفاده قرار نگیرد؟

**د ماشوم د حقوقو کنوانسیون:**

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون د ۱۹۹۰ د سپټمبر په ۲ نافذ شو.

**کنوانسیون حقوق طفل:**

کنوانسیون حقوق طفل در ۲ سپتمبر ۱۹۹۰ نافذ گردید.

**۳ ماده، ۱ پره ګراف،**

دا یو پراخه اصل بیانوي چې د ماشومانو اړونده ټولو قضایاوو کې د هغوي له ډلې، د محکمو اقدامات، د ماشـــومانو لوړې ګټې باید لمړنی ملحوظ وي.

**ماده ۳، پاراگراف ۱،**

این اصل فراگیر را بیان می دارد که در تمام قضایای مـــربوط به اطفال، منجمله اقدامات محاکم، منـــافع علیا طفل باید ملحوظ اولی را تشکیل دهد.

**۱۲ ماده، ۲ پره ګراف،**

حکم کوي چې په هر ډول قضایي یا اداري اقداماتو کې چې یو ماشوم اغېزمن کېږي، باید ماشوم ته ددې فرصت ورکړل شي چې خپل نظرونه مستقیماً یا د یوه استازي یا یوه مناسب شخص له لارې او ملي قوانینو په وسیله د ټاکل شوې کړنلارې د اصولو سره سم بیان کړي.

**ماده ۱۲، پاراگراف ۲،**

حکم مینماید که در هرگونه اقدامات قضایی یا اداری که یک طفل را متاثر می سازد، میبایست به طفل این فرصت داده شود تا نظریات خود را مستقیماً یا از طریق یک نماینده یا یک شخص مناسب ودر مطابقت به اصول طرزالعمل تعیین شده توسط قوانین ملی، بیان نماید.

د اساسي قانون ۴۹ ماده پر ماشومانو په زوره کار کول منع کوي.

ماده ۴۹ قانون اساسی کار اجباری اطفال را منع می کند.

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون ۳۲ ماده غوښتنه کوي چې تصویبوونکي هېوادونه کم تر کمه د استخدام سن، د کار د ساعتونو او د ګمارل کېدو د شرایطو په اړه مناسب مقررات او د هغوي د رعایت د تضمین لپاره مناسبې جریمې او نور بندیزونه تعیین کړي.

ماده ۳۲ کنوانسیون حقوق طفل فراتر رفته و خواستار آن است که کشورهای تصویب کننده حداقل سن استخدام، مقررات مناسب در مورد ساعات کار و شرایط استخدام، و جریمه های مناسب و دیگر تحریمها را جهت تضمین رعایت از آنها را تعیین نمایند.

**۴۰ ماده**

پـــر جـــرمـــونـــو د تورنو مـــاشـــومانو لپاره زیاتره شکـلي حقـــوق او ساتنې، شهادت یا پر ګناه اعتراف ته د نه اړ ایستل کېدو په ګډون، حکم کوي.

**ماده ۴۰**

بسیاری از حقوق شکلی و محافظتها را برای اطفال متهم به ارتکاب جرایم، به شمول حق مجبور نشدن به شهادت دادن یا اعتراف به گناه، حکم می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ د راتلونکي درسي ساعت لپاره د لوستلو دنده- د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون؛ د هر ډول نژادي تبعيض د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون؛ د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو نړيوال ميثاق؛ او د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق]

[ وظيفه خوانش برای صنف درسی آتی – کنوانسيون محو تمام اشکال تبعيض عليه زنان؛ کنوانسيون بين المللی محو تمام اشکال تبعيض نژادی؛ ميثاق بين المللی حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی؛ و ميثاق بين المللی حقوق مدنی و سياسی ]

**<u>د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون:</u>**

د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون د ۱۹۹۷ د ډيسمبر په ۱۸ نافذ شو.

**<u>کنوانسيون بين المللی محو تمام اشکال تبعيض عليه زنان:</u>**

کنوانسيون محو تمام اشکال تبعيض عليه زنان در ۱۸ دسمبر ۱۹۹۷ نافذ گرديد

د اساسي قانون ۲۲ ماده د ښځو او نارينو لپاره د مساوي حقوق او فرصتونه تضمينوي، او دغه ماده د افغاني ژوند په ټولو برخو کې کارول کيږي.

ماده ۲۲ قانون اساسی حقوق و فرصتهای مساوی را برای زنان و مردان تضمين مينمايد، و اين ماده در تمام جوانب زندگی افغانی کاربرد دارد.

دغه کنوانسيون د تر ټولو زياتو جزئياتو په بيانولو سره تصويبوونکي هېوادونه د پوهنې، استخدام، اقتصادي او ټولنيز ژوند او د ښځو په وړاندې د مساوي سلوک او د آسانتياوو او حقوقو څخه د سړيو سره د مساوي برخمن کولو په اړه هدايت کوي.

اين کنوانسيون با بيان بيشترين جزئيات، کشور های تصويب کننده را جهت اتخاذ تدابير لازمه در مورد معارف استخدام، زندگی اقتصادی و اجتماعی و تضمين برخورد مساويانه در مورد زنان و مستفيد گرديدن آنها از امکانات و حقوق مساوی با مردان، هدايت مينمايد.

۱۵ ماده په ځانګړي ډول ددې غوښتنه کوي چې تصويبوونکي هېوادونه د محکمو او ديوانونو په ټولو مرحلو کې د مساوات په ګډون له نارينه وو سره د ښځو برابري تضمين کړي.

ماده ۱۵، با لاخص، خواستار اين است که کشورهای تصويب کننده به زنان تساوی آنها را با مردان، به شمول مساوات در تمام مراحل طرزالعملهای محاکم و ديوان ها، تضمين نمايند.

- آيا د اساسي قانون ۲۲ ماده او همدارنګه د کنوانسيون ۱۵ ماده، د ښځو په وړاندې پر تبعيض ولاړو کړنلارو او سرچينو د کارولو په اړه د دولت ممانعت کوي؟

- آيا ماده ۲۲ قانون اساسی، و همچنين ماده ۱۵ کنوانسيون، دولت را از استفاده از منابع و طرزالعمل های تبعيض آميز در مورد زنان ممانعت مينمايد؟

- د غير رسمي عدلي سيستم په اړه څه فکر کوئ؟

- در مورد سيستم عدلی غير رسمی چه فکر ميکنيد؟

- آيا د حقوقو رياست کولای شي په قانوني

- آيا رياست حقوق می تواند بطور قانونی

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه هغه قضیه چې یوه ښځه پکې شامه وي، داسې شریعت یا جرګې ته راجع کړي چې په هغه کې یوازې د ښځې پلار یا د هغې مېړه اجازه ولري چې د ښځې لخوا د دعوي اقامه وکړي؟

قضیه ای را که یک زن در آن شامل است به شریعت یا جرگه ای محول نماید که آن صرف پدر یا شوهر زن اجازه داشته باشند که ازجانب زن اقامه دعوی نماید؟

**۱٦ ماده، ۱ پره ګراف،**

د واده پر مسئله غور کوي او ددې غوښتنه کوي چې د کنوانسیون تصویبوونکي هېوادونه د نارینه وو اوښځو د مساوات پر بنسټ په آزاده توګه د ژوند د ملګري د ټاکلو حق؛ د اولادونو اړونده مسائلو کې د والدینو په توګه مساوي حقوق او دندې؛ او د مالکیت، اکتساب، برخمنتوب او د شتمنۍ د واک په هکله یو شان حقوق تضمین کړي.

**ماده ١٦، پاراگراف ١،**

به مسئله ازدواج رسیدگی مینماید و خواستار این است که کشورهای تصویب کننده کنوانسیون، بر مبنای اصل مساوات مرد و زن، حق مساوی جهت انتخاب آزادانه یک همسر؛ حقوق و وظایف یکسان بعنوان والدین در مسائل مرتبط با فرزندانشان؛ و حقوق یکسان در ارتباط با مالکیت، اکتساب، برخورداری، و اختیار دارایی را تضمین نمایند.

**۱٦ ماده، ۲ پره ګراف،**

بیانوي چې د یوه ماشوم کوژده او واده هېڅ حقوقي اثر نلري، او باید په قوانینو کې د واده د تر ټولو کم سن د تعیین او د ټولو ودونو د رسمي ثبتولو د ملزوم والي په هکله ټول لازم اقدامات وکړي.

**ماده ١٦، پاراگراف ٢،**

بیان می دارد که نامزدی و ازدواج یک طفل هیچ اثر حقوقی ندارد، و تمام اقدامات لازم باید جهت تعیین حداقل سن ازدواج در قوانین و ملزوم ساختن ثبت رسمی تمام ازدواجها انجام گیرند.

<u>**د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون:**</u>

د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون د ۱۹٦۹ د جنوري په ٤ نېټه نافذ شو.

<u>**کنوانسیون بین المللی محو تمام اشکال تبعیض نژادی:**</u>

کنوانسیون بین المللی محو تمام اشکال تبعیض نژادی در ٤ جنوری ۱۹٦۹ قابل اجرا گردید.

د اساسي قانو ن ۲۲ ماده د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض او تمایز ممنوع کړی دي. ٤ ماده بیانوي چې د افغانستان ملت له مختلفو قومونو څخه جوړ شویدی، او د اساسي قانون زیاتره احکام بیانوي چې د اسلام د سپېڅلي دین د دواړو مذهبونو پیروان د افغانستان اتباع دي. نژادي تبعیض لکه څرنګه چې مطرح شول، په اساسي قانون کې ندی ذکر شوی.

ماده ۲۲ قانون اساسی هر نوع تبعیض و تمایز بین شهروندان افغانستان را ممنوع می سازد. ماده ٤ بیان می دارد که ملت افغانستان متشکل از اقوام مختلف است، و بسیاری از احکام قانون اساسی بیان می دارند که پیروان هر دو مذهب دین مقدس اسلام شهروندان افغانستان هستند. تبعیض نژادی، طوری که مطرح گشت، در قانون اساسی ذکر نگردیده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( نژادي تبعيض)) د دغه کنوانسيون د لمړۍ مادې په لمړي پـره ګـراف کې پـه پراخـه ډول تعريـف شويدي تر څو د (( نـژاد، رنـګ، نسب، مليت يـا قومي سرچينې ... )) په بنسټ تبعيض احتوا کړي.

- (( قومي سرچينه)) څه معني لري؟
- آيا تاسو فکـر کـوئ چې د دغـه کنوانسـيون احکام د قبيلوي سرچينې پر بنسټ تبعـيض پـه پام کې نيولی دي؟
- آيا دغه پوښتنه په افغانستان کې ارزښتناکه ده؟
- آيا په تېرو کې د قبيلـوي سـرچينې پـه بنسـټ تبعيض شويدي؟

دغـه کنوانسـيون پـه **۵** مـاده کـې بيـانوي چـې تصويبوونکي هېوادونه به هڅه وکړي چې هر ډول تبعـيض لـه منځـه يوسـي او د قـانون پـه وړانـدې مساوي حقونه او په بشري او مـدني حقوقـو کـې د شموليت کـې د بشـپړ پوښـښ د برخمنتيـا تضـمين وکړي.

**۶ ماده بيانوي چې:**

غـړي (تصـويبوونکي) هـــېوادونــــه ډاډ ورکـوي چـې د خپلـې واکمنـۍ پـه حـوزه کـې د هـر ڇـا خــونديتـــوب او د باصـلاحيته ملـي محکمـو او نـورو دولتـي ارګانـــونو لـــــه لارې د هـر هغـه نـژادي تبعـيض مناسـب جبـران چـې د ده بشـري حقـــوق او اســاســــي خپلــــواکۍ د دغـــه کنوانسيون ســره په مــغايرت کې نقــض کړي، او همدارنګه د هـر ډول هـــغه تـاوان چې د دغـه ډول تبعيض پـه پايلـه کـې اوښـتی دی د کـافي او عادلانه جبران يا د حق د اسـترداد د غوښـتلو حـق، تضمين کړي.

"تبعـيض نـژادی" در **مـاده ۱، پـاراگراف ۱**، ایـن کنوانسیون بطور گسترده تعریف گردیده است تـا تبعیض "برمبنای نژاد، رنگ، نسب، ملیت یـا منشـا قومی و غیره را احتوا نماید".

- "منشاء قومی" به چه معنی است؟
- آیـا شـما فکـر مـی کنیـد کـه احکـام ایـن کنوانسیون، تبعیض برمبنای منشـاء قبیلـوی را در نظر گرفته است؟
- آیا این سوال در افغانستان مهم می باشد؟
- آیا در گذشته تبعیض بر مبنای منشاء قبیلـوی صورت گرفته است؟

ایـن کنوانسـیون در **مـاده ۵** بیـان مـی دارد کـه کشورهای تصـویب کننـده تـلاش خواهنـد کـرد، تبعیض نژادی را در تمام اشکال آن محو نمایند و حق تمام اشخاص را برای مساوات در برابر قـانون و برخورداری از پوشش کامل شمولیت از حقوق بشری و مدنی، تضمین نمایند.

**ماده ۶ بیان می دارد که:**

کشـورهای عضـو (کشـورهای تصـویب کننـده) اطمینــان خواهنـد داد کـه در حـوزه حاکمیـت خویش برای هر شخص محافظت و جبران خساره موثر را از طریق محاکم باصلاحیت ملـی و دیگـر نهادهای دولتی، دربرابر هـر اقـدام تبعیض نـژادی که حقـوق بشـری و آزادیهـای اساسـی وی را در مغـایرت بـا ایـن کنوانسـیون نقـض مـی نمایـد، و همچنین حق درخواسـت جبـران خسـاره کـافی و عادلانه و یا اسـترداد حـق را بـه خـاطر هـر گونـه خسارتی که در نتیجه چنین تبعیضی متحمـل شـده است، تضمین خواهند کرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- آيا په افغانستان کې ملي محکمې او نور دولتي ارګانونه شته چې ( د شخص خونديتوب او هغه ته د تاوان مناسب جبران) تر سره کړي؟
- دوي کوم دي؟
- آيا د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون کولاي شي د تاوان مناسب جبران چمتو کړي؟

**د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو نړيوال ميثاق:**

د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو نړيوال ميثاق د ۱۹۷٦ د جنوري په ۳ نافذ شو.

۳ ماده بيانوي چې د کنوانسيون تصويبوونکي هېوادونه ژمنه کوي چې د نارينه وو او ښځو لپاره مساوي حقوق؛ د ټولو اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو څخه برخمن کېدل چې په کنوانسيون کې بيان شويدي د نورو حقوقو، د کار او د مساوي کار د درلودلو په حال کې د مساوي معاش درلودلو حق، د سوداګريزو اتحاديو جوړول او د قانوني اعتصاباتو مشري، ټولنيز خونديتوب او بيمه، د کورني ساتنه او ملاتړ د ژوند د مناسبو معياري حقوقو سره سم د خوړو، جامې او مناسب استوګنځي په ګډون؛ د روحي او جسمي روغتيا حق د تر ټولو لوړ ستندرډ سره سم، د پوهنې حق او په کلتوري ژوند کې د ګډون حق او د علمي پرمختګونو څخه ګټه اخيستنه تضمينوي.

**د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق:**

د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق د ۱۹۷٦ د مارچ په ۲۳ نېټه نافذ شو.

په داسې حال کې چې په دغه ميثاق کې ډېر زيات شمېر مدني او سياسي حقوق چې په نورو

- آیا محاکم ملی و نهادهای دولتی در افغانستان وجود دارند که (محافظت و جبران خساره مؤثر به شخص) را انجام دهند؟
- آنها کدام اند؟
- آیا کمیسیون مستقل حقوق بشر می تواند یک جبران خساره موثر را فراهم نماید؟

**میثاق بین المللی حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی**

میثاق بین المللی حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی در ۳ جنوری ۱۹۷٦ نافذ گردید.

**ماده ۳** بیان میدارد که کشورهای تصویب کننده کنوانسیون متعهد میشوند که برای مردان و زنان حقوق مساوی مستفید گردیدن از تمام حقوق اقتصادی، اجتماعی و کلتوری که در کنوانسیون بیان گردیده بشمول دیگر حقوق، حق کار و داشتن مزد مساوی در حالت کار مساوی، ایجاد اتحادیه تجارتی و رهبری اعتصابات قانونی، مصؤنیت اجتماعی و بیمه، محافظت و معاونت خانواده در مطابقت با حقوق استاندرد مناسب زندگی بشمول غذا، لباس و خانه مناسب؛ حق صحت روحی و جسمی در مطابقت با بلندترین استاندرد، حق تعلیم و حق سهیم گردیدن در زندگی کلتوری و استفاده از پیشرفت های علمی را تضمین نمایند.

**میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی**

میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی در ۲۳ مارچ ۱۹۷٦ نافذ گردید.

درحالی که این میثاق شامل بسیاری از حقوق مدنی و سیاسی که در دیگر میثاقها و

(c) ketabton.com: The Digital Library



میثاقونو او کنوانسیونونو کې هم څېړل شوي دي، راغلي دي، دغه میثاق همدارنګه نور هغه شمېر اضافي حقوق تضمینوي چې د یادولو وړ دي مګر په اساسي قانون کې د دوي یادونه نده شوې.

**٦ ماده:**

د ژوند حق او د اعدام جزاء څېړي او په خپله یوه برخه کې بیانوي چې:

- د اعـدام حکـم کېـداي شـي یـوازې د لویـو جرمونو او د باصلاحیته محکمې د وروستنۍ پرېکړې څخه وروسته پلې شي.
- په اعدام محکموم هر شخص باید د دغه حکم په اړه د بښنې یا د تخفیف د غوښتلو د حق څخه برخمن وي او دغه حق په ټولو قضایاوو کې تضمین شوی دی.
- د اعدام حکم باید د هغه جرمونو په اړه چې د ۱۸ کلونو څخه د کمو اشخاصو او امېدوارې ښځې لخوا کېږي، تطبیق نشي.

**۹ ماده،**

د نیولو او توقیف پر مسئله غور کوي او په خپله یوه برخه کې بیانوي:

- هر هغه څوک چې نیول کېږي باید د نیولو په وخت کې د نیول کېدو له دلایلو خبر شي او باید سمدلاسه د هر ډول منسوب تور څخه خبر کړل شي.
- هر څـوک چـې د جـنایي تور لـه کبله نیـول او توقیـف شـوی دی بایـد فوراً د یـوه قاضي په وړاندې راوړل شي او بایـد پـه یـوه موجه زماني محدوده کې محاکمه یا خوشې

کنوانسـیونهای نیـز مـورد بـازبینی قـرار گرفتـه، میباشد، این میثاق همچنان حقوق اضافی دیگری را تضمین مینماید که قابل یاداوری بوده ولی در قانون اساسی از آنها تذکر بعمل نیامده است.

**ماده ٦:**

حق زندگی و مجازات اعدام را بررسی مینماید و در بخشی از خود بیان می دارد که:

- حکم اعدام می تواند صرف به خاطر جنایات وخیم و پس از حکم نهایی صادره از سوی یک محکمه باصلاحیت تطبیق گردد.
- هر شخص محکوم به اعدام، باید از حق درخواست عفو یا تخفیف مجازات در مورد این حکم مستفید باشد و این حق قابل تطبیق در تمام قضایا تضمین میباشد.
- حکم اعدام نباید در مورد جرایمی که از سوی اشخاص کمتر از ۱۸ سال و حامله صورت میگیرد، تطبیق گردد.

**ماده ۹،**

به مسئله دستگیری و بازداشت می پردازد و در بخشی از خود، بیان می دارد:

- هر کسی که دستگیر می شود میبایست در حین دستگیری از دلایل دستیگری آگاه گردد و باید فوراً در مورد هرگونه اتهام منسوب مطلع گردد.
- هر شخصی که به خاطر اتهام جنایی دستگیر و بازداشت شده است باید فوراً در برابر یک قاضی آورده شود و میبایست در یک محدوده زمانی موجه محاکمه شده یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل شي.

رها گردد.

- تـولیزه قـاعـده بایـد دا نـه وي چـې محاکمې ته منتـظر دې د پولیسو پـه توقیـف کې وي.

- قاعده کلی نباید این باشد کـه اشخاصـی کـه منتظر محـاکمه هستند در توقیـف پـولیس قرار گیرند.

- هر څوک چې د نیول کېدو یا توقیف له کبله له خپلواکۍ څخه بې برخې شوی وي بایـد وکولای شي د محکمې په وړانـدې د قضـايي غور څخه بـرخمن کـړل شـي ترڅـو محکمـه وکولای شي د ځنډ پرته د توقیـف د قانونیـت په اړه پرېکړه وکړي، او په هغه صـورت کـې چې توقیـف غیـر قـانوني وي، توقیـف شـوی شخص باید خوشې کړل شي.

- هـر شـخصی کـه بواسـطه دسـتگیری یـا بـازداشت از آزادی محـروم شـده باشـد بـایـد بتوانـد در برابـر یـک محکمـه از رسیـدگی قضـایی مسـتفید گـردد تـا محکمه بدون تأخـیر در مـورد قـانونیت بازداشـت تصـمیم بگیـرد، و در صـورتی کـه بازداشـت غیـرقـانـونی باشـد، وی را رها سازد.

- هر څوک چې د غیـر قـانوني نیـول کېـدو یـا توقیف قرباني شي باید د تاوان د جبـران لپـاره د رعایت وړ حق ولري.

- هر شخصی که قربانی دستگیری یا بازداشت غیرقانونی بوده است بایـد حـق قابـل رعایـت برای جبران خساره داشته باشد.

**۱۰ ماده،**

په خپله یوه برخه کـې بیـانوي چـې توقیـف شـوي تورن اشخاص باید د محکومـو کسـانو څخـه جـلا کړل شي، او توقیف شوي نوي ځوانان باید د بالغو اشخاصـو څخـه جـلا وسـاتل شـي او ژر تـر ژره د محاکمې لپاره حاضر کړل شي.

**ماده ۱۰ ،**

در بخشی از خود بیان می دارد که اشخاص متهم بازداشت شده بایـد از اشـخاص محکـوم علیحـده گردند، و نوجوانان بازداشت شده باید از اشخاص بالغ جدا نگاه داشته شده و هر چه زودتـر جهـت محاکمه حاضر گردد.

**۱٤ ماده،**

د جنایت په ارتکاب د تورنو اشخاصـو پـر حقوقـو غور کوي، په خپله یوه برخه کې بیانوي چې تورن شخص باید د لاندې حقوقو څخه برخمن وي.

**ماده ١٤،**

به حقوق اشخاص مـتهم بـه ارتکـاب جنایـت مـی پـردازد، در بخشـی از خـود، بیـان مـی دارد کـه شخص متهم باید از حقوق ذیل مستفید باشد.

- د منصـفانه او علنـي دعـوي اسـتماع ( د هغـه مواردو پرته چې غیر علني محاکمه د قانون او تر ځانګړو شرایطو لانـدې مجاز وي) د یـوې ځـانګړې، باصـلاحیته، خپلـواکې او بـې پـرې محکمې لخـوا چـې د قـانون لـه مخـې جـوړه

- استماع دعوی منصـفانه و علنـی (بـه اسـتثنائی مواردی که محاکمه غیرعلنی توسط قـانون و تحـت شـرایط خـاص اجـازه داده میشـود) توسط یک محکمـه اختصاصـی باصـلاحیت، مستقل، و بی طرف که از سوی قانون ایجاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وي.

شده باشد.

- بېگناه ګڼل کېدل تر هغه وخته چې د قانون سره سم مجرم ثبوت شوی نه وي.

- بیگناه پنداشته شدن تا زمانی که بر طبق قانون مجرم اثبات گردد.

- د وارده اتهام د ماهیت او علت څخه ژر تر ژره د متهم خبرول په جزئیاتو او په هغه ژبه چې نوموړی پرې وپوهیږي.

- آگاه ساختن بلافاصله متهم از ماهیت و علت اتهام وارده با جزئیات و به زبانی که وی آن را بفهمد.

- د دفاعیې د چمتو کولو او د هغه مدافع وکیل سره چې د تورن په ټاکنه وي، د اړیکو لپاره د کافي وخت او امکاناتو درلودل .

- داشتن زمان و امکانات کافی برای آماده سازی دفاعیه و ارتباط با وکیل مدافع که به انتخاب شخص متهم باشد.

- د غیر موجه وقفې پرته محاکمه کېدل.

- محاکمه شدن بدون وقفه غیر موجه.

- حاضرېدل او خپله د متهم لخوا دفاع یا د منتخب مدافع وکیل له لارې، د دغه حقوقو په اړه خبرتیا تر لاسه کول او د بېوزلې په صورت کې په وړیا توګه د لګښت پرته د مدافع وکیل موندل.

- حاضر شدن و دفاع از سوی خود متهم یا از طریق وکیل مدافع منتخب، آگاهی یافتن در مورد این حقوق، و در صورت تنگدستی دریافت وکیل بدون هزینه.

- د مقابل لوري د شهودو استنطاق، د شهود احضار، او محکمې ته د مغایرو شهودو راغوښتل.

- استنطاق شهود طرف مقابل، احضار شهود، و فراخواندن شهود مغایر در محکمه

- د اړتیا په وخت کې د یوه ژباړونکي د وړیا مرستې څخه برخمنتیا

- در صورت نیاز، برخورداری رایگان از معاونت یک ترجمان

- پر ځان د شهادت یا پر ګناه اقرار ته نه اړ ایستل کېدل.

- مجبور نشدن به شهادت علیه خود یا اقرار به گناه.

- د یوې لوړې محکمې لخوا د قانون سره سم د محکومیت بیا کتنه.

- بازبینی محکومیت توسط یک محکمه فوقانی بر طبق قانون.

- د هغه محکومیت له کبله د اوښتي تاوان جبران ، چې د قضایي تېروتنو له کبله وي.

- جبران خساره به خاطر محکومیتی که ناشی از اشتباهات قضایی باشد.

- د عین جرم لپاره د نوې محاکمې منع

- منع محاکمه مجدد برای عین جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## V. د اساسي حقوقو اجراء

**ښوونيزې موخې- ۱۱ او ۱۲ درسي ساعتونه**

- د دولت د اجرائيه او مقننه ځواک لخوا د قدرت څخه د ناوړه ګټې اخيستنې د کنټرول د وسيلې په توګه د قضائيه ځواک د خپلواکۍ د ارزښت بيان
- د اجرائيوي شعبې د اقداماتو څخه قضايي بياکتنې د مفهوم تشريح
- د موضوعه قوانينو د قضايي بياکتنې د مفهوم تشريح
- د قضايي بياکتنې د اصولو شرح

**(الف). سريزه**

مونږ اوس څو درسي ساعتونه د افغانستان په اساسي قانون کې د معيين شويو اساسي بشري حقوقو، او څو هغه ميثاقونو او نړيوالوکنوانسيونو څېړلو ته ځانګړي کړي چې د افغانستان لخوا تيويب شويدي.

مونږ همدارنګه په افغان دولت کې د جمهوري سيستم په اړه چې د دريو جلا مګر مساوي برخو څخه جوړ شوی، پر پراخه بحث لاس پورې کړ او د کنټرول او توازن پر اصولو مو بحث وکړ.

مونږ د ۱۱٦ مادې څخه پوهيږو چې قضائيه ځواک د دولت يو خپلواک ارګان دی چې مشري يې د سترې محکمې لخوا کيږي. مګر د قضايي خپلواکۍ معني څه ده، او د هغه اساسي حقوقو په دفاع کې چې د افغانستان د خلکو لپاره تضمين شويدي، د هغه رول څه دی؟

## V. اجرای حقوق اساسی

**اهداف آموزشی – ساعات درسی ۱۱ و ۱۲**

- بيان اهميت استقلال قوه قضائيه بعنوان وسيله کنترول عليه سوء استفاده از قدرت توسط قوا اجرائيه و مقننه دولت
- تشريح مفهوم بازبينی قضائی از اقدامات شعبه اجرائيوی
- تشريح مفهوم بازبينی قضائی قوانين موضوعه
- شرح اصول بازبينی قضائی

**(الف). مقدمه**

ما اکنون چندين ساعات درسی را به بررسی حقوق اساسی بشری معيين شده در قانون اساسی افغانستان و چندين ميثاقها و کنوانسيونهای بين المللی که از سوی افغانستان مورد تصويب قرار گرفته اند پرداخته ايم.

ما همچنين در مورد سيستم جمهوری در دولت افغانستان، که متشکل از سه شعبه مجزا ولی مساوی می باشد، به بحث گسترده پرداختيم و اصول کنترول و تعادل را مورد بحث قرار داديم.

ما از ماده ۱۱٦ می فهميم که قوه قضائيه يک ارگان مستقل از دولت است که توسط ستره محکمه رهبری می گردد. اما معنای استقلال قضائی چيست، و نقش آن در دفاع از حقوق اساسی بشری که برای مردم افغانستان ضمانت شده است چيست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه پوښتنې دي چې د دغه کورس په اوږدو کې زموږ پاملرنه ځانته جلبوي.

اینها سوالاتی هستند که توجه ما را در طول این کورس به خود جلب خواهند کرد.

**(ب) . قضايي خپلواکي**

موږ وکتل چې د ۱۱٦ مادې سره سم قضائيه ځواک په افغانستان کې د دولت يو خپلواک ارګان دي، چې د دولت د نورو رکنونو څخه ګوښه مګر د اجـــرائيه او مقننه ځواکونو سره مساوي دی.

**(ب). استقلال قضائی**

ما مشاهده کردیم که برطبق ماده ۱۱٦، قوه قضائیه در افغانستان یک ارگان مستقل از دولت است، که مجزا ولی مساوی با شعبات اجرائیوی و مقننه دولت می باشد.

ستره محکمه يو وزارت، يو رياست، يا يو دفتر ندی.

ستره محکمه یک وزارتخانه، یک ریاست، یا یک دفتر نیست.

ستره محکمه د هغه څه چې ((عدلي او قضايي سکتور)) نوميږي، يوه برخه نده.

ستره محکمه بخشی از آنچه که بعنوان "سکتور عدلی و قضائی" نامیده میشود، نمی باشد.

داسې يو ليد د خپلواکه قضائيه ځواک ماهيت له ګواښ سره مخ کوي.

چنین دید، ماهیت یک قوه قضائیه مستقل را مورد تهدید قرار می دهد.

موږ داسې وليدل چې د قضائيه ځواک د خپلواکی ارزښت په نړيواله کچه پېژندل شوی دی.

ما همچنین مشاهده کردیم که اهمیت استقلال قوه قضائیه در سطح بین المللی مورد شناسایی قرار گرفته است.

دا ارزښت پدې اصل ولاړ دی چې قضائيه ځواک بايد د دولت د مقننه او اجرائيه ځواک پر اقداماتو خپلواک او آزاد کنترول ولري.

این اهمیت بر مبنای این اصل اساسی که قوه قضائیه باید کنترول مستقل و آزاد را بالای اقدامات شعبات مقننه و اجرائیه دولت داشته باشد، استوار است.

**(ج). قضايي مرور**

د يوه خپلواک قضائيه ځواک اصل د يوه نوي او مخ پر ودې جمهوريت لپاره چې د لسيزو جنګ ځګړو وروسته جوړ شوی، مهم دی.

**(ج). مرور قضائی**

اصل یک قوه قضائیه مستقل خصوصاً برای یک جمهوری جوان و درحال انکشاف که پس از دهه ها آشفتگی ایجاد شده است، مهم می باشد.

د يوه جمهوريت په بڼه د افغانستان بقاء په اساسي قانون کې د اساسي حقوقو د دفاع لپاره د دولت د درې ګونو ځواکونو له وړتيا سره تړلې ده.

بقای افغانستان بعنوان یک جمهوری به توانایی هر سه شعبه دولت جهت دفاع از حقوق اساسی مطرح شده در قانون اساسی بستگی خواهد داشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان قوانین تصویبوي. ولسمشر د کورنیو چارو وزارت، نورو وزارتونو، لوي څارنوالۍ له لارې قوانین تطبیقوي.

د دغه اساسي حقوقو په اړه د قضائیه ځواک ونډه څه ده؟

پـه بلـه وینا د دغه حقوقو د خوندیتوب د تضمین وروستنی مسئولیت د چا په غاړه دی؟

**د بحث لپاره فرضي سناریو**

راځئ چې دوه فرضي قضيې تر بررسۍ لاندې ونیسو.

**لمړۍ سناریو:**

- راځئ فرض کړو چې پارلمان یو قانون تصویبوي او ولسمشر هغه توشیح کوي چې د هغه په بنسټ د پارلمان یا د ولسمشرۍ د ماڼۍ مخې ته د پنځوسو تنو څخه د زیاتو کسانو راغونډېدل د دولت د یوه عمل په وړاندې د اعتراض لپاره، غیر قانوني اعتراض ګڼل کېږي او جرم ګڼل کېږي.
  - o آیا ددې قانون په باره کې کومه ستونزه شته؟ (۳٦ ماده)
  - o آیا یو علاقمند ښاري کولای شي له دغه قانون سره په یوه اعتراض کې د ګډون نه مخکې چلینج وکړي؟
  - o کـه ستره محکمه دغه قضیه وڅېړي او پرېکړه وکړي چې دغه قانون د اساسي قانون سره په ټکر کې دی ځکه د سوله ایزو غونډو او اعتراضونو حق چې د ۳٦

پارلمان قوانین را تصویب می کند. رئیس جمهور، از طریق وزارت داخله، دیگر وزارتخانه ها، و دفتر لوی سارنوال، قوانین را تطبیق می کند.

نقش شعبه قضائی در ارتباط با این حقوق اساسی چیست؟

به عبارت دیگر، وظیفه و مسئولیت نهایی برای تضمین حفاظت از این حقوق بر دوش چه کسی است؟

**سناریوهای فرضی برای بحث**

بیایید دو سناریوی فرضی را مورد بررسی قرار دهیم:

**سناریوی اول:**

- بیایید فرض کنیم که پارلمان یک قانونی را تصویب مینماید و رئیس جمهور آنرا توشیح میدارد که به اساس آن، گردهمایی بیش از ۵۰ نفر در عین زمان در مقابل پارلمان یا قصر ریاست جمهوری جهت اعتراض به یک عمل انجام شدهٔ دولت، اعتراض غیرقانونی پنداشته شده و جرم محسوب میگردد.
  - o آیا کدام مشکلی در مورد چنین قانونی وجود دارد؟ (ماده ۳٦)
  - o آیا یک شهروند علاقه مند می تواند این قانون را قبل از شرکت در یک اعتراض مورد چالش قرار دهد؟
  - o اگر ستره محکمه در نهایت، این قضیه را مورد بازبینی قرار دهد و تصمیم بگیرد که این قانون مغایر با قانون اساسی است زیرا حق اجتماعات مسالمت آمیز و اعتراض، که برطبق ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـادې پـه بنســـټ يـو اساسـي حـق دی، نقض کيږي.

o سـتره محکمـه پـدې اړه کـوم صـلاحيت لري؟

o آيا ستره محکمه کولاي شي دغـه قـانون باطل يـا غيـر قابـل الاجـراء اعـلان کـړي (کنټرول او توازن) که يوازې مسئله د ۵۱ مـادې سـره سـم ښـاري تـه د تـاوان پـه ورکړې حل او فصل کوي؟

• آيـا پارلمـان يـا ولسمشـر د سـترې محکمـې پرېکړه مني؟

• پـــارلــــمان او ولســــمشر تـه کـومې لارې شته؟

• آيــــا اوضــاع بــه متفاوتــه نــه وي چــې د ولسمــــشرۍ د مــــانۍ څخـه بهـر د ۵۰ تنـو څخــه د زيــاتو خلکــو د يــوې مظــاهرې جوړوونکي ونيول شي، او د تيت کېدو د امـر د نه منلو له کبله د پوليسو لخوا په جـرم مـتهم کړل شي؟

**مباحثه:**

دغه پوښتنې ستونزمنې دي، ځکه اساسي قـانون پـه صراحت سره ندي بيان کړي چې آيا ستره محکمه صلاحيت لري چې هغه قانون چې پـه سـمه توګـه تصويب شويدي، پدې بنسټ چې د اساسـي قـانون سره په ټکر کې ديي، باطل کړي.

لکه څرنګه چې پوهيږو تر ټولـو نـږدې حکـم ۱۲۱ ماده ده چې بيانوي ((د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين الدول معاهداتو او نړيوالو ميثاقونو د سمون څېړنه د اساسـي قـانون سـره او د حکومـت يـا محکمـو پـه غوښتنه د هغوي تفسير د احکام د قوانينو سـره سـم

۳۶ است يک حق اساسی اسـت ، نقـض ميگردد.

o سـتره محکمــه در ايــن مــورد از چــه صلاحيت برخوردار است؟

o آيا ستره محکمه می تواند ايـن قـانون را باطل و غيرقابل اجرا اعلان کند (کنترول و تعـادل) يـا صـرف مسـئله را بـا دادن جبران خسـاره بـه يـک شـهروند برطبـق ماده ۵۱ حل و فصل نمايد؟

• آيا پارلمـان و رئيـس جمهـور تصـميم سـتره محکمه را خواهند پذيرفت؟

• پارلمان و رئيس جمهـور چـه انتخـاب هـايی خواهند داشت؟

• آيا اوضـاع متفـاوت نخواهـد بـود اگـر يـک سـازمان دهنـده مظـاهره درخـارج از قصـر رياسـت جمهـوری دسـتگير شـود و در يـک گردهمايی بيش از ۵۰ نفر، به خاطر سرکشی ازامـر **پراگنـده شـدن** ازسـوی پـوليس مـتهم بجرم گردد؟

**مباحثه:**

اين سـوالات مشـکل انـد، زيـرا قـانون اساسـی بـه صراحت بيان نکرده است کـه آيـا سـتره محکمـه صلاحيت دارد تا قـانونی را کـه بـه طـور درسـت تصـويب شـده اسـت، برمبنـای ايـن کـه مغـاير بـا احکام قانون اساسی است باطل کند.

طوريکه می دانيم نزديک ترين حکـم، مـاده ۱۲۱ است، که ، بيان می کند ″ بررسی مطابقت قوانين، فرامين تقنينی، معاهدات بين الـدول و ميثـاق هـای بين المللی با قانون اساسی و تفسـير آنهـا براسـاس تقاضای حکومت و يا محـاکم، مطـابق بـه احکـام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستړې محکمې صلاحيت دی)).

د (( د محکمو په غوښتنه)) څه معني لري؟

آيا په هغه فرضي سناريو کې چې پرې بحث وشو، د اساسي قانون سره د تصويب شوي قانون مغايرت کېداي شي د ۱۲۱ مادې په اساس د محکمو لخوا ستړې محکمې ته د غوښتنې موضوع شي؟

که ټول موافق شو چې په فرضي سناريو کې د نظر وړ قانون، په څرګنده د اساسي قانون ۳۶ ماده نقضوي، پدې حالت کې که ستره محکمه ونشي کولای د خپل حکم په صادرولو سره د دغه شان قانون د تطبيق مخه ونيسي، آيا ستره محکمه کولای شي د اساسي قانون سره د مغايرو قوانينو د مخنيوي په اړه پر مقننه څواک اغېزناک کنټرول ولري؟

په بله وينا، آيا محکمه کولای شي مخکينو عطف وړ دوه ډوله زيانونو د کموالي حکم وکړي- ( د مخکينيو زيانونو جبران) او په راتلونکي پورې اړوند ( په راتلونکي کې د حق د عملي کولو صلاحيت) ؟

پدې سناريو کې آيا هغه شخص چې يوه مظاهره يې جوړه کړېده کولای شي محکمې ته لاړ شي او د راتلونکي لپاره د حکم غوښتنه وکړه، تر څو اجازه ورکړل شي چې د بحث شوي قانون د شتون سره سره مظاهره وشي، يا داچې مظاهره کوونکي خلک ونيول شي او د بحث وړ قانون د جنايي قضاياوو د يوې برخې په توګه له ننګونې سره مخ کړي؟

راځئ دغه پوښتنه په څو برخو ووېشو:

- آيا يو څوک کولای شي د دولت په وړاندې

قانون از صلاحيت ستره محکمه ميباشد ".

عبارت "به تقاضای محاکم" به چه معنی است؟

آيا در سناريو فرضی که روی آن بحث صورت گرفت، مغايرت قانون تصويب شده با قانون اساسی، ميتواند موضوع درخواست به ستره محکمه از طرف محاکم، براساس ماده ۱۲۱ قرار گيرد؟

اگر همه ما موافقت داشته باشيم که قانون مورد نظر در سناريوفرضی، واضحاً ماده ۳۶ قانون اساسی را نقض می کند، دراين حالت اگر ستره محکمه نتواند با اصدار حکم خويش مانع تطبيق اين قانون گردد، آيا ستره محکمه می تواند ازداشتن کنترول مؤثر در مورد ممانعت قوه مقننه از اتخاذ قوانين مغاير باقانون اساسی مستفيد باشد؟

به عبارت ديگر، آيا محکمه می تواند به دو نوع کاهش ضررقابل عطف به ماسبق حکم نمايد – (جبران خساره بسبب خسارات قبلی) و مرتبط به آينده (صلاحيت اعمال حق در آينده)؟

در اين سناريو، آيا شخصی که سازماندهنده يک مظاهره است می تواند به محکمه رفته و خواستار حکمی برای آينده گردد، تا اجازه داده شود که مظاهره ای علی رغم موجوديت قانون بحث شده، انجام گيرد، يا اينکه مردم مظاهره کننده، دستگير شوند، و قانون مورد بحث را بعنوان بخشی از قضايای جنايی خود به چالش کشند؟

بياييد اين سوال را به چند بخش تقسيم کنيم:

- آيا يک شخص می تواند يک دعوی را عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوي پيل کړي؟

- ۱۲۰ ماده په خپله يوه برخه کې بيانوي چې ستره محکمه بايد د هغه دعواګانو په اړه چې دولت پکې مدعي عليه دی، غور وکړي.
- آيا ۱۲۰ ماده د يوه شخص لپاره پر دولت د دعوي د اقامې لپاره کافي ده؟
- پدې سناريو کې هغه شخص چې د مظاهرې مشري کوي، د چا په وړاندې به دعوي وکړي؟
- که ستره محکمه هغه قانون د اساسي قانون سره مغاير او غير قابل الاجراء اعلان کړي، آيا دولت د هغه متابعت ته اړ دی.
- ۷۵ ماده ۱ پره ګراف بيانوي چې دولت مکلف دی چې د اساسي قانون، نورو قوانينو حکمونه او د محکمو وروستنی پرېکړې پلې کړي.
- آيا دغه ماده مطرح شوې پوښتنې ته ځواب ورکوي؟

آيا نتيجه به توپير ولري که چېرې د يوه موضوعه قانون په ځاي د مظاهرې ممانعت ، د کورنيو چارو وزارت لخوا د رامنځته شوي يوې مقررې څخه سرچينه اخيستې وي؟

- د ۷٦ مادې په بنسټ دولت کولاي شي د کړنلارې د اساسي کرښو د پلي کولو لپاره مقررې پدې شرط تصويب کړي چې د هيڅ يوه تصويب شوي قانون له متن يا روحيې سره مغاير نه وي.
- آيا دا پدې معني نده چې همدارنګه دغه شان

دولت آغاز نمايد؟

- ماده ۱۲۰ در بخشی از خود بيان می دارد که ستره محکمه بايد به دعاوی که دولت در آنها مدعی عليه است، رسيدگی نمايد.
- آيا ماده ۱۲۰ جهت اعطای حق اقامه دعوی عليه حکومت به يک شخص کافی است؟
- در اين سناريو، شخصی که مظاهره را سازماندهی کرده است عليه چه کسی اقامه دعوی خواهد کرد؟
- اگر ستره محکمه آن قانون را مغاير با قانون اساسی و غيرقابل تطبيق اعلان نمايد، آيا دولت مجبور به متابعت از آن خواهد بود؟
- ماده ۷۵، پاراگراف ۱، بيان می دارد که دولت مکلف است که احکام قانون اساسی، ديگر قوانين، و تصميم نهايی محاکم را تعميل نمايد.
- آيا اين ماده به سوال مطرح شده پاسخ می دهد؟

آيا نتيجه متفاوت خواهد بود اگر به جای يک قانون موضوعه، ممانعت عليه مظاهره از يک مقرره ايجاد شده از سوی وزارت داخله منشاء گرفته باشد ؟

- برطبق ماده ۷٦، دولت می تواند مقرره هايی را بمنظور اجرای خطوط اساسی خط مشی، بشرطی تصويب نمايد که مغاير با متن يا روحيه هيچ يک از قوانين تصويب شده نباشد.
- آيا اين بدان معنی نيست که همچنان چنين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقررې نشي کېداي چې د اساسي قانون مغايرې وي؟

- د مظاهرې جوړوونکی د چا په وړاندې دعوي کوي؟

- آيا ستره محکمه د ۱۲۱ مادې سره سم صلاحيت لري چې اعلان کړي چې دغه مقرره د اساسي قانون سره مغايره ده، سره لدې چې ۱۲۱ مادې مقررو ته اشاره نده کړې.

مختلف کنوانسيونونه او ميثاقونه چې مو لنډه کتنه پرې وکړه، دغه اساسي اصل تاييدوي چې يو حق د هغه د نقض له کبله د زيان د جبران څخه پرته غير واقعي حق دی يا داسې يو حق دی چې کم ارزښت لري.

آيا يو څوک تصور کولاي شي چې د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون ته شکايت کېداي شي د زيان د يوه مناسب جبران باعث شي؟

**دوهمه سناريو:**

راځئ فرض کړو چې د دولتي سرچينو د کمښت له کبله د بېوزله متهمينو لپاره دولت نشي کولاي چې په محکمه کې د هغوي د استازيتوب لپاره مدافع وکيل چمتو کړي، او دوي د محکمې لخوا محکومېږي او محبس ته لېږل کېږي.

- ستونزه څه ده ( ۳۱ ماده)؟

- محکوم شخص څه کولاي شي ( د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون ته شکايت؛ د استيناف غوښتنه)؟

- راځئ فرض کړو چې ياده شوې قضيه بلآخره د سترې محکمې په فيصله پاي ته رسېږي او ستره محکمه پرېکړه کوي چې

مقـرره هـا نميتواننـد مغـاير بـا قـانون اساسـی باشند؟

- سازماندهنده مظاهره برعليـه چـه کسـی اقامـه دعوی خواهد کرد؟

- آيا ستره محکمه بر طبق ماده ۱۲۱ صـلاحيت دارد اعلان نمايد که اين مقرره مغاير با قانون اساسی است علی رغـم اينکـه مـاده ۱۲۱ بـه مقرره ها اشاره نکرده است؟

کنوانسيونها و ميثاقهـايی متعـددی کـه مـا بـه آنهـا نظرانداختيم، اين اصل اساسی را تأييد ميدارند که يک حق بدون جبران خساره به خـاطر نقـض آن، حق غيرواقعی بوده و يا حقيست کـه دارای ارزش کم ميباشد.

آيـا کسـی ميتوانـد تصـور کنـد کـه شـکايت بـه کميسيون مستقل حقوق بشر، می تواند باعث يک جبران خساره مناسب گردد؟

**سناريوی دوم:**

بياييد تصور کنيم به خـاطر کمبـود منـابع دولتـی، برای متهمين بی بضـاعت، دولـت نميتوانـد وکيـل مدافع جهت نمايندگی از ايشان در محکمه فراهم نمايد، و آنها توسط محکمه محکوم گرديده و به محبس فرستاده می شوند.

- مشکل در اينجا چيست (ماده ۳۱)؟

- شخص محکوم چه ميتواند بکند (شکايت بـه کميسـيون مسـتقل حقـوق بشـر؛ درخواست استيناف)؟

- بياييـد تصـور کنـيم کـه قضـيه مـذکور سـرانـجام بـه فيصـله ستره محکمـه خاتمه مـی يابـد و سـتره محکمـه تصـميم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم باید لغو شي، ځکه متهم د مدافع وکیل د درلودلو په برخه کې د مدافع وکیل د درلودلو له اساسي حق څخه محروم کړل شویدی.

- آیا د ستري محکمې پرېکړه د محبس دننه اشخاصو په اړه هم پلې کېږي یا یوازې د هغه متهم په اړه تطبیقېږي چې تمیز طلب وي؟
- آیـا دلته د قضـایي سلـوك تیوري شـته؟
- آیا دغه محکمه کولاي شي عدلیه وزارت ته امر وکړي چې په راتلونکي کې د متهمینو لپاره مدافع وکیل پیدا کړي.
- ولې؟ ولې نه؟

**مباحثه:**

آیا ستره محکمه کولاي شي اجرائیه څواك ته امر وکړي چې یو محبوس آزاد کړي، ځکه د هغه محکومیت غیر قانوني دی؟

که نه، آیا ستره محکمه کولاي شي محکومیت لغو کړي او قضیه د یوې نوې محاکمې لپاره ابتدائیه محکمې ته وړاندې کړي؟

او پدې حالت کې آیا ابتدائیه محکمه کولاي شي د محاکمې څخه مخکې د توقیف د پوښتنې په اړه څېړنه وکړي؟

او په بل مورد کې هغه محبوسین چې د یوه محکوم شخص په موقف کې استیناف غوښتونکي شویدي، حالت به یې څرنګه وي؟

آیا ستره محکمه کولاي شي داسې پرېکړه وکړي

میگیرد که حکم باید لغو گردد، زیرا متهم از حق اساسی خود جهت برخورداری از وکیل، محروم گردیده است.

- آیا تصمیم ستره محکمه در مورد دیگر اشخاص داخل محبس نیز تطبیق میگردد یا صرف در مورد متهمی تطبیق میگردد که تمیز طلب گردیده است؟
- آیا در اینجا تیوری رویه قضایی وجود دارد؟
- آیا این محکمه می تواند به وزارت عدلیه دستور دهد که در آینده برای متهمین وکیل مدافع فراهم نماید؟
- چرا؟ چرا نه؟

**مباحثه:**

آیا ستره محکمه می تواند به قوه اجرائیه دستور دهد که یک محبوس را آزاد کند، زیرا محکومیت وی غیرقانونی بوده است؟

اگر نه، آیا ستره محکمه می تواند محکومیت را لغو نموده و قضیه را به محکمه ابتدائیه برای یک محاکمه جدید محول نماید؟

و در این حالت، آیا محکمه ابتدائیه می تواند سوال توقیف قبل از محاکمه را مورد بررسی قرار دهد؟

در مورد دیگر محبوسینی که دقیقاً در موقف شخص محکوم استیناف طلب قرار دارند، حالت چه گونه خواهد بود؟

آیا ستره محکمه می تواند تصمیمی را اتخاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ټولو هغه محبوسينو په اړه د تطبيق وړ وي چې په ورته شرايطو کې دي، يا داچې هر محبوس شخص بايد په جلا توګه دعوي اقامه کړي؟

کومه لاره منطقي ده؟

د دغه نوې سناريو په اړه کوم نوي مسائل مطرح شويدي، چې په لومړۍ سناريو کې ندي وړاندې شوي؟

آيا ستره محکمه کولاي شي عدليې وزارت ته امر وکړي چې د مدافع وکيلانو لپاره پيسې ورکړي؟

که نه، ستره محکمه د اساسي قانون د پيروۍ او د بېوزلو متهمينو لپاره د مدافع وکيلانو د موندلو لپاره دولت او عدليې وزارت د اړ ايستلو په برخه کې کوم کار کولاي شي؟

د دغه سناريو موخه ددې ټکي القا ده چې په اساسي قانون کې د مطرح شويو اساسي حقوقو د احقاق وروستنی مسئوليت د قضائيه ځواك په غاړه دی.

نماید که قابل تطبیق در مورد تمام محبوسینی که در شرایط مشابه قرار دارند، گردد یا اینکه هر شخص محبوس باید جداگانه اقامه دعوی کند؟

کدام یک از آن شیوه ها منطقی تر میباشد؟

کدام مسائل جدید دیگری در این سناریو مطرح شده اند، که در سناریوی اول ارائه نه گردیده بودند؟

آیا ستره محکمه می تواند به وزارت عدلیه دستور دهد که برای وکلای مدافع پول پرداخت نماید؟

اگر نه، ستره محکمه چه کار موثری را می تواند جهت مجبور ساختن وزارت عدلیه و دولت برای پیروی از قانون اساسی و فراهم آوری وکلای مدافع برای متهمین فقیرانجام دهد؟

هدف این سناریوها القای این امر است که وظیفه و مسئولیت نهایی برای تضمین احقاق حقوق اساسی مطرح شده در قانون اساسی بر دوش قوه قضائیه می باشد.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**